اَلفَیضُ الکَثِیر

پشتو شرح

نَحوِ مِیر

تالیف

مولانا مُحمد اکبر حقّانی

فاضل جامعہ حقانیہ اکوڑہ خٹک

مدرسہ اِمام ابو یوسفؒ ملا یوسف چوک بونیر


Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاؤن لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاؤن لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاویٰ	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

دکتاب نوم ..... الفیض الکثیر پښتو شرح نحو میر
دمؤلف نوم ...... مولانا محمد اکبر حقانی
صفحات ۱۰۴
کال .... ربیع الاول ۱۴۳۹ھ
تعداد .... ـــــ ۱۰۰۰
کاتب .... قاری محمد بیان شانګله

دملاویدو پتے

- مکتبة الحسن ـــــ سواړی بازار بونیر
- مکتبه حبیبیه ـــــ سواړی بازار بونیر
- مکتبه صدیقیه ـــــ سواړی بازار بونیر
- مکتبة المدینه ـــــ جوړ بازار بونیر

فهرست

دمصنف مختصر حالات	۱
تعریف دعلم النحو	۲
موضوع دعلم النحو	〃
غرض دعلم النحو	〃
دلفظ تعریف	۳
دلفظ قسمونه	〃
دمستعمل اوغیرمستعمل تعریف	〃
دموضوع اودمهمل تعریف	۴
دمفرد تعریف	〃
دکلمے قسمونه	〃
داسم اودفعل تعریف	〃
دحرف تعریف	۵
دمرکب تعریف	〃
دمرکب قسمونه	〃
دمرکب مفید تعریف	〃
دجمله خبریه تعریف	〃
دجمله اسمیه اوفعلیه تعریف	۶
دجمله انشائیه تعریف	〃
دجمله انشائیه قسمونه	〃
دافعال مدح اوذم تعریف	۱۰
دمرکب غیرمفید تعریف	〃
دمرکب تقییدی تعریف	〃
دمرکب اضافی تعریف	〃
دمرکب توصیفی تعریف	۱۱
دمرکب غیرتقییدی تعریف	〃
دمرکب بنائی دمرکب صوتی اود	
مرکب منع صرف تعریفونه	〃
علامات داسم	۱۳
علامات دفعل	۱۴
داسم معرب اوداسم مبنی تعریف	〃
دمبنی الاصل اومبنی غیرالاصل تعریف	۱۵
دتمکن په اعتبارسره **داسم قسمونه**	〃
داسم متمکن اوداسم غیرمتمکن تعریف	〃
داسم غیرمتمکن قسمونه	۱۶
دمضمرات تعریف	۱۷
داسماء موصولات تعریف	۲۰
داسماء افعال تعریف	〃
داسماء اشارات تعریف	۲۱
داسماء اصوات تعریف	〃
داسماء کنایات تعریف	۲۳
داسماء ظروف تعریف	〃
دتعریف اوتنکیرپه اعتبارسره	
داسم قسمونه	۲۶
داسم معرفے تعریف	〃
داسم نکرے تعریف	۲۷
داسم معرفے قسمونه	〃

دعلم تعریف	۲۷
دمعرف باللام تعریف	//
دمعرفه په نداء تعریف	۲۸
دتذکیر او تانیث په اعتبار سره	
داسم قسمونه	//
دمذکر او مؤنث تعریف	//
علامات دتانیث	۲۹
دمؤنث حقیقی او مؤنث لفظی تعریف	//
دتعدد په اعتبار سره داسم قسمونه	//
دواحد تثنیه تعریف	//
دجمع تعریف	۳۰
دجمع مکسر او جمع سالم تعریف	//
دجمع قلت او جمع کثرت تعریف	۳۱
په اعتبار داعراب داسم غیر متمکن	
قسمونه	۳۲
دمفرد منصرف صحیح تعریف	//
مفرد منصرف جاری مجری صحیح	۳۳
دجمع مکسر منصرف تعریف	//
دجمع مؤنث سالم تعریف	۳۴
دمنصرف تعریف	//
دغیر منصرف تعریف	۳۵
دمنع صرف اسباب	//
دعدل تعریف	//
دوصف تعریف	۳۶
دتانیث تعریف	۳۷
دعجمه تعریف	۳۸
دالف نون زایدتان تعریف	۳۹
دوزن فعل تعریف	۴۰
داسماء ستة مکبره تعریف	//
اعراب بالحرکت اعراب بالحرف	//
تثنیه حقیقی	۴۲
تثنیه صوری او تثنیه معنوی	۴۳
جمع حقیقی	//
جمع صوری او جمع معنوی	۴۴
داسم مقصور تعریف	//
داسم منقوص تعریف	۴۵
داعراب لفظی تعریف	۴۶
داعراب تقدیری تعریف	۴۷
دفعل مضارع قسمونه	۴۹
دصحیح او دمعتل تعریف	//
دعامل لفظی او معنوی تعریف	۵۱
دحروف جارۀ تعریف	۵۲
دحروف مشبه بالفعل تعریف	۵۳
دماولا المشبهتان بلیس تعریف	۵۴
دلاء نفی جنس تعریف	۵۵
دحروف نداء تعریف	۵۷
دفعل قسمونه	۶۳
دفعل غیر متصرف او دمتصرف تعریف	//

د فعل معروف، فعل مجهول		خاتمه، د توابع تعریف	٨٠
فعل لازم، فعل متعدی تعریفونه	٦٢	**د توابع قسمونه**	٨١
د مرفوعاتو قسمونه	٦٣	د صفت تعریف	//
فاعل، مفعول مالم یُسَمَّ فاعلهٗ	//	د تاکید تعریف	٨٢
فرق په فاعل او اسم فاعل کښ	٦٤	د بدل تعریف	٨٣
د منصوباتو قسمونه	٦٥	عطف بالحرف، عطف بیان	٨٤
مفعول مطلق، مفعول بهٖ،		**حروف غیر عامله**	٨٦
مفعول فیهِ	//	حروف تنبیه، حروف ایجاب	//
مفعول معهٗ، مفعول لهٗ،		حروف تفسیر	٨٧
حال،	٦٦	حروف مصدریه، حروف تحضیض، حروف توقع	٨٨
د تمیز تعریف	٦٧	حروف استفهام، حروف ردع، نون تنوین	٨٩
داسم ظاهر او اسم ضمیر تعریف	٦٨	**د تنوین قسمونه**	//
د فعل متعدی قسمونه	٧٠	تمکّن، تنکیر، عوض	//
افعال تامّه، افعال ناقصه	٧١	تنوین مقابله، تنوین ترنم	٩٠
افعال مقاربه	٧٢	حروف زیادت، حروف شرط، لَوْلَا،	//
افعال تعجب	٧٣	لام مفتوحه، مَا، حروف عاطفه	٩١
د اسماء عامله قسمونه	//	**بحث مستثنیٰ** د مستثنیٰ تعریف	٩٢
د اسماء شرطیه تعریف	//	مستثنیٰ متصل، مستثنیٰ منقطع،	٩٣
د اسم فاعل تعریف	٧٥	مستثنیٰ مفرغ، مستثنیٰ غیر مفرغ	//
د اسم مفعول تعریف	٧٦	کلام موجب، کلام غیر موجب،	//
صفت مشبه، اسم تفضیل،		داعراب په اعتبار سره	
اسم مصدر	٧٧	**د مستثنیٰ قسمونه**	٩٤
د اسم مضاف تعریف	٧٨	دلفظ غَیْرُ اعراب	٩٥
د اسم تام تعریف	٧٩		

غرض د مؤلف

الحمد لله رب العلمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد واٰله وا[illegible]
اجمعین ومن تبعهم باحسان الیٰ یوم الدین ٥

د محترمو طلباء کرامو رونړو او قدر منولوستونکو او ددی کتاب نه ا[illegible]
کونکو په خدمت کښ عرض کوم چه دا د پښتو د نحومیر شرح ،، الفیض الکثیر[illegible]
ستاسو په لاس کښ ده دا زما د هغه درسونو مجموعه ده کوم چه زما شاګردا[illegible]
سالانه دورهٔ نحو وصرف په دوران کښ لیکلی وو، د هغوی دا خواهش وو چه د[illegible]
چاپ شی، ولې زما نیت نه وو ځکه چه په پښتو ژبه کښ د نحومیر نور هم ډیر ش[illegible]
موجود دی خو هغوی هم اصرار کوو او د مدرسې نورو مدرسینو ملګرو او و[illegible]
چه که دا تقریر کتابی شکل ته راشی نو فائده به ئې عامه شی نو ما هم ورته غاړه [illegible]
او د کتابت ذمه داری ئې خپل محترم مدرس رور جناب مولانا قاری محمد [illegible] بیان
حواله کړه چه تاسو ئې دوباره اولیکئ او د غلطو نشاندهی ئې ورته اوکړه ،،
زهٔ د خپلې کم علمۍ د اعتراف کولو سره سره د تحدیث بالنعمة په طور عرض[illegible]
کوم چه دا شرح به انشاء الله طلباء کرامو ته صرف په نحومیر کښ نه بلکه په[illegible]
هدایة النحو او ددینه مابعد د نحوی نورو کتابونو کښ هم پوره فائده ورکوی ،،
په آخر کښ زهٔ دا دعا کوم چه الله دې زمونږ ټولو ته، علم، عمل، او استقامت
نصیب کړی او محترم محمد بیان صاحب او نورو طلباء کرامو چه کوم محنت کړې
دے، دا دی د ټولو لوستونکو د پاره نفع بخش اوګرځوی ،، آمین ،،
د قارئینو او کتونکو نه د دعا خواست ګار یم : والسلام :

خادم العلم والعلماء، محمد اکبر حقانی مدرسه امام ابو یوسف
ملا یوسف چوک بونیر

ربیع الاول ١٤٢٩ ھ

د مصنف مختصر حالات

د مصنف نوم علی دے او د پلار نوم ئے محمّد دے او د نیکهٔ نوم ئے علی دے، نو سلسله د نسب داشوه علی بن محمّد بن علی ،،

د نسب په لحاظ سره دے سیّد وو، د دی وجې نه دهٔ ته سیّد شریف او سیّد سند و ئیلے شی، او میر صاحب ورته هم وئیلے شی، او د دی په مناسبت سره ددهٔ بعض کتابونه هم مشهور دی، لکه نحومیر، صرف میر، میرقطبی، میرایساغوجی، وغیره ،،

د پیدائش تاریخ په جُرجان کښ د شعبان المعظم په میاشت کښ په ۷۴۰ هجرئی کښ پیدا شوے وو، د دی وجې نه دهٔ ته جُرجانی وئیلے شی، او دے په شیراز کښ اوسیدلو، دهٔ د اوچتو عالمانو نه نقلی او عقلی علوم حاصل کړل، علمی قابلیت ورته الله تعالیٰ د ومره زیات ورکړے وو چه په ځوانئ کښ د پنځوستو نه زیات کتابونه په مختلفو علومو کښ په عربئ او فارسئ کښ لیکلی وو، د قرآن ترجمه په فارسئ کښ د ټولو نه اول د دی لیکلې ده ،،

د وفات تاریخ په شپږم ربیع الاوّل ۸۱۶ هجرئی کښ دے وفات شوے وو، نو ټول عمر ئے ۷۵ کاله ۷ میاشتی او ۱۴ ورځی وو ـ

مولانا محمد اکبر حقانی

مدرسه امام ابو یوسف

ملا یوسف چوک بونیر ؟

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ٥

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَبْدَعَ الْاَفْلَاكَ وَالْاَرَضِيْنَ ٥ وَالص
عَلٰى مَنْ كَانَ نَبِيًّا وَّاٰدَمُ بَيْنَ الْمَاءِ وَالطِّيْنِ ٥
اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ٥ وبعد!

دهرعلم نه مخکښ دیو څو خبرو پیژندل ضروری دی

① تعریف دعلم ② موضوع دعلم ③ غرض دعلم ؛

① تعریف دعلم ځکه پیژندل ضروری دی کچرے تعریف دعلم او
پیژندلے شی نو دابه طلب د مجهول شی اودا صحیح نه ده ۔

② موضوع دعلم ځکه پیژندل ضروری دی چه جدا اوالے راشی دعل
مشروع دعلم غیر مشروع نه ۔

③ غرض دعلم ځکه پیژندل ضروری دی چه د طالبعلم سعے او
کوشش بے فائدے نه شی ۔

تعریف دعلم النحو — هُوَ عِلْمٌ بِاُصُوْلٍ يُعْرَفُ بِهَا اَحْوَالُ اَوَاخِرِ
الْكَلِمِ الثَّلٰثِ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ وَكَيْفِيَّةُ تَرْكِيْبِ بَعْضِهَا مَعَ بَعْضٍ

داهغه علم دے چه مشتمل دے په قواعدو باندے چه پیژندلے
کیږی په دی قواعدو سره حالات د آخر د درےو کلمو د حیثیت د معرب
والی اودمبنی والی نه ، اوطریقه د جوړولو دبعضے کلماتو دبعضو
سره ۔

موضوع دعلم النحو — اَلْكَلِمَةُ وَالْكَلَامُ مِنْ حَيْثُ الْاِعْرَابِ وَالْبِنَاءِ ،

کلمه اوکلام د حیثیت د معرب والی اودمبنی والی نه ۔

غرض دعلم النحو — صِيَانَةُ الذِّهْنِ عَنِ الْخَطَاءِ اللَّفْظِيِّ فِيْ
كَلَامِ الْعَرَبِ ،

محفوظ کیدل د ذهن دی د خطاء لفظی نه په کلام دعرب کښ ۔

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ٥

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ٥ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ٥ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ اَجْمَعِيْنَ ٥ اَمَّا بَعْدُ !

ترجمہ هرحمد په هره زمانه کښ دهرحامد نه ثابت د ے خاص الله لره ، دا سے الله چه پالو نکے د تمام مخلوقات د ے ، اوخاتسته انجام ثابت د ے پرهیزګارانو لره ، اونزول د رحمت کامله د ے وی اوسلامتیا د ے وی په غوره د مخلوق باند ے چه محمد صلی الله علیه وسلم د ے ، اوپه آل دهغهٔ باند ے ، په ټولو باند ے ـ

فصل بدانکه لفظ مستعمل درسخن عرب بردوقسم است ، تا فصل آخر ،،

دفصل تعریف دفصل لغوی معنیٰ ده کټ کول ،،

دفصل اصطلاحی معنیٰ ده ددوؤ حکمونو په مینځ کښ جدائی کول ـ

دنحوابتداء

نحوشروع کیږی د **لفظ** نه ـ

دلفظ تعریف دلفظ لغوی معنیٰ ده غورزول ، ځکه چه دعربو مقوله ده اَكَلْتُ التَّمْرَةَ وَلَفَظْتُ النَّوَاةَ ،

دلفظ اصطلاحی معنیٰ : مَايَتَلَفَّظُ بِهِ الْاِنْسَانُ ، لفظ هرهغه څیزته وائی چه په هغی باند ے انسان تلفظ کولے شی ـ

لفظ بیا په دوه قسمه د ے

① مستعمل ② غیرمستعمل

① دمستعمل لغوی معنیٰ ده استعمال کړ ے شو ے ،

دمستعمل اصطلاحی معنیٰ ، مستعمل په اصطلاح کښ هغی لفظ ته وائی چه یوی ژبے والا په خپله ژبه کښ استعمال کړے وی ـ

② دغیر مستعمل لغوی معنیٰ ده چه نه وی استعمال کړ ے شو ے ،

دغیر مستعمل اصطلاحی معنیٰ ، هغی لفظ ته وائی چه یوی ژبے والا

په خپله ژبه کښې نه وي استعمال کړے۔

مستعمل بیا په دوه قسمه دے

① موضوع ② مهمل

① د موضوع لغوی معنی ده مقرر کړے شوے او وضع کړے شوے،
د موضوع اصطلاحی معنی، موضوع هر هغه لفظ ته وائی چه معنی لري
نه ید۔

② د مهمل لغوی معنی ده ترک کړے شوے او پریښود لے شوے،
د مهمل اصطلاحی معنی، مهمل هر هغه لفظ ته وائی چه معنی نه لري
لکه دیز۔

لفظ موضوع په دوه قسمه دے

① مفرد ② مرکب

① مفرد د باب افعال نه د اسم مفعول صیغه ده لغوی معنی ئے ده یو
کړے شوے،
د مفرد اصطلاحی معنی، مفرد هغه یو لفظ ته وائی چه په یوه معنی
دلالت کوی، مفرد ته کلمه هم وائی۔

کلمه په درې قسمه ده

① اسم ② فعل ③ حرف

① اسم، د اسم لغوی معنی ده بلندی، او چتوالے،
د اسم اصطلاحی معنی، اسم هغې کلمې ته وائی چه په خپله معنی کښې
مستقل وي او په دریو زمانو کښې ئے د یوې زمانې سره هم تعلق نه وي
لکه رَجُلٌ، او فَرَسٌ۔

② فعل، د فعل لغوی معنی ده حدث، او کار،
د فعل اصطلاحی معنی، فعل هر هغې کلمې ته وائی چه په خپله معنی کښې
مستقل وي او په دریو زمانو کښې ئے د یوې زمانې سره

جمله خبریه په دوه قسمه ده

① جمله اسمیه ② جمله فعلیه

① جمله اسمیه، هغې جملې ته وائي چه دهغې پرومبنې جزء اسم وی، لکه زَيْدٌ قَائِمٌ۔

پرومبنی جزء ته ئې مسندٌ الیه هم وائي، او مبتدإ ورته هم وائي، او محکومٌ علیه ورته هم وائي، او مشهور نوم ئې مبتداء دے،

دویم جزء ته ئې مسند، مسندبه، مخبر، مخبربه، محکم، محکم به وائي، او مشهور نوم ئې خبر دے۔

② جمله فعلیه، هغې جملې ته وائي چه دهغې پرومبنې جزء فعل وی، لکه ضَرَبَ زَيْدٌ۔

اددی پرومبنی جزء ته فعل هم وائي، او مسندهم وائي، او مشهور نوم ئې فعل دے،

دویم جزء ته ئې فاعل هم وائي، او مسندٌ الیه هم وائي، او مشهور نوم ئې فاعل دے۔

مسند او مسندٌ الیه څۀ ته وائي؟

چه کله دیوی کلمې نسبت او اسناد بلې کلمې ته اوشي چه دکومې کلمې نسبت اوشي نوهغې ته مسندوائي اوکومې کلمې ته چه نسبت اوکړے شي هغې ته مسندٌ الیه وائي، لکه په زَيْدٌ قَائِمٌ کښ د قیام نسبت زید ته شوے دے نو قیام مسند شواوزید مسندٌ الیه شو۔

مسندٌ الیه اکثر ذات وی او مسند اکثر صفت وی۔

اسم هم مسند راتلے شي اوهم مسندٌ الیه راتلے شي، اوفعل مسند راتلے شي مسندٌ الیه نه شي راتلے، اوحرف نه مسند راتلے شي اونۀ مسندٌ الیه۔

کلام او جمله چه جوړیږی نو د مسند او مسندٌ الیه نه جوړیږی۔

په کلام کښې عقلاً شپږ احتمالات دی

① دوه اسمونه به وی ② دوه فعلونه به وی ③ دوه حرفونه به وی ④ یو اسم او یو فعل به وی ⑤ یو اسم او یو حرف به وی ⑥ یو فعل او یو حرف به وی ،

او صحیح کیږی پکښې صرف دوه صورتونه ① یو اسم او یو فعل ، ② او دوه اسمونه ،،

ځکه چه کلام جوړیږی د مسند او مسندٌ الیه نه ، او مسند او مسندٌ الیه صرف په دی دوؤ صورتونو کښې موجودیږی ۔

د مرکب مفید د پاره صورتونه

چه دوه اسمونه راشی نو هغی ته هم مرکب مفید وائی ، او چه یو اسم او یو فعل راشی نو هغی ته هم مرکب مفید وائی ۔

د مرکب غیر مفید د پاره صورتونه

د مرکب مفید د دوؤ صورتونو نه علاوه باقی ټول صورتونه د مرکب غیر مفید دی ۔

---

② جمله انشائیه ، هغی جملی ته وائی چه د هغی ویونکی ته د صدق او کذب نسبت نه شی کیدے ، ځکه چه د انشاء معنی ده نوے څیز پیدا کول ، او چه نوے څهٔ څیز پیدا کیږی نو په هغی کښې احتمال د صدق او کذب نه وی ، او په جمله خبریه کښې احتمال د صدق او کذب ددی وجے نه موجود وی چه په هغی کښې د تیرې شوی واقعی خبر ورکوی نو په هغی کښې د صدق او کذب احتمال وی ۔

جمله انشائیه په لس قسمه ده

① امر ② نهی ③ استفهام ④ تمنیٰ ⑤ ترجّی ⑥ عقود ⑦ نداء ⑧ عرض ⑨ قسم ⑩ تعجّب ۔ ÷ ۔

① امر ، دامر لغوی معنی ده حکم کول ،
دامر اصطلاحی معنی ، په اصطلاح کښ جمله امریه هغی جملی ته وائی چه په هغی کښ متکلم د مخاطب نه دیو کار کولو مطالبه اوکړی ، لکه اِضْرِبْ
② نهی ، دنهی لغوی معنی ده منع کول ،
دنهی اصطلاحی معنی ، په اصطلاح کښ جمله منهیه هغی جملی ته وائی چه په هغی کښ متکلم د مخاطب نه دیو کار دنهٔ کولو مطالبه اوکړی لکه لَاتَضْرِبْ ـ
③ استفهام ، داستفهام لغوی معنی ده طلب دپوهی ،
داستفهام اصطلاحی معنی ، په اصطلاح کښ جمله استفهامیه هغی جملی ته وائی چه په هغی کښ متکلم د مخاطب نه د څان پوهه کولو مطالبه اوکړی ، لکه هَلْ ضَرَبَ زَيْدٌ ـ
④ تمنی ، دتمنی لغوی معنی ده آرزو ،
دتمنی اصطلاحی معنی ، په اصطلاح کښ جمله تمنّیه هغی جملی ته وائی چه په هغی کښ متکلم دخپلی آرزو اظهار اوکړی ، لکه لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ
⑤ ترجّی ، دترجّی لغوی معنی ده اُمید ،
دترجّی اصطلاحی معنی ، په اصطلاح کښ جمله ترجّیه هغی جملی ته وائی چه په هغی کښ متکلم د خپل امید اظهار اوکړی ، لکه لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ ـ

(په تمنیٰ اوپه ترجّی کښ فرق)

ړومبئ فرق ، تمنی په افعال ممکنۀ اوپه غیر ممکنۀ دواړو کښ راځی ، د ممکنۀ مثال ، لَيْتَ زَيْدًا حَاضِرٌ ، دغیر ممکنۀ مثال ، لَيْتَ الشَّبَابَ يَعُوْدُ ، اوترجّی صرف په افعال ممکنۀ کښ راځی اوپه غیر ممکنۀ کښ نه راځی لکه لَعَلَّ عَمْرًا غَائِبٌ ـ

دویم فرق ، ترجّی په افعال پسندیده اوغیر پسندیده دواړو کښ راځی ، لکه لَعَلَّ السُّلْطَانَ يَقْتُلُنِيْ ، اوتمنّی صرف په افعال پسندیدو کښ

راځي ـ

⑥ عقود ، جمع د عقد ده ، د عقد لغوي معنیٰ ده غوټه ،
د عقد اصطلاحي معنیٰ ، په اصطلاح کښې جمله عقوديه هغې جملې ته وائي چه د هغې تعلق د يو معاملې سره وي ، لکه بِعْتُ وَاِشْتَرَيْتُ ، د انشاء ده په وخت د بيع کښې ـ

⑦ نِدَاء ، د نداء لغوي معنیٰ ده آواز ،
د نِداء اصطلاحي معنیٰ ، په اصطلاح کښې جمله ندائيه هغې جملې ته وائي چه په هغې کښې متکلم مخاطب ځان ته متوجه کړي ، لکه يَا رَجُلُ ، او يَا زَيْدُ ـ

⑧ عرض ، د عرض لغوي معنیٰ ده پيش کول ،
د عرض اصطلاحي معنیٰ ، په اصطلاح کښې جمله عرضيه هغې جملې ته وائي چه په هغې کښې متکلم مخاطب لره په يو خبره باندې رابرانګيخته کړي ، او راوېپاروي ، لکه اَلَا تَنْزِلُ بِنَا فَتُصِيْبَ خَيْرًا ـ

⑨ قسم ، د قسم لغوي معنیٰ ده تاکيد ،
د قسم اصطلاحي معنیٰ ، په اصطلاح کښې جمله قسميه هغې جملې ته وائي چه په هغې کښې متکلم د الله په نوم مبارک باندې په يو کار باندې قسم اوخوري ، لکه وَاللهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا ـ

⑩ تعجّب ، د تعجب لغوي معنیٰ ده حيرانتيا ،
د تعجب اصطلاحي معنیٰ ، په اصطلاح کښې جمله تعجّبيه هغې جملې ته وائي چه په هغې کښې متکلم د خپلې حيرانتيا اظهار اوکړي ، لکه مَا اَحْسَنَهٗ وَاَحْسِنْ بِهٖ ـ

افعال مدح وذم او جمله دعائيه ، دا ټول واړه هم په جمله انشائيه کښې داخل دي ـ

دافعال مدح تعریف افعال مدح هغې افعالوته وئیلے شي چه په هغې سره دیوکس ښه والے ظاهرکړے شي، لکه نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ ـ

دافعال ذم تعریف افعال ذم هغې افعالوته وئیلے شي چه په هغې سره دیوکس بدوالے ظاهرکړے شي، لکه بِئْسَ الرَّجُلُ خُنَیْنِیٌّ ـ

دجمله دعائیه تعریف جمله دعائیه هغې جملې ته وئیلے شي چه هغې په شروع کښ دعالفظ راغلے وی، لکه رَحِمَهُ اللّٰهُ

فائده جمله خبریه ته جمله خبریه ځکه وائی چه دا مشتمله ده په خبرباندے،

جمله انشائیه ته جمله انشائیه ځکه وائی چه دا مشتمله ده په انشاء باندے ـ

فصل بدانکه مرکب غیرمفید آن است، تا فصل آخر،،

② د مرکب غیرمفید لغوی معنیٰ ده فائده نه ورکونکے،

دمرکب غیرمفید اصطلاحی معنیٰ، په اصطلاح کښ هغه مرکب ته وائی چه کله ویونکے غلے شی اوخبره ختم کړی نواوریدونکی ته څهٔ خبر یاطلب معلوم نه شی ـ

مرکب غیرمفید په دوه قسمه دے

① مرکب تقییدی ② مرکب غیرتقییدی

① مرکب تقییدی هغه مرکب ته وائی چه دویم جزء داول جزء دپاره قید وی، د قید مطلب داد ے چه دا اول جزء به عام وی خود دویم جزء دوجے نه به خاص شی ـ

مرکب تقییدی په دوه قسمه دے

① مرکب اضافی ② مرکب توصیفی

① مرکب اضافی هغه مرکب ته وائی چه د مضاف او د مضافٌ الیه دَ میلاویدو نه جوړ شوے وی، لکه غُلَامُ زَیْدٍ ـ

② مرکب توصیفي هغه مرکب ته وائي چه د موصوف او د صفت د میلاو
جوړ شوے وي، لکه رَجُلٌ عَالِمٌ۔
③ مرکب غیر تقییدي هغه مرکب ته وائي چه په هغې کښ دویم جزء
اول جزء دپاره قید نه وي۔

مرکب غیر تقییدي په درې قسمه دے

① مرکب بنائي ② مرکب صوتي ③ مرکب منع صرف

① مرکب بنائي هغه مرکب ته وائي چه د دوؤ اسمونو د یوځائے کیدلو
جوړ شوے وي او دادویم اسم متضمن وي حرف لره، لکه اَحَدَ عَشَرَ چه
په اصل کښ اَحَدٌ وَّعَشَرٌ وو، نو واؤ ئے ترې حذف کړو نو اَحَدَ عَشَرَ شو
② مرکب صوتي هغه مرکب ته وائي چه د دوؤ اسمونو د یوځائے کیدلو
جوړ شوے وي او دادویم اسم آواز وي، لکه سَیْبَوَیْهِ، نو دا دوه اسمونه
دي یو اسم سَیْبَ دے او دویم اسم وَیْهِ دے۔
③ مرکب منع صرف هغه مرکب ته وائي چه د دوؤ اسمونو نه جوړ شوے
وي او دادویم اسم به متضمن نه وي حرف لره، او نۀ به آواز وي، لکه
بَعْلَبَكُّ، نو بَعَلْ د بت نوم دے بَكُّ د بنار د بادشاه نوم دے نو دا دواړه
ئے یوځائے کړل او د یو بنار نوم ئے ترینه اوګرځو۔

د مرکب اضافي حکم د مرکب اضافي حکم دا دے چه مضاف الیه به
همیشه مجرور وي او مضاف به د عامل مطابق راځي، که عامل د رفع وي
نو په دۀ به رفع راځي، لکه جَاءَ غُلَامُ زَيْدٍ، او که عامل د نصب وي نو
په دۀ به نصب راځي، لکه رَأَيْتُ غُلَامَ زَيْدٍ، او که عامل د جر وي نو په
دۀ به جر راځي، لکه مَرَرْتُ بِغُلَامِ زَيْدٍ۔

د مرکب توصیفي حکم د مرکب توصیفي حکم دا دے چه دا په
منزله د مفرد دے یعنې د دواړو اسمونو اعراب به یو وي، او په دۀ به
اعراب د عامل مطابق راځي، کچرے عامل د رفع وي نو په دۀ به رفع

راځي، لکه جَاءَ نِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ، کۀ عامل د نصب وي نو په دۀ به نصب راځي، لکه رَأَيْتُ رَجُلًا عَالِمًا، کۀ عامل د جر وي نو په دۀ به جر راځي، لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ عَالِمٍ۔

د مرکب بنائي حکم د مرکب بنائي حکم داد ے چه دادواړه اسمونه به مبني وي په فتحې سره، د اَحَدَ عَشَرَ نه واخله د تِسْعَةَ عَشَرَ پورے، اَحَدَ ځکه مبني د ے په فتحې سره چه داپه درمیان د کلمې کښ راغلے د ے او په درمیان د کلمې کښ اعراب نه جاري کيږي نو دا ځکه مبني شو اودادويم جزء چه عَشَرَ د ے ځکه مبني د ے چه متضمن د ے حرف لره او حرف مبني وي نو دا هم مبني شو، سوا د اِثْنَا عَشَرَ د اولني جزء نه، چه اِثْنَا د ے دا معرب د ے ځکه چه د دې مشابهت راغلے د ے د تثنيې سره، او تثنيه معرب ده نو دا هم معرب شو۔

د مرکب صوتي حکم د مرکب صوتي حکم داد ے چه د دۀ اولنے جزء به مبني وي په فتحې سره، او دويم جزء به مبني وي په کسرې سره، لکه سَيْبَوَيْهِ، سَيْبَ مبني د ے په فتحې سره، او وَيْهِ مبني د ے په کسرې سره۔

د مرکب منع صرف حکم د مرکب منع صرف حکم داد ے چه د دۀ اولنے جزء به مبني وي په فتحې سره، او دويم جزء به معرب غير منصرف وي، لکه بَعْلَبَكُّ نو د معرب مطلب داد ے چه حرکات به پرې راځي، او د غير منصرف مطلب داد ے چه تنوين او کسره به پرې نه راځي، لکه جَاءَ بَعْلَبَكُّ، رَأَيْتُ بَعْلَبَكَّ، مَرَرْتُ بِبَعْلَبَكَّ۔

فصل بدانکہ ہیچ جملہ کمتر از دو کلمہ نباشد ،، تا فصل آخر ،،

مخکښې د جملې ذکر اوشو، نو اوس په دې فصل کښې مصنف وائي چه په جمله کښې کم نه کم دوه کلمې موجود یدل ضروري دي چه یوه مسند شي او بله مسندٌ الیه شي ، خو دا دواړه کلمې به یا په لفظ کښې حقیقتًا موجود وي، لکه ضَرَبَ زَیْدٌ ، یا به یوه لفظًا موجود وي او بله به تقدیرًا موجود وي، لکه اِضْرِبْ ، چه په دیکښې یوه کلمه لفظًا موجود ده چه اِضْرِبْ ده او بله تقدیرًا موجود ده چه اَنْتَ دے ،

او کله نا کله دا کلمې د دوؤنه سوا هم شي او د سوا والي د پاره څه حد نشته دے، نو چه کله کلمې د دوؤنه سوا وي نو د مسند او مسندٌ الیه د معلومولو د پاره د یو څو امورو پیژندل ضروري دي ① په کلمه کښې اسم ، فعل ، حرف معلومول ② معرب او مبني معلومول ③ عامل او معمول معلومول ④ معرفه او نکره معلومول ⑤ مذکر او مؤنث معلومول ، بیا کچرے اسم وي نو اسم متمکن په اعتبار د اعراب سره په شپاړس قسمه دے، نو دا به معلومول چه په دې کښې کوم قسم دے او کچرے فعل مضارع وي نو بیا د اعراب کوم قسم دے ؟

فصل بدانکہ علامات اسم آن است ،، تا فصل آخر ،،

علامات د اسم یولس دي

① الف لام، لکه اَلْحَمْدُ ② تنوین، لکه زَیْدٌ ③ حرف جر، لکه بِزَیْدٍ ④ مسندٌ الیه، لکه زَیْدٌ قَائِمٌ ⑤ مضاف ، لکه غُلَامُ زَیْدٍ ⑥ مُصَغَّر ، لکه رُجَیْلٌ ⑦ یائي نسبتي ، لکه بَغْدَادِيٌّ ⑧ تثنیه لکه رَجُلَانِ ⑨ جمع ، لکه رِجَالٌ ⑩ موصوف ، لکه رَجُلٌ عَالِمٌ ⑪ تاء متحرکه مُدوّره ، لکه ضَارِبَةٌ -

علامات فعل

① قَدْ، لکه قَدْ ضَرَبَ ② سِیْن، لکه سَیَضْرِبُ ③ سَوْفَ، لکه سَوْفَ یَضْرِبُ ④ حرف جازم، لکه لَمْ یَضْرِبْ ⑤ ضمیر مرفوع متصل، لکه ضَرَبْتُ ⑥ تاء ساکنه، لکه ضَرَبَتْ ⑦ امر، لکه اِضْرِبْ ⑧ نهی، لکه لَاتَضْرِبْ ⑨ ماضی، لکه ضَرَبَ ⑩ فعل مضارع، لکه یَضْرِبُ، ⑪ نون ثقیله، لکه لَیَضْرِبَنَّ ⑫ نون خفیفه، لکه لَیَضْرِبَنْ ـ ؤ

علامات حرف

دحرف دپاره ئون علامه ده چه په هغی کښ نـه علامات داسم وی او نه پکښ د فعل وی ـ ؤ

فصل بدانکہ جملہ کلماتِ عرب بردو قسم است معرب ومبنی،، تا فصل آخر

په اعتبار داعراب او دبناء سره

اسم په دوه قسمه دے

① اسم معرب ② اسم مبنی

① معرب داسم مفعول صیغه ده دباب افعال نه، لغوی معنی ئی ده، ظاهر کړے شوے :

داسم معرب اصطلاحی معنی، اَلَّذِیْ لَمْ یُشْبِهْ مَبْنِیَّ الْاَصْلِ، هر هغه اسم ته وائی چه دهغی د مبنی الاصل سره مشابهت نه وی راغلے ـ

داسم معرب حکم

دده آخر به مختلف کیږی په اختلاف د عواملو سره، لکه جَاءَ نِیْ زَیْدٌ، رَأَیْتُ زَیْدًا، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ ـ

② داسم مبنی لغوی معنی ده مضبوط کړے شوے ،

داسم مبنی اصطلاحی معنی، مَانَاسَبَ مَبْنِیَّ الْاَصْلِ، هر هغه اسم ته وائی چه د مبنی الاصل سره ئی مشابهت راغلے وی ـ

داسم مبنی حکم

داسم مبنی حکم داد ے چه ددهٔ آخر به نه مختلف کیږی په اختلا
دعواملو سره ، لکه جَآءَ هٰؤُلَآءِ ، رَأَیْتُ هٰؤُلَآءِ ، مَرَرْتُ بِهٰؤُلَآءِ ـ

فصل بدانکہ جملہ حروف مبنی ست ،، تا فصل آخر ،،

مطلق مبنی هغی ته وائی چه دهغی حرکات و سکنات دعامل دوجی نه نه وی ـ

مبنی په دوه قسمه ده

① مبنی الاصل ② مبنی غیر الاصل

① مبنی الاصل هغی ته وائی چه هغه داصل په اعتبار سره مبنی وی
یعنی هغه عربو وضع کړے مبنی وی، او دا **دری دي**
① فعل ماضی ② امر حاضر ③ ټول حروف ، اوچا وئیلے دی
چه جمله ورسره هم ده ـ
② مبنی غیر الاصل هغی ته وائی چه هغه دمبنی الاصل سره دمشابهت د
وجی نه مبنی شوی وی ـ

په اعتبار د تمکن سره اسم په دوه قسمه دے

① اسم متمکن ② اسم غیر متمکن

① اسم متمکن ، متمکن د باب تَفَعُّلْ نه دے ،لغوی معنی ئی ده (ځآے ورکونکے)؛
داسم متمکن اصطلاحی معنی ، هر هغه اسم ته وائی چه دمبنی الاصل
سره ئی مشابهت نه وی راغلے ،لکه زَیْدٌ ـ
② داسم غیر متمکن لغوی معنی ده (ځآے نه ورکونکے) ،
داسم غیر متمکن اصطلاحی معنی ، هر هغه اسم ته وائی چه دمبنی الاصل
سره ئی مشابهت راغلے وی ،لکه هٰؤُلَآءِ ـ
په افعالو کښ فعل ماضی مبنی ده ، او امر حاضر مبنی دے ، او د فعل مضارع
هغه صیغی چه په هغی کښ نون تاکید ثقیله او خفیفه راغلے وی ، یا پکښ

نون د جمع مؤنث را غلے وی نو هغه هم مبنی دی ـ

په کلام د عرب کښ دوه څیزونه معرب دی

① فعل مضارع ② اسم متمکن

① د فعل مضارع هغه صیغې چه خالی وی د نون د جمع مؤنث او د نون تاکید ثقیله او خفیفه نه ـ

② اسم متمکن معرب دے په دی شرط سره چه دا په ترکیب کښ واقع شوے وی، کچرے اسم متمکن په ترکیب کښ واقع شوے نه وی، لکه زید، نو دا ہے اسم متمکن به هم مبنی وی ـ

په کلام د عرب کښ ټول معرب دوه شول، یو فعل مضارع، او یو اسم متمکن ـ

او مبنی شپږ شول ① ټول حروف ② فعل ماضی ③ امر حاضر ④ اسم غیر متمکن ⑤ هغه فعل مضارع چه په هغې کښ نون د جمع مؤنث او نون تاکید ثقیله او خفیفه را غلے وی ⑥ هغه اسم متمکن چه په ترکیب کښ نه وی واقع شوے ـ

نو دوه څیزونه معرب شول، او شپږ څیزونه مبنی شول، او په شپږو کښ دری مبنی الاصل شول، او دری مبنی غیر الاصل شول ـ

فصل بدانکه اسم غیر متمکن هشت قسم است ،، تا فصل آخر ،،

اسم غیر متمکن په ۸ اته قسمه دے

① مضمرات ② اسماء موصولات ③ اسماء افعال ④ اسماء اشارات ⑤ اسماء اصوات ⑥ اسماء کنایات ⑦ اسماء ظروف ⑧ مرکب بنائی ـ

① مضمرات، په مضمرات کښ دری خبری پیژندل پکاردی،

① د مضمرات تعریف او دهغې تفصیل،

② د مضمرات د مبنی والی وجه،

③ نحویان د متکلم نه گردان شروع کوی او صرفیان د غائب نه شروع

کوی ، دادری خبری قابل غور دی ـ

(د مضمرات تعریف) مضمرات جمع د ضمیر او د مُضمر ده، لغوی معنی ئی ده پټ کړے شوے ،

د ضمیر اصطلاحی معنی ، اَلَّذِیْ یَدُلُّ عَلیٰ مُتَکَلِّمٍ اَوْ مُخَاطَبٍ اَوْ غَائِبٍ یعنی چه دلالت کوی په متکلم باندی یا په مخاطب باندی یا په غائب باندی ، لکه اَنَا ، اَنْتَ ، هُوَ ـ

مضمرات په پنځهٔ قسمه باندے دی

① ضمیر مرفوع متصل ② ضمیر مرفوع منفصل ③ ضمیر منصوب متصل ④ ضمیر منصوب منفصل ⑤ ضمیر مجرور متصل ؛

① ضمیر مرفوع متصل ، مرفوع دا معنی چه په ترکیب کښ فاعل واقع شوے وی ، متصل دا معنی چه دخپل عامل یعنی د فعل سره یوځائے راغلے وی ، او دا په څوارلس قسمه دے ،

ضَرَبْتُ ضَرَبْنَا ضَرَبْتَ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُمْ ضَرَبْتِ ضَرَبْتُمَا ضَرَبْتُنَّ ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوْا ضَرَبَتْ ضَرَبَتَا ضَرَبْنَ ـ

② ضمیر مرفوع منفصل ، مرفوع دا معنی چه په ترکیب کښ د فعل دپاره فاعل وی ، او منفصل دا معنی چه دخپل عامل یعنی د فعل سره یوځائے نه وی راغلے ، بلکه جدا راغلے وی ، او دا هم په څوارلس قسمه دے ،

اَنَا نَحْنُ اَنْتَ اَنْتُمَا اَنْتُمْ اَنْتِ اَنْتُمَا اَنْتُنَّ هُوَ هُمَا هُمْ هِیَ هُمَا هُنَّ ـ

③ ضمیر منصوب متصل ، منصوب دا معنی چه د فعل دپاره مفعول وی، متصل دا معنی چه دخپل عامل یعنی د فعل سره یوځائے راغلے وی ، او دا هم په څوارلس قسمه دے ،

ضَرَبَنِیْ ضَرَبَنَا ضَرَبَكَ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُمْ ضَرَبَكِ ضَرَبَكُمَا ضَرَبَكُنَّ ضَرَبَهٗ ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُمْ ضَرَبَهَا ضَرَبَهُمَا ضَرَبَهُنَّ ـ

④ ضمیر منصوب منفصل، منصوب دا معنیٰ چه د فعل د پاره مفعول وی، او منفصل دا معنیٰ چه د خپل عامل یعنی د فعل سره یوځائے نه وی راغلے، او دا هم په څوارلس قسمه دے،

اِيَّايَ اِيَّانَا اِيَّاكَ اِيَّاكُمَا اِيَّاكُمْ اِيَّاكِ اِيَّاكُمَا اِيَّاكُنَّ اِيَّاهُ اِيَّاهُمَا اِيَّاهُمْ اِيَّاهَا اِيَّاهُمَا اِيَّاهُنَّ ۔

⑤ ضمیر مجرور متصل، مجرور دا معنیٰ چه په کلام کښ مجرور وی، متصل دا معنیٰ چه د خپل عامل سره یوځائے راغلے وی، ضمیر مجرور متصل په **دوه قسمه** دے ① ضمیر مجرور بحرف جر ② ضمیر مجرور باضافت،

① ضمیر مجرور بحرف جر، هغی ته وائی چه د حرف جر د وجی نه مجرور وی، او دا هم په څوارلس قسمه دے،

لِيْ لَنَا لَكَ لَكُمَا لَكُمْ لَكِ لَكُمَا لَكُنَّ لَهٗ لَهُمَا لَهُمْ لَهَا لَهُمَا لَهُنَّ ۔

② ضمیر مجرور باضافت، هغی ته وائی چه د اضافت د وجی نه مجرور وی، او دا هم په څوارلس قسمه دے،

دَارِيْ دَارُنَا دَارُكَ دَارُكُمَا دَارُكُمْ دَارُكِ دَارُكُمَا دَارُكُنَّ دَارُهٗ دَارُهُمَا دَارُهُمْ دَارُهَا دَارُهُمَا دَارُهُنَّ ۔

② د مضمرات د مبنی والی وجه: دا مضمرات مشابه دی د حرف سره، یعنی څنګه چه حرف په خپله معنیٰ ورکولو کښ بلی کلمی ته محتاجه وی نو د غه شان مضمرات هم په خپله معنیٰ ورکولو کښ محتاج وی مرجع ته، او حروف مبنی دی نو دا هم مبنی شول ۔

③ دریمه خبره چه نحویان د متکلم نه ګردان شروع کوی او صرفیان د غائب: نحویان د متکلم نه ګردان د دی وجی نه شروع کوی چه د نحویانو کار د معرفی او نکری سره وی، او اَعْرَفُ الْمَعَارِفُ ضمیر د متکلم دے یعنی د ټولونه اوچته معرفه ضمیر د متکلم دے ۔

او صرفیان دغائب نه ددی وجې نه شروع کوی چه ددوی کار دګردان سره وی، او په ګردان کښ اصل غائب وی ـ

④ اسماء موصولات، په اسماء موصولات کښ درې خبرې پیژندل ضروری دی ① داسماء موصولات تفصیل ② داسم موصول او دصلی ترکیب ③ داسماء موصولات دمبنی والی وجه ـ

① داسماء موصولات تفصیل اَلَّذِیْ، دواحد مذکر دپاره راځی، اَلَّذَانِ دتثنیه مذکر دپاره راځی په حالت رفعی کښ، اَلَّذَیْنِ دتثنیه مذکر دپاره راځی په حالت نصبی اوجری کښ، اَلَّذِیْنَ، دجمع مذکر دپاره راځی، اَلَّتِیْ، دواحد مؤنث دپاره راځی، اَللَّتَانِ دتثنیه مؤنث دپاره راځی په حالت رفعی کښ اَللَّتَیْنِ دتثنیه مؤنث دپاره راځی په حالت نصبی اوجری کښ، اَللَّاتِیْ، او اَللَّوَاتِیْ دجمع مؤنث دپاره راځی ،،

بل یکښ مَا، او مَنْ دی په معنی داَلَّذِیْ سره، فرق په دواړوکښ دا دی چه مَا دغیرذوی العقول دپاره راځی، اومَنْ دذوی العقول دپاره راځی

اوکله ناکله برعکس هم راځی. لکه وَالسَّمَاءِ وَمَا بَنٰهَا په دیکښ مَا دذوی العقول دپاره راغلے دے، او مَنْ دغیرذوی العقول دپاره هم راځی لکه فَمِنْهُمْ مَّنْ یَّمْشِیْ عَلٰی بَطْنِهٖ ،،

بل یکښ اَیٌّ، او اَیَّةٌ دی، اَیٌّ دمذکردپاره راځی په معنی داَلَّذِیْ سره، او اَیَّةٌ دمؤنث دپاره راځی په معنی داَلَّتِیْ سره ـ

سوال اَیٌّ، او اَیَّةٌ خو معرب دی نو دوئ په مبنی کښ ولی ذکرکړل ؟

جواب ددی وجه داده چه داَیٌّ او اَیَّةٌ دپاره څلورحالتونه دی په هغی کښ یوحالت دمبنی هم دے نو ددی وجې نه ئې دمبنیاتو په بحث کښ ذکرکړل ـ

اوبل داسماء موصولاتو نه ذُوْ، دے په معنی داَلَّذِیْ سره په لغت دبنی طئ قبیله کښ ،،

اوبل د اسماء موصولاتو نه هغه الف لام دے چه داخل شوے وی په اسم فاعل او اسم مفعول باندے، او دا الف لام به په معنی د اَلَّذِیْ سره وی، او د اسم فاعل نه به تعبیرکیږی په ماضی معروف یا مضارع معروف سره، لکه اَلضَّارِبُ په معنی د اَلَّذِیْ ضَرَبَ یا اَلَّذِیْ یَضْرِبُ دے،
او د اسم مفعول نه به تعبیرکیږی په ماضی مجهول سره، یا په مضارع مجهول سره، لکه اَلْمَضْرُوْبُ په معنی د اَلَّذِیْ ضُرِبَ سره دے، او اَلَّذِیْ یُضْرَبُ سره دے۔

۲ داسم موصول او وصلی تعریف

تعریف داسم موصول: اَلَّذِیْ لَایَقَعُ جُزْءًا تَامًّا مِنْ جُمْلَةٍ بِدُوْنِ صِلَةٍ
یعنی اسم موصول هغه اسم ته وائی چه بغیر د صلی نه د جملی جزء تام نه شی واقع کیدے۔

تعریف د صلی: صله هغی ته وائی چه د موصول نه روستو وی، او د موصول د پاره تتمه وی، لکه جَاءَنِیْ الَّذِیْ ضَرَبَكَ، اَلَّذِیْ اسم موصول دے ضَرَبَكَ صله ده۔

۳ داسماء موصولات د مبنی والی وجه: د مبنی والی وجه داده چه دوی مشابهت لری د حروفو سره په احتیاج کښ، لکه څنګه چه حرف په خپله معنی ورکولو کښ بلی کلمی ته محتاج وی، نو د غه شان اسماء موصولات محتاج وی صلی ته۔

۳ اسماء افعال، په اسماء افعال کښ د دوه خبرو پیژندل ضروری دی
۱ د اسماء افعال تعریف ۲ داسماء افعال د مبنی والی وجه،،

۱ د اسماء افعال تعریف: اسماء افعال جمع د اسم فعل ده، او اسم فعل هر هغه اسم ته وائی چه وی اسم، او په معنی د فعل وی۔

۲ د اسماء افعال د مبنی والی وجه: په اسماء افعال کښ بعضے په معنی د فعل ماضی سره وی او بعضے په معنی د امر حاضر سره وی، فعل ماضی

اوامرحاضرمبنی دی نو دا هم مبنی شول ،،

هغه اسماء افعال چه په معنی د فعل ماضی سره دی نو هغه دادی ،

هَيْهَاتَ په معنی د بَعُدَ سره یعنی لری شو هغه یو سړی ، شَتَّانَ په معنی د اِفْتَرَ
سره یعنی جدا شو هغه یو سړی ، او سَرْعَانَ په معنی د سَرُعَ سره یعنی تادی
اوکړه هغه یو سړی -

هغه اسماء افعال چه په معنی د امرحاضر سره دی نو هغه دادی ،

رُوَيْدَ په معنی د اَمْهِلْ سره ، او بَلْهَ په معنی د دَعْ سره یعنی پریږده ته ،
او هَلُمَّ په معنی د اَقْبِلْ سره ، او حَيَّهَلْ په معنی د اِئْتِ سره ، او اٰمِيْنْ په
معنی د اِسْتَجِبْ سره یعنی یاالله دعا قبوله که ، دُوْنَكَ ، او هَا په معنی د خُذْ
امرحاضر سره یعنی اونیسه ته ، او عَلَيْكَ په معنی د اَلْزِمْ سره یعنی لازم
که ته په ځان باندې ، او مَهْ په معنی د اُكْفُفْ سره ، او صَهْ په معنی د
اُسْكُتْ سره -

۳ اسماء اشارات ، په اسماء اشارات کښ دری خبری پیژندل پکاردی
۱ د اسماء اشارات تفصیل ۲ اسم اشاره ، او مشارٌ الیه ، او مشیر ، او
د اشاری تعریف پیژندل ۳ د اسماء اشارات د مبنی والی وجه ،

۱ د اسماء اشارات تفصیل ذَا ، د واحد مذکر د پاره راځی ، ذَانِ ،
د تثنیه مذکر د پاره راځی په حالت رفعی کښ ، ذَيْنِ ، د تثنیه مذکر د پاره
راځی په حالت نصبی او جری کښ ، تَا تِيْ تِهْ تِهٖ ذِهْ ذِهٖ ،
د واحد مؤنث د پاره راځی ، تَانِ ، د تثنیه مؤنث د پاره راځی په حالت رفعی کښ ،
تَيْنِ ، د تثنیه مؤنث د پاره راځی په حالت نصبی او جری کښ ، اُولَاءِ ، اُوْلٰی ،
په مد او په قصر سره ، د جمع مذکر او مؤنث دواړو د پاره راځی ،

کله نا کله د اسم اشاری په اول کښ (هٰ) د تنبیه د پاره راځی ،
لکه هٰذَا ، او کله نا کله ئی په آخر کښ کاف خطابی هم راځی ، لکه
ذَاكَ ، او کله نا کله د ذَا ، او د کاف خطابی په مینځ کښ لام راځی ،

نو دالام د بُعد د پاره راځي، لکه ذَالِكَ الْقَلَمُ ـ

④ اسم اشاره، او مشارٌ الیه، او مشیر، او د اشارې پیژندل

اسماء اشارات جمع د اسم اشارې ده،

داسم اشارې تعریف: چه په کوم څیز سره اشاره او شی مشارٌ الیه ته، نو هغې ته اسم اشاره وائی ـ

دمشارٌ الیه تعریف: چه کوم څیز ته اشاره او شی، نو هغې ته مشارٌ الیه وائی ـ

داشارې تعریف: اَلْمَسَافَتُ بَیْنَ الْمُشِیْرِ وَالْمُشَارِ الیه، دمشیر او د مشارٌ الیه په مینځ کښ مسافت ته وائی ـ

دمشیر تعریف: اشاره کونکې ته وائی ـ

④ داسماء اشارات دمبنی والی وجه: اسماء اشارات مشابه دی د حروفو سره په احتیاج کښ، لکه څنګه چه حرف په خپله معنی ورکولو کښ بلې کلمې ته محتاج وی نو دغه شان هم اسماء اشارات محتاج وی مشارٌ الیه ته ـ

⑤ اسماء اصوات، په دیکښ هم دوه خبرې پیژندل ضروری دی،

① داسماء اصوات تعریف ② داسماء اصوات دمبنی والی وجه،

① داسماء اصوات تعریف: اصوات جمع د صوت ده، یعنی هر هغې آواز ته وائی چه دانسان دخولې نه د تکلیف په وخت کښ یا دخوشحالئ په وخت کښ یا بو ځناور ته د آواز کولو په وخت کښ یا د بو ځناور د آواز نقل کولو په وخت کښ اوځی، د تکلیف په وخت کښ لکه اُفْ اُفْ او اُحْ اُحْ، دخوشحالئ په وخت کښ لکه بَخْ، د اوښ د کینولو په وخت کښ لکه نَخْ، د کارغهٔ د آواز نقل کولو په وخت کښ لکه غَاقْ غَاقْ ـ

② داسماء اصوات دمبنی والی وجه: اسماء اصوات اکثر مفرد واقع کیږی، او په ترکیب کښ نه وی واقع شوی، او کوم اسم چه په ترکیب کښ نه وی واقع شوے نو هغه مبنی وی، نو د اسماء اصوات هم مبنی شول ـ

⑥ اسماء کنایات ، په اسماء کنایات کښ دوه خبرې پیژندل پکار دي
① د اسماء کنایات تعریف ② د اسماء کنایات د مبنی والي وجه ،
① د اسماء کنایات تعریف اسماء کنایات جمع د اسم کنائي ده، او دکنایه
لغوي معنی ده اشاره ،
د اسم کنائي اصطلاحي معنی ، په اصطلاح کښ هر هغه اسم ته وائي چه په هغې
څه نه څه پټ والې وي ـ
اسماء کنایات په دوه قسمه دي ① کنایه از عدد مبهم ② کنایه از حدیث مبهم
① کنایه از عدد مبهم کَمْ او کَذَا دي، لکه چندي کَذَا وَکَذَا یعني هغه زما سره
دومره دومره درهم دي ، او کَمْ عِنْدَكَ یعني ستا سره څومره درهم دي
② کنایه از حدیث مبهم دا دي ، کَیْتَ وَذَیْتَ لکه قُلْتُ کَیْتَ وَذَیْتَ ما او وئیل
هغه او هغه ـ
② د اسماء کنایات د مبنی والي وجه کَمْ ځکه مبنی دے چه دا په معنی
د همزهٔ استفهام دے او همزه د استفهام حرف دے او هغه مبنی دے نو دا
هم مبنی شو ، کَذَا ځکه مبنی دے چه دا مرکب دے د کاف تشبیه او د
اسم اشاره نه، هغه دواړه مبنی دي نو دا هم مبنی شو ـ
کَیْتَ وَذَیْتَ ځکه مبنی دي چه دا جمله ده او د بعضو په نزد باندے
جمله هم په مبنیاتو کښ داخله ده ـ
⑦ اسماء ظروف ، په اسماء ظروف کښ درې خبرې پیژندل پکار دي،
① تعریف د اسماء ظروف ② د اسماء ظروف تفصیل ③ د اسماء ظروف د مبنی
والي وجه ،
① تعریف د اسماء ظروف اسماء ظروف جمع د اسم ظرف ده، د ظرف
لغوي معنی ده لوښے ،
د اسماء ظروف اصطلاحي معنی ، په اصطلاح کښ اسماء ظروف په دوه
قسمه دي ① ظرف زمان ② ظرف مکان ،

① ظرف زمان هغې ته وائي چه په وخت باندې اوپه زمانه باندې دلالت کوي۔
② ظرف مکان هغې ته وائي چه په ځائے باندې دلالت کوي ۔
③ (داسماء ظروف تفصيل) ظروف زمان دادي ، إِذْ ، إِذَا ، مَتٰى ، كَيْفَ ، اَيَّانَ ، اَمْسِ ، مُذْ ، مُنْذُ ، قَطُّ ، عَوْضُ ، قَبْلُ ، بَعْدُ ،
إِذْ ، دإِذْ معنی ده هغه وخت ، دابه داخليږي په ماضي باندې لکه جِئْتُكَ إِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ ، اوکله ناکله په مضارع باندې هم داخليږي لکه إِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِه، په هغې وخت کښ چه اووی ملګری خپل ته ۔
إِذَا ، داپه مضارع باندې داخليږي،لکه اٰتِيْكَ إِذَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ ،اودا إِذَا کله نا کله په ماضي باندې هم داخليږي خوداماضي به په معنی دفعل مضارع وي، لکه إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ ۔
مَتٰى ، د مَتٰى معنی ده کوم وخت ، او مَتٰى د استفهام دپاره راځي،لکه مَتٰى تُسَافِرُ ، اومَتٰى کله دشرط دپاره هم راځي،لکه مَتٰى تَضْرِبْ اَضْرِبْ،په کوم وخت کښ چه ته وهل کوي نو په هغې وخت کښ به زه هم وهل کوم ۔
كَيْفَ ، دحال دتپوس دپاره راځي لکه كَيْفَ حَالُكَ څه دے حال ستا ؟
اَيَّانَ ، دوخت دتپوس اودوخت دمعلومولو دپاره راځي،لکه اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ، کله به وي ورځ دجزاء ؟
اَمْسِ ، په معنی دپرون سره راځي،لکه جَاءَنِيْ زَيْدٌ اَمْسِ،زماخواته زيد پرون راغلے وو ۔
مُذْ او مُنْذُ ، دادواړه کله دابتدائي وخت دپاره راځي،اوکله ناکله دپوره وخت دپاره راځي ، دابتدائي وخت دپاره مثال،لکه مَارَأَيْتُهٗ مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ،مانه دے ليدلے هغه لره دورځې دجمعې نه۔
دپوره وخت دپاره مثال، لکه مَارَأَيْتُهٗ مُذْ يَوْمَيْنِ،مانه دے ليدلے هغه لره ددوؤ ورځو نه ۔
قَطُّ ، دماضي منفي تاکيد دپاره راځي،لکه مَا ضَرَبْتُهٗ قَطُّ ، نه دے وهلے ما

هغه لره هرگز ـ

عَوْضُ ، د مضارع منفي تاکيد د پاره راځي، لکه لا آضْرِبُهٗ عَوْضُ، نه وهم هغه لره هرگز ـ

قَبْلُ بَعْدُ ، ددې د پاره درې حالتونه دي،په دوو حالتونو کښې معرب دي، او په يو حالت کښې مبني دی ،

① هرکله چه مضافٌ اليه په لفظ کښې ذکر وي، نو دا بيا معرب دی، لکه جَاءَ زَيْدٌ قَبْلَ عَمْرٍ وَبَعْدَ بَكْرٍ ـ

② هرکله چه مضافٌ اليه په لفظ کښې حذف وي، نو دا به بيا په ذهن کښې مراد وي او يا به نه وي، که په ذهن کښې مراد نه وي، نو دا بيا معرب دی، لکه رُبَّ بَعْدٍ كَانَ خَيْرًا مِّنْ قَبْلٍ ـ

اوکه په لفظ کښې حذف وي او په ذهن کښې مراد وي، نو بيا دا مبني دی په ضمې سره، لکه لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ، ددې مضاف اليه په ذهن کښې مراد دی، او هغه دا ده لِلّٰهِ الْاَمْرُ مِنْ قَبْلِ كُلِّ شَيْءٍ وَمِنْ بَعْدِ كُلِّ شَيْءٍ ـ

د قَبْلُ او بَعْدُ د مبني والي وجه وجه دا ده چه د حرف سره ئې مشابهت را غلے دے په احتياج کښې، لکه څنګه چه حروف محتاج دي بلې کلمې ته، نو دا هم محتاج وي مضافٌ اليه ته په هغه صورت کښې چه کله مضافٌ اليه په لفظ کښې نه وي او په ذهن کښې مراد وي ـ

او په ضمې سره به ځکه مبني وي چه حذف د مضافٌ اليه نقصان قويه دے او نقصان قويه نه غواړي مګر جبيرهٔ قويه، او جبيرهٔ قويه نه ده مګر ضمه ـ

ظروف مکان دا دي ، حَيْثُ ، قُدَّامُ ، تَحْتُ ، فَوْقُ ، خَلْفُ ،، حَيْثُ معنی هغه ځائے ، فَوْقُ معنی د پاسه ، قُدَّامُ معنی مخکښې ، تَحْتُ معنی لاندې ، خَلْفُ معنی شاته ـ

⑦ (داسماء ظروف دمبنی والی وجه) إذْ، حکه مبنی دے چه داپه شان دمن حرفی دے په حروفو کښ، اوحروف مبنی دی، نو داهم مبنی شو۔

إذَا، حکه مبنی دے چه دادحرف شرط په معنی دے، اوحرف شرط مبنی دے، نوداهم مبنی شو۔

مَتیٰ، اوکَیْفَ، دحرف استفهام په معنی دی، اوهغه مبنی دی نو داهم مبنی شول۔

آیّانَ، هم دحرف استفهام په معنی دے، نو داهم مبنی شو۔

أمْسِ، معنی ده پرون، نو دامشابه شو د ماضی سره په معنی کښ، اوهغه مبنی ده، نو داهم مبنی شو۔

مُذْ اومُنْذُ، حکه مبنی دی چه دوی مشابه دی دهغه مُذْ اومُنْذُ سره، کوم چه حروف دی، اوهغه مبنی دی، نو داهم مبنی شول۔

قَطُّ، اوعَوْضُ، حکه مبنی دی چه دوی راځی په معنی دلام استغراقی اولام استغراقی حرف دے، اومبنی دے، نو داهم مبنی شول۔

د قَبْلُ، اوبَعْدُ، دمبنی والی وجه مخکښ ذکرشوی ده۔

قُدَّامُ، تَحْتُ، خَلْفُ، فَوْقُ، دوی په شان دقَبْلُ اوبَعْدُ دی۔

حَیْثُ، حکه مبنی دے چه دامضاف کیږی جملے ته، نو احتیاج ئی راغے جملے ته، نو دادحروفو سره مشابه شو په احتیاج کښ، نو مبنی شو۔

⑧ مرکب بنائی، دمرکب بنائی تعریف مخکښ دمرکب په اقسامو کښ ذکرکړے شوے دے۔ ۞۞۞

فصل بدانکه اسم بردوضرب است معرفه ونکره،، تا فصل آخر،،

په اعتبار دتعریف اودتنکیر سره

اسم په دوه قسمه دے

① اسم معرفه ② اسم نکره

① داسم معرفه لغوی معنی ده پیژندل،

داسم معرفه اصطلاحی معنی، مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ مُّعَيَّنٍ، یعنی هرهغه اسم ته وائی چه دیو معین څیز دپاره وضع شوے وی، لکه زَیْدٌ ۔

② داسم نکره لغوی معنی ده نه پیژندل ،

داسم نکره اصطلاحی معنی، مَا وُضِعَ لِشَيْءٍ غَيْرِ مُعَيَّنٍ، یعنی هرهغه اسم ته وائی چه دیو غیرمعین څیز دپاره وضع شوے وی، لکه رَجُلٌ ۔

اسم معرفه په اووه قسمه ده

① مضمرات ② اعلام ③ اسماء اشارات ④ اسماء موصولات ⑤ مُعَرَّفٌ بِاللَّامِ ⑥ معرفه به نداء ⑦ هرهغه اسم چه دمعرفه به نداءنه علاوه په دی نورو اسمو نوکښ یوته مضاف شوے وی ۔

① مضمرات ، ددوی تفصیل مخکښ داسم غیرمتمکن په اقسامو کښ ذکرکړے شوے دے ۔

② اعلام ، اعلام جمع د علم ده، دعلم لغوی معنی ده، نوم ،

دعلم اصطلاحی معنی ، په اصطلاح کښ علم هغی ته وائی چه دیوخاص څیز، یادیوخاص ذات ، یادیوخاص ځائے نوم وی ،،

دیوخاص ذات نوم وی، لکه زید ، دیوخاص ځائے نوم وی، لکه مدینه ۔

③ اسماء اشارات ، ددوی تفصیل هم مخکښ داسم غیرمتمکن په اقسامو کښ ذکرکړے شوے دے ۔

④ اسماء موصولات ، ددوی تفصیل هم مخکښ داسم غیرمتمکن په اقسامو کښ ذکرکړے شوے دے ۔

⑤ معرف باللّام ، دمعرف باللّام لغوی معنی ده، چه معرفه شوے وی دالف لام د وجې نه ،

دمعرف باللّام اصطلاحی معنی ، هرهغه اسم ته وائی چه وی نکره، خو دالف لام د وجې نه معرفه شی ، لکه اَلرَّجُلُ ۔

⑥ معرفه به ندا ، دمعرفه به نداء لغوی معنی ده چه معرفه شوې وی
دآواز دوجی نه ،
دمعرفه به ندا اصطلاحی معنی ، هرهغه اسم ته وائی چه وی نکره خو د حرف
ندا دوجی نه معرفه شی،لکه یَا رَجُلُ په دی شرط سره چه دا سړے پیژندنه
وی -

⑦ هغه اسم چه په دی شپږ واړو اسمونو کښ یو ته مضاف شوے وی دمعرفه
به ندا نه علاوه ① یا به ضمیر ته مضاف وی،لکه غُلَامُهٗ ② یا به
علم ته مضاف وی،لکه غُلَامُ زَیْدٍ ③ یا به اسم اشارې ته مضاف وی،
لکه غُلَامُ هٰذَا الرَّجُلِ ④ یا به اسم موصول ته مضاف وی،لکه غُلَامُ
الَّذِیْ عِنْدَكَ ⑤ یا به معرف باللام ته مضاف وی،لکه غُلَامُ الرَّجُلِ -

فائده اَعْرَفُ الْمَعَارِفُ ① لفظ الله دے یعنی د ټولو نه
زیات تعریف په لفظ الله کښ موجود دے ② ضمائر دی،په ضمائرو کښ
اول د متکلم ، دویم نمبر د مخاطب ، دریم نمبر د غائب ③ اعلام،لکه
زید ④ اسماء اشارات ، اسماء موصولات ⑤ معرف باللام ⑥
معرفه به ندا ⑦ هغه اسم چه دمعرفه به ندا نه علاوه په دی
نورو کښ یو ته مضاف شوے وی -

فصل بدانکه اسم بردو صنف است ،، تا فصل آخر ،،

اسم په دوه قسمه دے

په اعتبار د تذکیر او د تانیث سره

① مذکر ② مؤنث

① مذکر هرهغه اسم ته وائی چه په هغی کښ علامه د تانیث موجود
نه وی،نه لفظًا او نه تقدیرًا ، لکه رَجُلٌ -

② مؤنث هرهغه اسم ته وائی چه په هغی کښ علامه د تانیث لفظًا
یا تقدیرًا موجود وی، دلفظًا مثال،لکه اِمْرَأَةٌ ، د تقدیرًا مثال،لکه

اَرْضٌ چه په اصل کښ اَرْضَةٌ دے او دلیل په دی باندے داد ے چه د
تصغیر اُرَیْضَةٌ دے ـ

علامات د تانیث لس دی

① تاء مُطَوَّلَه ساکنه لکه ضَرَبَتْ ② تاء مطوله مکسوره لکه ضَرَبْتِ ③ تاء مطوله متحرکه لکه ضَارِبَاتٌ ④ تاء مُدَوَّرَه لکه ضَارِبَةٌ ⑤ تاء مقدره لکه اَرْضٌ ⑥ الف مقصوره لکه حُبْلٰی ⑦ الف ممدوده لکه حَمْرَاءُ ⑧ یاء ساکنه لکه تَضْرِبِیْنَ ⑨ نون مفتوحه لکه ضَرَبْنَ ⑩ هغه اعلام چه هغه وضع شوی وی د مؤنث دپاره نو دا هم علامه د تانیث ده ـ

مؤنث په دوه قسمه دے

① مؤنث حقیقی ② مؤنث لفظی

① مؤنث حقیقی هغی مؤنث ته وائی چه د هغی په مقابله کښ مذکر من الحیوان موجود وی، لکه اِمْرَاَةٌ، ددی په مقابله کښ مذکر من الحیوان موجود دے، چه رَجُلٌ دے، او اَتَانٌ ددی په مقابله کښ مذکر من الحیوان موجود دے، چه حِمَارٌ دے، او دغه شان نَاقَةٌ، ددی په مقابله کښ مذکر من الحیوان موجود دے، چه جَمَلٌ دے ـ

② مؤنث لفظی هغی ته وائی چه د هغی په مقابله کښ مذکر من الحیوان موجود نه وی لکه ظُلْمَةٌ (تیارهٔ) ددی په مقابله کښ مذکر شته، چه نُوْرٌ دے لیکن دا نور مذکر من الحیوان نه دے ـ

فصل بدانکہ اسم بر سہ صنف است واحد ومثنی ومجموع ،، تا فصل آخر،،

د تعدد په اعتبار سره اسم په **دری قسمه دے**

① واحد ② تثنیه ③ جمع

① واحد ، چه دلالت کوی په یو باندی لکه رَجُلٌ ـ

② تثنیه ، چه دلالت کوی په دوؤ باندی لکه رَجُلَانِ ـ

د تثنیه د جوړولو طریقه د واحد په آخر کښ به الف ما قبل مفتوح

او نون مکسور راؤړے شي په حالت رفعي کښ، لکه دَرَجُلٌ نه رَجُلَانِ، یا یاء ساکن ماقبل مفتوح او نون مکسور به راؤړے شي په حالت نصبي او جرّي کښ لکه دَرَجُلٌ نه رَجُلَیْنِ ـ

③ جمع. چه دلالت کوي په دریو او د دریو نه په زیاتو باندے ـ

دواحد په صیغه کښ به لږ تغیرا وکړے شي | دجمع دجوړولو طریقه
د اتغیر به یا لفظا وي، لکه رِجَالٌ جمع دَرَجُلٌ ده، یا به تقدیرا وي، لکه فُلُكٌ په وزن دأُسُدٌ، نو أُسُدٌ جمع ده دأَسَدٌ، ډیرو نمرو ته وائي، نو د فُلُكٌ معنی ډیري کشتۍ، او که په وزن دقُفُلٌ شي، نو قُفُلٌ واحد دے، نو بیا ترینه مراد یوه کشتۍ ده ـ

فصل بدانکہ جمع باعتبار لفظ بردو قسم است جمع تکسیر و جمع تصحیح ''تاآخر''

جمع په اعتبار دلفظ سره په دوه قسمه ده

① جمع مکسر ② جمع سالم

① جمع مکسر، هغې جمع ته وائي چه په هغې کښ دواحد بناء ماته شوې وي، صحیح او سالم نه وي، لکه رِجَالٌ چه جمع دَرَجُلٌ ده، او مَسَاجِدُ چه جمع دمَسْجِدٌ ده، او دیته جمع تکسیر هم ویلے کیږي ـ

② جمع سالم، هغې ته وائي چه په هغې کښ دواحد بناء روغه پاتې شوې وي ماته شوې نه وي، لکه مُسْلِمُوْنَ چه جمع دمُسْلِمٌ ده ـ

جمع سالم په دوه قسمه ده

① جمع مذکر سالم ② جمع مؤنث سالم

① جمع مذکر سالم، هغې جمع ته وائي چه په حالت رفعي کښ واؤ ساکن ماقبل مضموم او نون مفتوحه راغلي وي، لکه مُسْلِمُوْنَ، او په حالت نصبي او جرّي کښ یاء ساکن ماقبل مکسور او نون مفتوحه راغلي وي، لکه مُسْلِمِیْنَ ـ

② جمع مؤنث سالم، هغې ته وائي چه په آخر کښ الف او تاء راغلي

وی، لکه مُسْلِمَاتٌ ـ

جمع په اعتبار د معنیٰ سره په **دوه قسمه ده**

① جمع قلت ② جمع کثرت

د جمع قلت او د جمع کثرت په تعریف کښې درې اقوال دی ① جمع قلت هغې جمع ته وائي چې د دریؤ نه واخله د نهو پورې دلالت کوی، جمع کثرت هغې جمع ته وائي چې د لسو نه واخله تر آخره پورې دلالت کوی ـ

② جمع قلت، هغې جمع ته وائي چې د دریؤ نه واخله تر لسو پورې دلالت کوی، او جمع کثرت هغې ته وائي چې د یولسو نه واخله تر آخره پورې دلالت کوی ـ

③ دا دواړه به په دریؤ باندې دلالت کوی، خو جمع قلت تر نهو پورې او جمع کثرت تر آخره پورې ـ

د جمع قلت د پاره شپږ اوزان دی

څلور پکښې مشهور دی، او دوه پکښې غیر مشهور دی، هغه څلور مشهور دا دی ① أَفْعُلٌ، لکه أَكْلُبٌ جمع د كَلْبٌ ده، سپي ته وائي ② أَفْعَالٌ، لکه أَقْوَالٌ جمع د قَوْلٌ ده، وینا ته وائي ③ أَفْعِلَةٌ، لکه أَطْعِمَةٌ جمع د طَعَامٌ ده، خوراک ته وائي ④ فِعْلَةٌ، لکه غِلْمَةٌ جمع د غُلَامٌ ده، غلام ته وائي ،،

دوه غیر مشهور دادی، چې په جمع مذکر سالم او په جمع مؤنث سالم باندې کله الف لام داخل نه وی، نو دا هم داخل دی په اوزان د جمع قلت کښې، لکه مُسْلِمُوْنَ او مُسْلِمَاتٌ ـ

فصل بدانکه اعراب اسم سه است رفع ونصب وجر،، تا فصل آخر،،

اعراب د اسم په **درې قسمه دے**

① رفع ② نصب ③ جر

① رفع ، رفع په لغت کښ اوچتوالی ته وائی ، اودیته رفع ددې وجې نه وائی چه ددی داداکولوپه وخت کښ برنئ شونډه برې طرفته اوچتیږی ،
درفع اصطلاحی تعریف ، هرهغې حرف یاحرکت ته وائی چه داسم متمکن په آخرکښ دعامل رافعه دوجې نه راشی ، دحرکت دپاره مثال لکه جَاءَ زَیْدٌ دحرف دپاره مثال لکه جَاءَ مُسْلِمُوْنَ ـ
② نصب ، نصب په لغت کښ اودریدوته وائی ، اودیته نصب ځکه وائی چه ددی داداکولوپه وخت کښ برنئ شونډه اودریږی ،
دنصب اصطلاحی تعریف ، هرهغې حرف یاحرکت ته وائی چه داسم متمکن په آخرکښ دعامل ناصبه دوجې نه راشی ، دحرکت دپاره مثال لکه رَأَیْتُ زَیْدًا دحرف دپاره مثال لکه رَأَیْتُ مُسْلِمِیْنَ ـ
③ جر ، جرپه لغت کښ راخکلو ته وائی ، اودیته جرددې وجې نه وائی چه ددی داداکولوپه وخت کښ ښکته شونډه ښکتې طرف ته راخکلې شی ،
دجراصطلاحی تعریف ، جرهرهغې حرف یاحرکت ته وائی چه داسم متمکن په آخرکښ دعامل جارۀ دوجې نه راشی، دحرکت دپاره مثال لکه مَرَرْتُ بِزَیْدٍ ، دحرف دپاره مثال لکه مَرَرْتُ بِمُسْلِمِیْنَ ـ
اسم متمکن په اعتباردداعراب سره په **شپاړس قسمه دے**
① مفردمنصرف صحیح
مفرد ، هغې ته وائی چه یؤلفظ وی اوپه یولا معنی باندې دلالت کوی ، چه مفرد ئې اووی نوتثنیه اوجمع ترینه اووتل ،
منصرف ، هغې ته وائی چه دنهواسبابودمنع صرف نه پکښ نه دوه سببونه موجودوی اونه یؤسبب چه قائم وی په مقام ددوؤ سببونوباندې ،

صحیح ، د نحویانو په نزد باندے هغه اسم ته وائی چه په لام کلمه کښ حرف علت نه وی، لکه زَیْدٌ، د نحویانو په نزد باندے زَیْدٌ صحیح دے، او د صرفیانو په نزد باندے اجوف یائی دے ،

د مفرد منصرف صحیح اعراب داد ے رفع به ئی په ضمی لفظی سره وی، او نصب به ئی په فتحی لفظی سره وی، او جر به ئی په کسری لفظی سره وی، لکه جَاءَنِیْ زَیْدٌ، رَأَیْتُ زَیْدًا، مَرَرْتُ بِزَیْدٍ ـ

⑵ مفرد منصرف جاری مجرٰی صحیح

مفرد ، هغی ته وائی چه یو لفظ وی او په یوه معنی باندے دلالت کوی ،
منصرف ، هغی ته وائی چه د نهو د اسبابو د منع صرف نه پکښ نه دوه سببونه موجود وی او نه یو سبب موجود وی چه قائم وی په مقام د دوؤ سببونو باندے ،
جاری مجرٰی صحیح ، جَارِیٌ صیغه د اسم فاعل ده، معنی ئی ده جاری کیدونکے) مجرٰی صیغه د اسم ظرف ده، معنی ئی ده ځائے د جاری کیدلو د صحیح) نو جاری مجرٰی صحیح هغی ته وائی چه په آخر کښ ئی واؤ یا یا راغلی وی او ماقبل ئی ساکن وی، لکه دَلْوٌ او ظَبْیٌ ،
ددی اعراب داد ے رفع به ئی په ضمی لفظی سره وی، او نصب به ئی په فتحی لفظی سره وی، او جر به ئی په کسری لفظی سره وی، لکه هٰذَا دَلْوٌ، رَأَیْتُ دَلْوًا، مَرَرْتُ بِدَلْوٍ ـ

⑶ جمع مکسر منصرف

جمع ، هغی ته وائی چه دلالت کوی په دریو باندے او د دریو نه په زیاتو باندے، چه جمع ئی اووی، نو واحد او تثنیه ترینه اووتل ،
مکسر ، هغی ته وائی چه بناء د واحد پکښ ماته شوی وی، چه مکسر ئی اووی، نو سالم ترینه اووتلو ،
منصرف ، هغی ته وائی چه د نهو اسبابو د منع صرف نه پکښ نه دوه

سبونه موجود وی اونه یوسبب چه قائم وی په مقام ددوؤ سبونو باندے، چه منصرف ئی اووی نوغیر منصرف ترینه اووتو،
دجمع مکسر منصرف اعراب داد ے رفع به ئی په ضمی لفظی سره وی، اونصب به ئی په فتحی لفظی سره وی او جر به ئی په کسری لفظی سره وی لکه جَاءَنِیْ رِجَالٌ، رَأَیْتُ رِجَالًا، مَرَرْتُ بِرِجَالٍ ۔

④ جمع مؤنث سالم

جمع، هغی ته وائی چه دلالت کوی په دریؤ باندے اود دریو نه په زیاتو باندے، چه جمع ئی اووی نو واحد او تثنیه ترینه اووتل،
مؤنث، هغی ته وائی چه په هغی کښ علامه د تانیث موجود وی، چه مؤنث ئی اووی نو مذکر ترینه اووتو،
سالم، هغی ته وائی چه په هغی کښ بناء د واحد نه وی ماته شوی، چه سالم ئی اووی نو مکسر ترینه اووتو،
دجمع مؤنث سالم اعراب داد ے رفع به ئی په ضمی لفظی سره وی، نصب او جر به ئی په کسری لفظی سره وی لکه جَاءَنِیْ مُسْلِمَاتٌ، رَأَیْتُ مُسْلِمَاتٍ، مَرَرْتُ بِمُسْلِمَاتٍ ۔

سوال په جمع مؤنث سالم کښ حالت نصبی ولی د حالت جری تابع دے؟
جواب ددی وجی نه چه جمع مذکر سالم اصل دے او جمع مؤنث سالم فرعه ده، نو په اصل کښ حالت نصبی د حالت جری تابع دے، نو چه په اصل کښ حالت نصبی د حالت جری تابع دے نو په فرعه کښ هم حالت نصبی د حالت جری تابع شو ۔

⑤ غیر منصرف

اسم په دوه قسمه دے ① منصرف ② غیر منصرف
① منصرف، هغه اسم ته وائی چه د اسباب د منع صرف نه پکښ نه دوه سببونه موجود وی او نه یو سبب موجود وی چه قائم وی

په مقام د دوؤ سببونو باندے۔

(د منصرف حکم) د منصرف حکم داد ے چه په دی باندے دری واړه حرکات راځی سره د تنوین نه۔

۲ غیر منصرف ، هغه اسم ته وائی چه د اسباب د منع صرف نه پکښ دوه سببونه موجود وی یا یو سبب موجود وی چه قائم وی په مقام د دوؤ سببونو باندے۔

(د غیر منصرف حکم) د غیر منصرف حکم داد ے چه په دی باندے کسره او تنوین نه راځی۔

د غیر منصرف اعراب داد ے رفع به ئی په ضمی لفظی سره وی، نصب او جر به ئی په فتحی لفظی سره وی، لکه جَاءَنِیْ عُمَرُ، رَأَیْتُ عُمَرَ، مَرَرْتُ بِعُمَرَ۔

(سوال) په غیر منصرف کښ حالت جری ولی د حالت نصبی تابع دے؟

(جواب) حالت جری د حالت نصبی ځکه تابع د ے چه د غیر منصرف مشابهت را غلے د ے د فعل سره ، او فعل دوه څیزونه غواړی، یوه زمانه او یو فاعل ، او غیر منصرف هم دوه سببونه غواړی یا یو سبب چه قائم وی په مقام د دوؤ سببونو باندے، او په فعل باندے کسره او تنوین نه راځی، نو په غیر منصرف باندی هم کسره او تنوین نه راځی۔

اسباب د منع صرف نهه دی

۱ عدل ۲ وصف ۳ تانیث ۴ معرفه ۵ عجمه ۶ جمع ۷ ترکیب ۸ وزن فعل ۹ الف ونون زایدتان

۱ عدل ، د عدل لغوی معنی ده، اعراض کول، چه کله ئی په صله کښ عَنْ راشی، لکه عَدَلَ عَنْهُ اَیْ اَعْرَضَ عَنْهُ ، او چه کله ئی په صله کښ اِلٰی راشی، نو په معنی د میلان سره وی، لکه عَدَلَ اِلَیْهِمْ اَیْ مَالَ اِلَیْهِمْ ،

د عدل اصطلاحی تعریف ، فَهُوَ تَغَیُّرُ اللَّفْظِ مِنْ صِیْغَةِ الْاَصْلِیَّةِ اِلٰی

وصف په دوه قسمه دے

① وصف اصلي ② وصف عارضي

① وصف اصلي، هغې ته وائي چه واضع وضع کړے وي د ذات مبهم دپاره د لحاظ د وصف نه، لکه أَحْمَرُ، أَسْوَدُ، أَبْيَضُ -

② وصف عارضي، هغې ته وائي چه دلالت نه کوي په ذاتِ مبهم مع الوصف باندے، بلکه په ترکيب کښ د وصف دپاره استعماليږي، لکه أَرْبَعُ -

وصف چه د غير منصرف دپاره سبب جوړيږي نو شرط ورله دادے چه وصف اصلي وي -

③ تانيث، د تانيث لغوي معنی ده كَوْنُ الْإِسْمِ مُؤَنَّثًا، کيدل د يو اسم مؤنث د تانيث اصطلاحي تعريف، هُوَمَا فِيْهِ عَلَامَةُ التَّانِيْثِ، چه په هغې کښ به علامه د تانيث موجود وي -

تانيث په دوه قسمه دے

① تانيث لفظي ② تانيث معنوي

① تانيث لفظي، هغې ته وائي چه په هغې کښ علامه د تانيث موجود وي په لفظ کښ، او تانيث لفظي چه د غير منصرف دپاره سبب جوړيږي نو شرط ورله دادے چه دا به د چا دپاره علم وي، لکه طَلْحَةُ -

② تانيث معنوي، هغې ته وائي چه په هغې کښ علامه د تانيث پټه وي، دا چه د غير منصرف دپاره سبب جوړيږي نو ددې دپاره دوه شرطونه دي ① دا به علم وي ② د دريو امورو نه به په دې کښ يو امر موجوديږي نو هغه درې امور دادي ① د درېو حرفونو نه به زيات وي، لکه زَيْنَبُ، ② د دريو حرفونو نه به زيات نه وي خو مينځنی حرف به ئې متحرک وي، لکه سَقَرُ ③ که متحرک الاوسط نه وي نو بيا به عجمه وي، لکه مَاهُ، او جُوْرُ -

④ معرفه، د معرفې لغوي معنی ده پيژندل،

د معرفې اصطلاحي تعریف ، مَاوُضِعَ لِشَیْءٍ مُّعَیَّنٍ، هرهغه اسم ته وائي چه وضع شوے وي د معین څیز دپاره ،

داچه د غیرمنصرف دپاره سبب جوړیږي نوشرط وړله داد ے چه د معرفې په اوو قسمونوکښې به صرف علمیت د غیرمنصرف دپاره سبب جوړیږي او نور نه ـ

⑤ عجمه ، عجمه په لغت کښې چاړاوالي ته وائي ،

د عجمه اصطلاحي تعریف ، هرهغه لفظ ته وائي چه وي غیرعربي ، اوعربو والا په خپله ژبه کښې استعمال کړے وي ، عجمه چه د غیرمنصرف دپاره سبب جوړیږي نوددي دپاره دوه شرطونه دي ① دابه دچا دپاره علم وي ② اود دوؤ امورونه به یکښې یوامرموجودیږي ① یابه زایدعلی الثلاث وي لکه اِبْرَاهِیْمُ ② اوکه زاید علی الثلاث نه وي نو بیابه متحرک الاوسط وي لکه شَتَرُ ـ

فائده د ملائکو ټول نومونه غیرمنصرف دي، اود ټولو انبیاءؑ و نومونه هم غیرمنصرف دي، سوا داوؤ انبیاءؑ و د نومونونه چه په هغې کښې درې نومونه عربي دي ① حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ② حضرت شعیب علیه السلام ③ حضرت صالح علیه السلام ، اوځلور عجمي دي ① حضرت نوح علیه السلام ② حضرت لوط علیه السلام ③ حضرت هود علیه السلام ④ حضرت شیث علیه السلام ـ

⑥ جمع ، د جمع لغوي معنی ده جمع کول ،

د جمع اصطلاحي معنی ، په اصطلاح کښې جمع هغې ته وائي چه دلالت کوي په دریو اود دریونه په زیاتو باندے ـ

جمع چه د غیرمنصرف دپاره سبب جوړیږي نوددي دپاره دوه شرطونه دي ① دابه په صیغه د منتهی الجموع کښې وي ② دابه په آخرکښې هغه تا نه قبلوي کومه چه په حالت د وقف کښې په ها سره بدلیږي ـ

دجمع منتهی الجموع لغوی معنی ، هغه جمع ته وائی چه په هغه باندې دجمعو انتهاء راغلی وی، اودیته منتهی الجموع ځکه وائی چه په دی باندې دجمعو انتهاء راغلی وی، ددی دپاسه بله جمع تکسیر نه راځی ۔

دجمع منتهی الجموع اصطلاحی تعریف ، هرهغه جمع ته وائی چه دهغی اولنی دوه حرفونه متحرک وی اودهغی نه روستو الف دجمع راغلی وی، کچرے دالف دجمع نه روستو یو حرف راغلی وی نوهغه به مشدّد وی، لکه دَوَابُّ ، اوکچرے دوه حرفونه راغلی وی نواولنی به مکسور وی، اودویم به دعامل مطابق وی،لکه مَسَاجِدُ ، اوکچرے دری حرفونه راغلی وی نواولنی به مکسور وی،اودویم به ساکن وی،اودریم به د عامل مطابق وی،لکه مَصَابِیْحُ جمع دمِصْبَاحٌ ده ،

دجمع منتهی الجموع یوسبب قائم مقام ددوؤ سببونو دے ۔

⑤ ترکیب ، دترکیب لغوی معنی ده یوځائے کول ، میلاوول ،

دترکیب اصطلاحی تعریف ، دوه کلمی یوځائے کول په داسے طریقی سره چه هغه دویمه کلمه متضمنه نه وی حرف لره ۔

ترکیب چه دغیرمنصرف دپاره سبب جوړیږی نوددی دپاره دوه شرطونه دی ① دابه علم وی لکه مَعْدِیْکَرَبُ ② دابه مرکب اسنادی نه وی، مرکب اضافی به نه وی ، مرکب توصیفی به نه وی، مرکب بنائی به نه وی، مرکب صوتی به نه وی ۔

⑧ الف نون زایدتان ، هغه الف اونون چه داسم په آخرکښ راشی، دابه دحروف اصلیؤ په مقابله کښ نه وی راغلی، اوبیاداالف نون زایدتان یابه داسم په آخرکښ راغلی وی،اویابه دصفت په آخرکښ راغلی وی، کچرے داسم په آخرکښ راغلی وی نوداچه دغیرمنصرف دپاره سبب جوړیږی،نوشرط ورله داد ے چه دابه دچادپاره علم وی، لکه عِمْرَانُ، دادیوسړی نوم دے اوغیرمنصرف دے ،

اوکچرے دصفت په آخرکښ راغلی وی،نوداچه د غیرمنصرف دپاره سبب جوړیږی نوشرط وړله داد ے چه ددی مؤنث به په وزن د فَعْلَانَةٌ نه وی،لکه سَکْرَانُ،چه ددی مؤنث سُکْرٰی د ے چه په وزن د فُعْلٰی د ے،نوداغیرمنصرف د ے ، اونَدْمَانٌ دامنصرف دے، ځکه چه ددی مؤنث نَدْمَانَةٌ د ے اودا په وزن د فَعْلَانَةٌ د ے -

⑨ وزن فعل ، هغی وزن ته وائی چه خاص وی دفعل سره، اودا په اسم کښ نه موجودیږی اوکچرے په اسم کښ موجودشی نوبیابه دفعل نه منتقل شوے وی ،

داچه د غیرمنصرف دپاره سبب جوړیږی نوشرط وړله داد ے چه دابه خاص وی دفعل سره،لکه شَمَّرَ دادیواس نوم د ے،اوکچرےخاص نه وی دفعل سره،نوبیاوړله شرط داد ے چه ددی په اوّل کښ به یو حرف دحروف اتین نه راغلے وی،اوپه آخرکښ به هغه تانه قبلوی، چه بدلیږی په حالت د وقف کښ په هٰا سره،لکه اَحْمَدُ ـ

⑥ اسماء ستہ مکبرہ

داسماء ستہ مکبرہ داعراب دپیژندلونه مخکښ دشپږ و خبرو پیژندل ضروری دی ،

اولنئ خبره داده چه اعراب په **دوه قسمه د ے**

① اعراب بالحرکت ② اعراب بالحرف

① اعراب بالحرکت ، هغی ته وائی چه حرکت په حرکت سره بدل شی اودادری دی ، ضمّہ ، فتحہ ،کسرہ ،

② اعراب بالحرف ،هغی ته وائی چه حرف په حرف سره بدل شی اودا هم دری دی، واؤ ،الف ، یاء ، ـ ،

دویمہ خبره داده چه اعراب بالحرکت اصل د ے اواعراب بالحرف فرع ده،ځکہ چه اعراب بالحرف داعراب بالحرکت نه پیداشوے دے،

واؤ د دوؤ ضمو نه جوړ شوے دے، الف د دوؤ فتحو نه جوړ شوے دے او یاء د دوؤ کسرو نه جوړه شوی ده، ځکه واؤ د ځان نه ماقبل ضمه غواړی، او الف د ځان نه ماقبل فتحه غواړی، او یاء د ځان نه ماقبل کسره غواړی ـ

دریمه خبره داده چه مفرد اصل دے او تثنیه او جمع فرعه ده، ددی وجې نه نحویانو مفرد لره اعراب بالحرکت ورکړو، او تثنیه او جمع لره ئې اعراب بالحرف ورکړو، نو اصل ئې اصل لره ورکړو، او فرع ئې فرع لره ورکړه ـ

څلورمه خبره داده چه کله مفرد ته اعراب بالحرکت میلاؤ شو، او تثنی او جمع ته اعراب بالحرف میلاؤ شو، نو د دوی په مینځ کښ اجنبیت پیدا شو، نو ددی اجنبیت ختمولو دپاره نحویانو دی مفرداتو لره اعراب بالحرف ورکړو، دپاره ددی چه دا اجنبیت ختم شی ـ

پنځمه خبره، سوال دادے چه دا اعراب بالحرف دپاره شپږ اسماء ولې منتخب شو؟

جواب شپږ اسماء ځکه منتخب شو چه د تثنی او جمعے د اعراب حالات ټول شپږ دی !

شپږمه خبره، سوال دادے چه دا شپږ اسماء ولې منتخب شو؟
جواب ځکه چه په دی شپږ و اسماؤ کښ صلاحیت د اعراب بالحرف موجود دے !

اسماء ستہ مکبرہ شپږ دی

اَبٌ آخٌ هَنٌ حَمٌ فَمٌ ذُوْمَالٍ ؛

ددوی اعراب دادے چه رفع به ئې په واؤ لفظی سره وی، نصب به ئې په الف لفظی سره وی، او جر به ئې په یاء لفظی سره وی، لکه جَاءَنِيْ اَبُوْكَ، رَأَيْتُ اَبَاكَ، مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ، نو ددوی به دا

اعراب علله وی چه په دوی کښ شلور شرائط موجود وی ① دا به مکبروی مصغر به نه وی، کچرے دامصغروی نو ددوی اعراب به بیا اعراب بالحرکت وی لکه جَاءَنِیْ اُخَیُّكَ رَأَیْتُ اُخَیَّكَ مَرَرْتُ بِاُخَیِّكَ ۔

② دااسماء به مفرد وی تثنیه اوجمع به نه وی، کچرے تثنیه اوجمع وی نو ددوی اعراب به بیا د تثنیه اودجمع په شان وی، لکه جَاءَنِیْ اَخَوَانِ رَأَیْتُ اَخَوَیْنِ ، مَرَرْتُ بِاَخَوَیْنِ ۔

③ دااسماء به مضاف وی، کچرے مضاف نه وی نو ددوی اعراب به بیا اعراب بالحرکت وی، لکه جَاءَنِیْ اَبٌ ، رَأَیْتُ اَبًا ، مَرَرْتُ بِاَبٍ ۔

④ دااسماء به دیاء متکلم نه علاوه بل چاته مضاف وی، کچرے دیاء متکلم طرف ته مضاف وی نو بیا به ددوی اعراب تقدیری وی، لکه جَاءَنِیْ اَبِیْ ، رَأَیْتُ اَبِیْ ، مَرَرْتُ بِاَبِیْ ،،

کچرے دیاء متکلم طرف ته مضاف نه وی نو بیا به ضمیر د مخاطب ته مضاف وی، لکه جَاءَ اَبُوْكَ ، رَأَیْتُ اَبَاكَ ، مَرَرْتُ بِاَبِیْكَ ،،

یابه ضمیر دجمع متکلم طرف ته مضاف وی، لکه جَاءَ اَبُوْنَا ، رَأَیْتُ اَبَانَا ، مَرَرْتُ بِاَبِیْنَا ،، یابه ضمیر د غائب طرف ته مضاف وی، لکه جَاءَ اَبُوْهَا ، رَأَیْتُ اَبَاهَا ، مَرَرْتُ بِاَبِیْهَا ،، یابه اسم ظاهر ته مضاف وی، لکه جَاءَ اَبُوْزَیْدٍ ، رَأَیْتُ اَبَازَیْدٍ ، مَرَرْتُ بِاَبِیْ زَیْدٍ ۔

په اسماء سته مکبره کښ شپږم نمبر ذُوْ دے، دا به همیشه اسم جنس طرف ته مضاف وی، لکه جَاءَ ذُوْمَالٍ ، رَأَیْتُ ذَامَالٍ ، مَرَرْتُ بِذِیْ مَالٍ ،

اسم جنس هغه اسم ته وائی چه په قلیل اوکثیر دواړو باندے یوشان صادقیږی لکه مَالٌ او مَاءٌ ۔

⑤ تثنیه حقیقی

تثنیه حقیقی ، هغی تثنی ته وائی چه په هغی کښ درے شرائط موجود وی ، ① شکل اوصورت به ئی د تثنیه وی ② معنی به ئی د تثنیه وی ③ ددی

دجنس نه به مفرد موجود وی لکه مُسْلِمَانِ، ددی مفرد مُسْلِمٌ دے ۔

⑧ تثنیه صوری

تثنیه صوری ، هغې تثنیې ته وائی چه په هغې کښ دوه شرائط موجود وی ① شکل اوصورت به ئې دتثنیه وی ② معنی به ئې هم دتثنیه وی، لکه اِثْنَانِ، او اِثْنَتَانِ، شکل اوصورت ئې دتثنیه دے، او معنی ئې هم دَ تثنیه ده، خو دجنس نه ئې مفرد موجود نه دے ۔

⑨ تثنیه معنوی

تثنیه معنوی ، هغې تثنیې ته وائی چه په هغې کښ یو شرط موجود وی ، ① صرف معنی به ئې دتثنیه وی لکه کِلَا، او کِلْتَا، چه ددی صرف معنی دَ تثنیه ده نه ئې شکل اوصورت دتثنیه دے، او نه ئې دجنس نه مفرد موجود دے ۔

دکِلَا او کِلْتَا دپاره شرط دا دے چه ددواړه به ضمیر دتثنیه طرفته مضاف وی، لکه کِلَاهُمَا، او کِلْتَاهُمَا ، ددی دریؤ واړو اعراب دا دے ، رفع به ئې راځی په الف ساکن ماقبل مفتوح سره، نصب او جر به ئې راځی په یاء ساکن ماقبل مفتوح سره ،

دتثنیه حقیقی مثال ، جَاءَنِیْ رَجُلَانِ، رَأَیْتُ رَجُلَیْنِ ، مَرَرْتُ بِرَجُلَیْنِ ، دتثنیه صوری مثال ، جَاءَنِیْ اِثْنَانِ، رَأَیْتُ اِثْنَیْنِ ، مَرَرْتُ بِاِثْنَیْنِ ، دتثنیه معنوی مثال ، جَاءَ الرَّجُلَانِ کِلَاهُمَا، رَأَیْتُ الرَّجُلَیْنِ کِلَیْهِمَا، مَرَرْتُ بِالرَّجُلَیْنِ کِلَیْهِمَا ۔

⑩ جمع حقیقی

جمع حقیقی ، هغې جمع ته وائی چه په هغې کښ درې شرائط موجود وی ، ① شکل اوصورت به ئې دجمع وی ② معنی به ئې هم دجمع وی ③ ددی دجنس نه به مفرد هم موجود وی لکه مُسْلِمُوْنَ، چه جمع د مُسْلِمٌ ده، ددی جمع حقیقی ته جمع مذکر سالم هم وائی ۔

⑪ جمع صورتی

جمع صورتی ، هغه جمع ته وائی چه په هغه کښی دغه شرائط موجود وی ① شکل او صورت به ئی د جمع وی ② معنی به ئی هم د جمع وی لکه د عِشْرُوْنَ نه واخله تر تِسْعُوْنَ پورې چه ددې شکل او صورت هم د جمع د ے او معنی ئی هم د جمع د ه خو د جنس نه ئی مفرد موجود نه د ے ـ

(سوال) د عِشْرُوْنَ خو مفرد موجود د ے چه عَشَرٌ د ے ؟

(جواب) عَشَرٌ د عِشْرُوْنَ واحد نه د ے ځکه چه عَشَرٌ د عِشْرُوْنَ واحد شی نو په جمع کښی کم نه کم درې افراد موجود یدل لازمی وی خو عَشَرٌ چه درې ځله شی نو درې نه خو ثَلٰثُوْنَ جوړیږی !

⑫ جمع معنوی

جمع معنوی ، هغه جمع ته وائی چه په هغه کښی یو شرط موجود وی ① صرف معنی به ئی د جمع وی لکه اُولُوْ چه ددې شکل او صورت هم د جمع نه د ے او د جنس نه ئی مفرد هم موجود نه د ے ـ

ددې دریو واړو اعراب داد ے رفع به ئی په واؤ ساکن ماقبل مضموم سره وی، نصب او جر به ئی په یاء ساکن ماقبل مکسور سره وی ،

د جمع حقیقی مثال ، جَاءَ مُسْلِمُوْنَ ، رَأَيْتُ مُسْلِمِيْنَ ، مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيْنَ ،

د جمع صورتی مثال ، جَاءَ عِشْرُوْنَ رَجُلاً ، رَأَيْتُ عِشْرِيْنَ رَجُلاً مَرَرْتُ بِعِشْرِيْنَ رَجُلاً ،

د جمع معنوی مثال ، جَاءَ اُولُوْ مَالٍ ، رَأَيْتُ اُولِيْ مَالٍ ، مَرَرْتُ بِاُولِيْ مَالٍ ـ

⑬ اسم مقصور

اسم مقصور ، هر هغه اسم ته وائی چه د هغی په آخر کښی الف مقصوره راغلے وی ، لکه مُوْسٰی ـ

⑭ هر هغه اسم چه غیر وی د جمع مذکر سالم نه او مضاف شو ے وی یاء د متکلم طرف ته ، لکه غُلَامِیْ ـ

ددی دواړو اعراب داد ے رفع به ئې په تقدیر دضمی سره وی، نصب به ئې په تقدیر د فتحې سره وی، او جر به ئې په تقدیر د کسرې سره وی ،

داسم مقصور مثال ، جَاءَ مُوْسٰی ، رَأَیْتُ مُوْسٰی ، مَرَرْتُ بِمُوْسٰی ـ

ددویم اسم دپاره مثال ، جَاءَ غُلَامِیْ ، رَأَیْتُ غُلَامِیْ ، مَرَرْتُ بِغُلَامِیْ ـ

سوال ددی دواړو دا اعراب تقدیری ولی د ے لفظی ولی نه د ے ؟

جواب داسم مقصور وجه داده چه د اسم مقصور په آخرکښ الف راغلے د ے نو الف ساکن وی، او ساکن له چه حرکت ورکړې نو دا بیا ساکن نه پاتی کیږی نو چه ساکن پاتی نه شو نو الف نه شو نو چه الف نه شو نو دا اسم اسم مقصور نه شو !

ددویم اسم وجه داده چه دا مضاف شو ے د ے یاء د متکلم ته ، او یاء ماقبل کسره غواړی نو هر کله چه پری جَاءَ راغے نو دا ضمه غواړی ، او چه رَأَیْتُ پری راغے نو دا فتحه غواړی ، او چه باء حرف جر پری راغے نو دا کسره غواړی ، نو په یو حرف باندې په یو وخت کښ دوه اعراب نه شی جاری کید لے ، او یاء د متکلم ته ئې اضافت ممکن شو ے د ے ، او دا عوامل پری ، د وسته د اخلیږی نو مونږ د یاء حرکت له ترجیح ورکړه نو د لفظی حرکت پری جاری کړو په لفظ کښ ، نو د عواملو حرکت ځکه تقدیری شو !

⑮ اسم منقوص

اسم منقوص ، هر هغه اسم ته وائی چه د هغې په آخرکښ یاء راغلی وی ، او ماقبل ئې مکسور وی ـ

داسم منقوص اعراب داد ے رفع به ئې په تقدیر د ضمې سره وی او نصب به ئې په فتحې لفظی سره وی ، او جر به ئې په تقدیر د کسرې سره وی ، لکه جَاءَ الْقَاضِیْ ، رَأَیْتُ الْقَاضِیَ ، مَرَرْتُ بِالْقَاضِیْ ـ

سوال ددی حالت نصبی ولی لفظی د ے او حالت رفعی او حالت جری ولی تقدیری دی ؟

جواب) داځکه چه ضمه اوکسره ثقیل دی یاء ئې نه شي برداشت کولے، اوفتحه سپک حرکت دے نو یاء فتحه برداشت کولے شي، نو ددې وجې نه ئې حالت رفعي او حالت جري په اعرابِ تقدیري سره دی، او حالت نصبي په اعراب لفظي سره دے۔

⑯ جمع مذکر سالم

جمع مذکر سالم چه مضاف شوے وی یاء د متکلم طرف ته، ددې اعراب داد ے رفع به ئې په واؤ تقدیري سره وی، نصب اوجر به ئې دواړه په یاء ماقبل مکسور سره وی، لکه جَاءَ مُسْلِمِيَّ، رَأَيْتُ مُسْلِمِيَّ، مَرَرْتُ بِمُسْلِمِيَّ
مُسْلِمِيَّ په اصل کښ مُسْلِمُوْنَيَ وو، نون تر ینه د اضافت د وجې نه اوغورځیده نو مُسْلِمُوْيَ شو، او یاء ماقبل کسره غواړي، نو ضمه هم په کسرې سره بدل کړے شوه، نو مُسْلِمِيَّ شو۔

سوال) حالت رفعي په تقدیر د واؤ سره دے او حالت نصبي او جري په یاء لفظي سره دی، نو په یو حالت کښ اعراب تقدیري او په دوؤ حالتونو کښ اعراب لفظي ولې شو؟

جواب) په حالت رفعي کښ واؤ په یاء سره بدل شوے دے، او په بدلیدلو سره څیز د خپل اصل نه اوځي، نو واؤ د خپل اصل نه اووتو، نو ځکه ئې رفع په تقدیر د واؤ سره شوه،
او په حالت نصبي او جري کښ یاء په یاء کښ مُدْغَمْ شوی ده، او په ادغام سره څیز د خپل اصل نه نه اوځي، نو یاء په لفظ کښ موجود ده، نو ځکه ئې اعراب لفظي دے۔

فائده (داعراب تعریف) هر هغه حرف یا حرکت ته وائي چه په هغې سره د اسم معرب آخر مختلف کیږي، اعراب په **دوه قسمه دے**

① اعراب لفظي ② اعراب تقدیري

① اعراب لفظي، هغې ته وائي چه په هغې باندې تلفظ کیدے شي لکه

جَاءَ زَيْدٌ ، رَأَيْتُ زَيْدًا ، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ ۔

② اعراب تقديري ، هغې ته وائي چه په هغې باندې تلفظ نه شي کيد لے لکه جَاءَ مُوْسٰى ، رَأَيْتُ مُوْسٰى ، مَرَرْتُ بِمُوْسٰى ۔

بيا هريو ددې دواړونه په **دوه قسمه دے** ① ذاتي ② وصفي

① ذاتي ، هغې ته وائي چه حرف په حرف سره بدليږي لکه جَاءَ اَبُوْكَ ، رَأَيْتُ اَبَاكَ ، مَرَرْتُ بِاَبِيْكَ ۔

② وصفي ، هغې ته وائي چه حرکت په حرکت سره بدليږي لکه جَاءَ زَيْدٌ ، رَأَيْتُ زَيْدًا ، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ ۔

بيا ددې دواړونه هريو په **دوه قسمه دے** ① حقيقي ② حکمي

① حقيقي ، هغې ته وائي چه يو حالت دبل حالت تابع نه وي لکه جَاءَ زَيْدٌ ، رَأَيْتُ زَيْدًا ، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ ۔

② حکمي ، هغې ته وائي چه په هغې کښ يو حالت دبل تابع وي لکه جَاءَ عُمَرُ ، رَأَيْتُ عُمَرَ ، مَرَرْتُ بِعُمَرَ ۔

فصل بدانکه اعراب مضارع سه است رفع ونصب وجزم ۔۔ تا فصل آخر ۔۔

په کلام دعرب کښ دوه څيزونه معرب دي ① يو هغه اسم متمکن چه په ترکيب کښ واقع شي نو دا به معرب وي لکه جَاءَ فِيْ زَيْدٌ ② يو هغه فعل مضارع چه خالي وي دنون تاکيد نه او نون دجمع مؤنث نه ، نو دا به هم معرب وي ، داسم متمکن اعراب خو مونږه اوپيژندلو چه اسم متمکن په اعتبار داعراب سره په شپاړس قسمه وو ، نو اوس د فعل مضارع اعراب پيژندل غواړي ، نو دفعل مضارع داعراب پيژندلو نه مخکښ په طور د تمهيد ديو څو خبرو پيژندل ضروري دي ۔۔

① د فعل مضارع اعراب په **درې قسمه دے**

① رفع ② نصب ③ جزم

① رفع ، هغې ته وائي چه په فعل مضارع باندې د عامل لفظ دوجې نه

راشي،او د فعل مضارع عامل رافعه عامل معنوي د ے ۔

سوال عامل معنوي څه ته وائي ؟

جواب عامل معنوي هغې ته وائي چه کله فعل مضارع خالي وي دعواملِ ناصبؤ نه اودعوامل جازمؤ نه ، نودلته به عاملِ معنوي وي لکه يَضْرِبُ، تَضْرِبُ ، تَضْرِبُ ، اَضْرِبُ ، نَضْرِبُ ۔

② نصب ، هغې ته وائي چه په فعل مضارع باندے دعواملِ ناصبؤدوجې نه راشي ، اوداځلور حروف دی ، اَنْ ، لَنْ ، كَيْ ، اِذَنْ ، لكه لَنْ يَضْرِبَ ۔

③ جزم ، هغې ته وائي چه په فعل مضارع باندے دعواملِ جازمؤ دوجې نه راشي اوداپنځهٔ حروف دی ، اِنْ ، لَمْ ، لَمَّا ، لامِ امر ، لاء نهي ۔

② د فعل مضارع رفع په دریؤ څيزونو سره راځي ① په ضمې لفظي سره لكه هُوَيَضْرِبُ ② په ضمې تقديري سره لكه هُوَيَغْزُوْ ③ په اثبات د نون اعرابي سره لكه هُمَايَضْرِبَانِ ۔

اود مضارع نصب هم په دريؤ څيزونو سره راځي ① په فتحهٔ لفظي سره لكه لَنْ يَضْرِبَ ② په فتحهٔ تقديري سره لكه لَنْ يَرْمِيَ ③ په سقوط د نون اعرابي سره لكه لَنْ يَضْرِبَا ۔

اود مضارع جزم هم په دريؤ څيزونو سره راځي ① په سكون د لام كلمې سره لكه لَمْ يَضْرِبْ ② په سقوط د لام كلمې سره لكه لَمْ يَرْضَ ③ په سقوط د نون اعرابي سره لكه لَمْ يَضْرِبَا ۔

③ د فعل مضارع ټولې څوارلس صيغې دی ، دوه پكښې مبني دی لكه يَضْرِبْنَ ، او تَضْرِبْنَ ځكه چه دوی په آخر كښې نون د جمع مؤنث راغلے د ے اواوؤ صيغې داسې دی چه د هغې په آخر كښې نون اعرابي او ضمير بارز د ے هغه داوی څلور پكښې تثنې دی لكه يَضْرِبَانِ ، تَضْرِبَانِ ، تَضْرِبَانِ ، تَضْرِبَانِ ، اودوه جمعې دی يوه جمع مذكر غائب ، اودويمه جمع مذكر حاضر لكه يَضْرِبُوْنَ تَضْرِبُوْنَ ، اويو واحد مؤنث حاضر لكه تَضْرِبِيْنَ ، اوپنځهٔ صيغې داسې دی

چه دهغې په آخرکښ نه نون اعرابي شته اونه ضمير بارز شته، او هغه داې
يَضْرِبُ، تَضْرِبُ، تَضْرِبُ، أَضْرِبُ، نَضْرِبُ ـ

④ فعل مضارع په **دوه قسمه ده** ① صحيح ② معتل

① صحيح، هغې ته وائي چه دهغې په لام كلمه كښې حرف علت نه وي راغلے
لكه يَضْرِبُ ـ

② معتل، هغې ته وائي چه دهغې په لام كلمه كښې حرف علت راغلے وي، كه
داحرف علت واؤ وي نو ديته معتل واوي وائي، اوكه داحرف علت ياء وي،
نو ديته معتل يائي وائي، اوكه داحرف علت الف وي نو ديته معتل الفي وائي،
لكه يَدْعُوْ، يَرْمِيْ، يَرْضٰى ـ

⑤ فعل مضارع په اعتبار د اعراب سره په **څلور قسمه ده**

① د فعل مضارع هغه صيغې چه دهغې په آخركښ نه نون اعرابي اونه ضمير
بارز وي، او دا پنځه واړه صيغې صحيح وي يعني په لام كلمه كښ ئې حرف علت
نه وي نو دهغې اعراب دا دے چه رفع به ئې په ضمې لفظي سره وي، نصب
به ئې په فتحې لفظي سره وي، او جزم به ئې په سكون سره وي،

د رفع دپاره مثال: هُوَ يَضْرِبُ، هِيَ تَضْرِبُ، أَنْتَ تَضْرِبُ، أَنَا أَضْرِبُ، نَحْنُ نَضْرِبُ،
د نصب دپاره مثال، لَنْ يَضْرِبَ، لَنْ تَضْرِبَ، لَنْ تَضْرِبَ، لَنْ أَضْرِبَ، لَنْ نَضْرِبَ،
د جزم دپاره مثال، لَمْ يَضْرِبْ، لَمْ تَضْرِبْ، لَمْ تَضْرِبْ، لَمْ أَضْرِبْ، لَمْ نَضْرِبْ ـ

② د فعل مضارع هغه پنځه صيغې چه دهغې په آخركښ نه نون اعرابي راغلے
وي اونه ضمير بارز راغلے وي او دا معتل واوي يا معتل يائي وي نو دهغې
اعراب دا دے چه رفع به ئې په تقدير د ضمې سره وي او نصب به ئې
په فتحې لفظي سره وي او جزم به ئې په سقوط د حرف علت سره وي،

د معتل واوي دپاره مثالونه

د رفع دپاره مثال، هُوَ يَدْعُوْ، هِيَ تَدْعُوْ، أَنْتَ تَدْعُوْ، أَنَا أَدْعُوْ، نَحْنُ نَدْعُوْ،
د نصب دپاره مثال، لَنْ يَدْعُوَ، لَنْ تَدْعُوَ، لَنْ تَدْعُوَ، لَنْ أَدْعُوَ، لَنْ نَدْعُوَ،

دجزم دپاره مثال، لَمْ يَدْعُ ، لَمْ تَدْعُ ، لَمْ تَدْعُ ، لَمْ اَدْعُ ، لَمْ نَدْعُ ـ

دمعتل يائي دپاره مثالونه

درفع دپاره مثال، هُوَ يَرْمِيْ ، هِيَ تَرْمِيْ ، اَنْتَ تَرْمِيْ ، اَنَا اَرْمِيْ ، نَحْنُ نَرْمِيْ ،

دنصب دپاره مثال، لَنْ يَّرْمِيَ ، لَنْ تَرْمِيَ ، لَنْ تَرْمِيَ ، لَنْ اَرْمِيَ ، لَنْ نَّرْمِيَ ،

دجزم دپاره مثال، لَمْ يَرْمِ ، لَمْ تَرْمِ ، لَمْ تَرْمِ ، لَمْ اَرْمِ ، لَمْ نَرْمِ ـ

③ دفعل مضارع هغه پنځهٔ صيغې چه دهغې په آخركښ نون اعرابي اوضمير بارز نه وي را غلے او صحيح نه وي بلكه معتل الفي وي نو دهغې اعراب داد ے چه رفع به ئې په ضمه تقديري سره وي او نصب به ئې په فتحه تقديري سره وي او جزم به ئې په سقوط دالف سره وي ،

درفع دپاره مثال، هُوَ يَرْضٰى ، هِيَ تَرْضٰى ، اَنْتَ تَرْضٰى ، اَنَا اَرْضٰى ، نَحْنُ نَرْضٰى ،

دنصب دپاره مثال، لَنْ يَّرْضٰى ، لَنْ تَرْضٰى ، لَنْ تَرْضٰى ، لَنْ اَرْضٰى ، لَنْ نَّرْضٰى ،

دجزم دپاره مثال، لَمْ يَرْضَ ، لَمْ تَرْضَ ، لَمْ تَرْضَ ، لَمْ اَرْضَ ، لَمْ نَرْضَ ـ

④ دفعل مضارع هغه اووه صيغې چه دهغې په آخركښ نون اعرابي اوضمير بارز وي ـــ برابره خبره ده كه صحيح وي كه معتل يائي وي او كه معتل واوي او كه معتل الفي وي نو دهغې اعراب داد ے رفع به ئې په اثبات دنون اعرابي سره وي نصب او جزم به ئې په سقوط دنون اعرابي سره وي ،

دصحيح دپاره درفع مثال، هُمَا يَضْرِبَانِ ، هُمَا تَضْرِبَانِ ، اَنْتُمَا تَضْرِبَانِ ، اَنْتُمَا تَضْرِبَانِ ، هُمْ يَضْرِبُوْنَ ، اَنْتُمْ تَضْرِبُوْنَ ، اَنْتِ تَضْرِبِيْنَ ـ

دصحيح دپاره دنصب مثال، لَنْ يَّضْرِبَا ، لَنْ تَضْرِبَا ، لَنْ تَضْرِبَا ، لَنْ يَّضْرِبُوْا ، لَنْ تَضْرِبُوْا ، لَنْ تَضْرِبِيْ ـ

دصحيح دپاره دجزم مثال ، لَمْ يَضْرِبَا ، لَمْ تَضْرِبَا ، لَمْ تَضْرِبَا ، لَمْ تَضْرِبَا ، لَمْ يَضْرِبُوْا ، لَمْ تَضْرِبُوْا ، لَمْ تَضْرِبِيْ ـ

دمعتل واوي دپاره درفع مثال، هُمَا يَدْعُوَانِ ، هُمَا تَدْعُوَانِ ، اَنْتُمَا تَدْعُوَانِ اَنْتُمَا تَدْعُوَانِ ، هُمْ يَدْعُوْنَ ، اَنْتُمْ تَدْعُوْنَ ، اَنْتِ تَدْعِيْنَ ـ

دمعتل واوی دپاره دنصب مثال ، لَنْ يَّدْعُوَا ، لَنْ تَدْعُوَا ، لَنْ تَدْعُوَا ، لَنْ تَدْعُوَا ، لَنْ يَّدْعُوْا ، لَنْ تَدْعُوْا ، لَنْ تَدْعِیْ ۔

دمعتل واوی دپاره دجزم مثال ، لَمْ يَدْعُوَا ، لَمْ تَدْعُوَا ، لَمْ تَدْعُوَا ، لَمْ تَدْعُوَا ، لَمْ يَدْعُوْا ، لَمْ تَدْعُوْا ، لَمْ تَدْعِیْ ۔

دمعتل یائی دپاره درفع مثال ، هُمَا يَرْمِيَانِ ، هُمَا تَرْمِيَانِ ، اَنْتُمَا تَرْمِيَانِ ، اَنْتُمَا تَرْمِيَانِ ، هُمْ يَرْمُوْنَ ، اَنْتُمْ تَرْمُوْنَ ، اَنْتِ تَرْمِيْنَ ۔

دمعتل یائی دپاره دنصب مثال ، لَنْ يَّرْمِيَا ، لَنْ تَرْمِيَا ، لَنْ تَرْمِيَا ، لَنْ تَرْمِيَا ، لَنْ يَّرْمُوْا ، لَنْ تَرْمُوْا ، لَنْ تَرْمِیْ ۔

دمعتل یائی دپاره دجزم مثال ، لَمْ يَرْمِيَا ، لَمْ تَرْمِيَا ، لَمْ تَرْمِيَا ، لَمْ تَرْمِيَا ، لَمْ يَرْمُوْا ، لَمْ تَرْمُوْا ، لَمْ تَرْمِیْ ۔

دمعتل الفی دپاره درفع مثال ، هُمَا يَرْضَيَانِ ، هُمَا تَرْضَيَانِ ، اَنْتُمَا تَرْضَيَانِ ، اَنْتُمَا تَرْضَيَانِ ، هُمْ يَرْضَوْنَ ، اَنْتُمْ تَرْضَوْنَ ، اَنْتِ تَرْضَيْنَ ۔

دمعتل الفی دپاره دنصب مثال ، لَنْ يَّرْضَيَا ، لَنْ تَرْضَيَا ، لَنْ تَرْضَيَا ، لَنْ تَرْضَيَا ، لَنْ يَّرْضَوْا ، لَنْ تَرْضَوْا ، لَنْ تَرْضَیْ ۔

دمعتل الفی دپاره دجزم مثال ، لَمْ يَرْضَيَا ، لَمْ تَرْضَيَا ، لَمْ تَرْضَيَا ، لَمْ تَرْضَيَا ، لَمْ يَرْضَوْا ، لَمْ تَرْضَوْا ، لَمْ تَرْضَیْ ۔

فصل بدانکه عوامل اعراب بردو قسم است ،، تا فصل آخر ،،

تر اوسه پورې دمعمول ذکر وو او اوس د عامل ذکر کوی ،

عامل په دوه قسمه دے

① عامل لفظی ② عامل معنوی

① عامل لفظی ، هغې ته وائي چه په هغې باندې تلفظ کيدلے شي لکه فِي الدَّارِ۔

② عامل معنوی ، هغې ته وائي چه په هغې باندې تلفظ نه شي کيدلے لکه يَضْرِبُ۔

عامل لفظی بيا په درې قسمه دے

① اسماء عامله ② افعال عامله ③ حروف عامله

دادری واړه به په دریؤ بابونوکښ ذکرکیږی په اول باب کښ دوه فصلونه دی،نو په اول فصل کښ هغه حروف ذکرکیږی چه هغه عمل کوی په اسم کښ اودا په پنځۀ قسمه دی ،

باب اول درحروف عامله ودرو دو فصل است ،،

فصل اول درحروف عامله دراسم وآں پنج قسم است ،،

① حروف جاره ، په حروف جارؤ کښ څلور خبرې پیژندل ضروری دی ① دحروف جارؤ تعریف ② حروف جاره څومره دی ③ دحروف جارؤ عمل څۀ دے ④ دحروف جارؤ تفصیل ـ

① دحروف جارؤ تعریف ، هغی حروفوته وائی چه هغه دفعل یادشبه فعل معنی خپل مدخول طرف ته راکاږی،لکه مَرَرْتُ بِزَيْدٍ ـ

② حروف جاره اولس دی ، بَا وتَا وكَافْ ولَامْ و وَاؤْ مُنْذُ ومُذْ خَلَا رُبَّ حَاشَا مِنْ عَدَا فِيْ عَنْ عَلٰى حَتّٰى اِلٰى ـ

③ دحروف جارؤعمل داد ے چه دوی په اسم باندې داخلیږی اواسم لره جرورکوی،لکه بِزَيْدٍ ـ

④ دحروف جارؤ تفصیل ، بَا ، داستعانت یعنی دمدد دپاره راځی،لکه كَتَبْتُ بِالْقَلَمِ، لیکل اوکړل ماپه مدد دقلم سره ـ

تَا ، دقسم دپاره راځی،اودا به داخلیږی په لفظ الله باندې،لکه تَاللّٰهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا ،قسم دے په الله چه زه به زید وهم ـ

كَافْ ، دتشبیه دپاره راځی،لکه زَيْدٌ كَالْاَسَدِ، زید دزمری په شان دے ـ

واؤ ، هیشه دقسم دپاره راځی،اودا په اسم ظاهر باندې داخلیږی او په اسم ضمیر باندې نه داخلیږی،لکه وَاللّٰهِ لَاَضْرِبَنَّ زَيْدًا،قسم دے په الله چه زه به زید وهم ـ

لَامْ ، داختصاص دپاره راځی،لکه اَلْمَالُ لِزَيْدٍ،مال چه دے نو دا خاص دے دزید سره ـ

مُنْذُ ومُذْ ، دوی کلمه دپوره مدت دپاره راځي، او کله دابتدائي مدت دپاره راځي ، دابتدائي مدت دپاره مثال، لکه مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، مانه دے لیدلے هغه لره دورځي دجمعې نه ، دپوره مدت دپاره مثال ، مَا رَأَيْتُهُ مُذْ يَوْمَيْنِ، مانه دے لیدلے هغه لره ددوؤ ورځو نه ۔

خَلَا ، حَاشَا ، عَدَا ، دادرې واړه داستثنا دپاره راځي لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ ، جَاءَ فِي الْقَوْمُ حَاشَا زَيْدٍ ، جَاءَ فِي الْقَوْمُ عَدَا زَيْدٍ ، زما خواته قوم راغلے دے مګر زید نه دے راغلے ۔

رُبَّ ، دتقلیل په معنی باندے هم راځي، او کله نا کله دتکثیر دپاره هم راځي ، دتقلیل دپاره مثال ، رُبَّ رَجُلٍ كَرِيمٍ لَقِيتُهُ، لږ دي داسے شریفان سړی چه زه ورسره میلاؤ شوے یم ، دتکثیر دپاره مثال ، رُبَمَا يَوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ كَانُوْا مُسْلِمِيْنَ، ډیر کرته آرزو به اوکړی هغه کسان چه کافران دي کاش کچرے مونږ مسلمانان وے ۔

فِيْ ، دظرفیت دپاره راځي لکه زَيْدٌ فِي الدَّارِ، زید په کور کښ دے ۔

عَنْ ، دمجاوزت دپاره راځي یعني دخپل ځائے نه تجاوز کولو او تیریدلو په معنی راځي لکه رَمَيْتُ السَّهْمَ عَنِ الْقَوْسِ، او ویشتو ما غشے دلیندۍ نه ۔

عَلٰى ، دبلندئ دپاره راځي لکه زَيْدٌ عَلَى السَّطْحِ، زید په چهت باندے دے ۔

اِلٰى ، دانتهاء دپاره راځي لکه سِرْتُ مِنَ الْبَصْرَةِ اِلَى الْكُوْفَةِ، سفر اوکړو ما دبصرې نه ترکوفې پورې ۔

مِنْ ، دابتداء دپاره راځي لکه سِرْتُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ اِلَى الْمَكَّةِ، سفر اوکړو ما دمدینې نه ترمکې پورې ۔

حَتّٰى ، دانتهاء دپاره راځي لکه اَكَلْتُ السَّمَكَةَ حَتّٰى رَأْسِهَا، اوخوړو ما مهی سره دسرنه ۔

---

② حروف مشبه بالفعل ، په دیکښ درې خبرې پیژندل ضروری دي ،
① حروف مشبه بالفعل څومره دي ② دحروف مشبه بالفعل وجه تسمیه څه ده؟

③ دحروف مشبہ بالفعل عمل څهٔ دے ،
① حروف مشبہ بالفعل شپږ دی، اِنَّ اَنَّ كَاَنَّ لَيْتَ لٰكِنَّ لَعَلَّ ۔
② دحروف مشبہ بالفعل وجہ تسمیہ داده چه دوی ته حروف مشبہ بالفعل
ځکه وائی چه د فعل سره ئی مشابهت راغلے دے هم لفظًا او هم معنًا او هم عملًا ،
لفظًا مشابهت ئی داد ے چه په فعل کښ څه ثلاثی وی او څه رباعی وی لکه
اِنَّ اَنَّ لَيْتَ دوی ثلاثی دی ، او كَاَنَّ لٰكِنَّ لَعَلَّ دوی رباعی دی ،
معنًا مشابهت ئی داد ے چه دوی ټول په معنی د فعل سره دی ، اِنَّ او اَنَّ په معنی
د حَقَّقْتُ سره دی، او كَاَنَّ په معنی د تَشَبَّهْتُ سره دے ، او لَيْتَ په معنی د تَمَنَّيْتُ
سره دے ، او لٰكِنَّ په معنی د اِسْتَدْرَكْتُ سره دے ، او لَعَلَّ په معنی د تَرَجَّيْتُ سره
دے ،
عملًا مشابهت ئی داد ے چه دوی هم د فعل متعدی په شان په دوؤ اسمونو
باندے دلخلیږی اولنی اسم ته نصب ورکوی او دویم اسم ته رفع ورکوی ،
③ دحروف مشبہ بالفعل عمل داد ے چه دوی به په دوؤ اسمونو باندے
داخلیږی اولنی اسم له به نصب ورکوی، او دویم اسم له به رفع ورکوی ،
اولنی اسم ته به اسم د حروف مشبہ بالفعل وائی، او دویم اسم ته به خبر د
حروف مشبہ بالفعل وائی، لکه اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ، په دی مثال کښ اِنَّ حرف دے د حروف
مشبہ بالفعل نه ، او زَيْدًا اسم د حروف مشبہ بالفعل دے، او قَائِمٌ خبر د حروف
مشبہ بالفعل دے ۔
④ مَا و لَا الْمُشَبَّهَتَانِ بِلَيْسَ ، هغه مَا و لَا چه مشابه وی د لَيْسَ سره ، ددی نه
مخکښ دد ریؤ خبرو پیژندل ضروری دی ① د مَا و لَا مشبهتان بلیس وجہ
تسمیہ ② عمل د مَا و لَا مشبهتان بلیس ③ د مَا و لَا په مینځ کښ فرق ،
① د مَا و لَا مشبهتان بلیس وجہ تسمیہ داده چه د دوی مشابهت راغلے دے
د لَيْسَ سره په دوؤ خبرو کښ ، یو په نفی کښ ځکه چه د لَيْسَ معنی نفی ده نو
د غه شان د مَا و لَا معنی هم نفی ده ، دویمه خبره داده ځکه چه لَيْسَ په

دوؤ اسمونو باندې داخلیږی اولنی اسم ته رفع ورکوی اودویم اسم ته نصب ورکوی، لودغه شان مَا ولاَ هم په دوؤ اسمونو باندې داخلیږی اولنی اسم ته رفع ورکوی اودویم اسم ته نصب ورکوی ،

① عمل د مَا ولاَ مشبهتان بلیس واضح د ے چه ددوی عمل په شان دلَیْسَ د ے،لکه څنګه چه لَیْسَ په دوؤ اسمونو باندې داخلیږی اولنی اسم ته رفع ورکوی، اودویم اسم ته نصب ورکوی،لودغه شان مَا ولاَ په دوؤ اسمونو باند ے داخلیږی،اولنی اسم لره رفع ورکوی،اودویم اسم لره نصب ورکوی لکه مَا زَیْدٌ قَائِمًا ،

② د مَا ولاَ په مینځ کښ فرق داد ے چه مَا په نکره او معرفه دواړو باندې داخلیږی ، د معرفه مثال ،مَا زَیْدٌ قَائِمًا ، د نکره مثال ،مَا رَجُلٌ قَائِمًا ، اولاَ صرف په نکره باند ے داخلیږی اوپه معرفه باندې نه داخلیږی،لکه لاَرَجُلٌ قَائِمًا، اولاَ زَیْدٌ قَائِمًا،نه شی ویلے ـ

③ لاء نفی جنس ، هغی لاء ته وائی چه راځی دپاره دنفی دجنس ، مطلب داد ے چه لاء نفی جنس به په دی خبره باندې دلالت کوی چه خبر دلاء نفی جنس دلاء نفی جنس دا ټول دتمام افرادو نه نفی شو ے د ے،لکه لاَ رَجُلَ قَائِمٌ فِي الدَّارِ، هیڅ یو سړے اولاړ نشته په کورکښ ،

دلاء نفی جنس دعمل دپیژندلو نه مخکښ بوه خبره پیژندل ضروری دی مفرد به دڅلور ځیزونو په مقابله کښ راځی ① مفرد به د مرکب په مقابله کښ راځی ② مفرد به دتثنیه اودجمع په مقابله کښ راځی ③ مفرد به دجملی په مقابله کښ راځی ④ مفرد به د مضاف اودشبه مضاف په مقابله کښ راځی ،،

دلته د مفرد نه هغه مفرد مراد د ے چه په مقابله د مضاف اوشبه مضاف کښ دی، چه دلته کله ذکرشی چه اسم دلاء نفی جنس به مفرد دی نو مطلب داد ے چه مضاف اوشبه مضاف به نه دی ،

عمل دلاء نفي جنس داد ے چه خبر به ددې همیشه مرفوع وي، اود اسم دپاره یوځو صورتونه دي ① هرکله چه دا اسم دلاء نفي جنس مضاف وي نو دا به یا منصوب وي لکه لَاغُلَامَ رَجُلٍ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ ② هرکله چه اسم دَ لاء نفي جنس نکره وي او مفرد وي نو په دې صورت کښې به دا مبني وي په فتحې سره، لکه لَارَجُلَ فِي الدَّارِ ③ هرکله چه اسم دلاء نفي جنس معرفه وي نو تکرار د معرفې سره د تکرار دلاء نه منړلئ د ے، نو په دې صورت کښې به اسم دلاء نفي جنس مرفوع وي د ابتداء په بنیاد باندې، او دالاء به مُلْغٰی عن العمل وي یعني دالاء به په دې صورت کښې هیڅ عمل نه کوي، لکه لَازَيْدٌ عِنْدِيْ وَلَا عَمْرٌو ④ هرکله چه په کلام کښې تکرار دلاء راشي سره د اسم دلاء نفي جنس نه، خو چه اسم دلاء نفي جنس مفرد وي او نکره وي لکه لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ، نو په دې صورت کښې پنځه وجې جائز دي،

① دواړه اسمونه به مبني وي په فتحې سره، لکه لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ، وجه داده چه دلته دواړه ځایه لَاء دلاء نفي جنس دپاره د ے او اسم دَ لَاء نفي جنس چه کله نکره وي او مفرد وي نو دا به مبني وي په فتحې سره۔

② دواړه اسمونه به مرفوع وي، لکه لَاحَوْلٌ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ، وجه داده چه دلته به دواړه ځایه لَاء لاء مشابه بلیس وي او اسم دلاء مشابه بلیس مرفوع وي۔

③ اولنی اسم به مبني وي په فتحې سره اودویم اسم به مرفوع وي، لکه لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةٌ اِلَّا بِاللّٰهِ، وجه داده چه اولنۍ لاء به دلاء نفي جنس شي ځکه دلاء نفي جنس اسم چه کله مفرد وي او نکره وي، نو دا مبني وي په فتحې سره، او دویمه لاء به لاء مشابه بلیس شي او دا اسم مرفوع غواړي۔

④ اولنی اسم به مرفوع وي او دویم اسم به مبني وي په فتحې سره، لکه لَاحَوْلٌ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ وجه داده چه اولنۍ لاء به لاء مشابه بلیس شي او دویمه لَاء به لاء نفي جنس شي، او اسم دلاء نفي جنس چه مفرد وي او نکره وي،

نو دا مبني وي په فتحې سره ـ

● اولنی اسم به مبني وي په فتحې سره، او دويم اسم به منصوب وي لکه لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ وجه دا ده چه اولنۍ لاء به لاء نفي جنس شي، او اسم چه د لاء نفي جنس مفرد وي او نکره وي نو دا مبني وي په فتحې سره، او دويمه لاء به زايده شي او د دويم اسم به عطف شي په محل قريبه د حَوْلَ باندې، نو هغه منصوب دې، نو دا به هم منصوب وي ـ

علامات د لاء نفي جنس ، په مصدر او په اسم فاعل او په اسم مفعول او په صفت مشبه باندې چه کومه لاء داخله شي نو هغه به عام طور لاء د لاء نفي جنس وي ، د مصدر مثال ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه په دې مثال کښې لاء په مصدر باندې داخله شوې ده ، د اسم فاعل مثال ، لَاهَادِيَ لَهٗ په دې مثال کښې لاء په اسم فاعل باندې داخله شوې ده ، د اسم مفعول مثال ، لَامَعْبُوْدَ اِلَّاهُوَ ، په دې مثال کښې لَاء په اسم مفعول باندې داخله شوې ده ، د صفت مشبه مثال ، لَاحَلِيْمَ اِلَّا ذُوْتَجْرِبَةٍ په دې مثال کښې لَاء په صفت مشبه باندې داخله شوې ده ـ

⑤ حروف نداء ، په حروف نداء کښې دې څلور شيان ښودل شوې دی ،
① تعريف د حروف نداء ② تعداد د حروف نداء ③ د حروف نداء عمل څهٔ دے ،

① تعريف د حروف نداء ، د حرف نداء لغوی معنی ده آواز کول ،
په اصطلاح کښې حرف نداء هغې ته وائي چه په هغې سره متکلم مخاطب ځان طرف ته رامتوجه کړي، لکه يَا زَيْدُ ،

② حروف نداء پنځهٔ دی ، يَا ، اَيَا ، هَيَا ، اَیْ ، همزه مفتوحه ،
يَا ، د منادی قريب او بعيد دواړو د پاره راځي ، اَيَا او هَيَا د منادی بعيد د پاره راځي ، اَیْ او همزه مفتوحه د منادی قريب د پاره راځي ـ
چه په کوم ځائے کښې نداء راشي نو هلته به څلور څيزونه راځي ،

① منادِی، آوازکونکی ته وائی ② منادٰی، چه چاته آوازاوکړے شی، ③ حرف نداء، چه په کوم څیزسره آوازاوکړی ④ مقصود بالنداء، چه دکوم مقصد دپاره آوازاوکړے شی ـ

④ دحروف نداء د عمل دپاره څلورصورتونه دی،

① هرکله چه منادٰی مضاف وی نوبیابه دامنصوب وی لکه یَاعَبْدَ اللّٰهِ ـ

② هرکله چه منادٰی مشابه بالمضاف وی نوبیابه منادٰی منصوب وی، مضاف به نه وی خود مضاف سره به مشابه وی څنګه چه دمضاف معنی بغیردمضافُ الیه نه ذهن ته نه راځی نودغه شان دمشابه بالمضاف معنی بغیردبلی کلمی نه ذهن ته نه راځی لکه یَاطَالِعًاجَبَلًا، اے ختونکیه دغرهٔ نو چه صرف طَالِعًا اووائی نوددی معنی بغیردجَبَلًا نه ذهن ته نه راځی ـ

③ هرکله چه منادٰی نکره وی اوغیرمعینه وی نومنادٰی به بیامنصوب وی، لکه چه ړوندسړے اووائی یَارَجُلًا خُذْ بِیَدِیْ، اوکهٔ روغ سړے آوازاوکړی نودابه بیامعرفه شی ـ

④ هرکله چه منادٰی مفرد معرفه وی نودابه مبنی وی په علامی درفع سره، نوعلامه درفع به کله ضمه لفظی وی لکه یَازَیْدُ، یابه ضمه تقدیری وی، لکه یَاقَاضِیْ، یابه الف لفظی وی لکه یَازَیْدَانِ، یابه واوٌ لفظی وی، لکه یَامُسْلِمُوْنَ ـ

تراوسه پورے دهغه حروفو ذکراوشو چه لفظی عمل کوو په اسم کښ، اوس دهغوحروفو ذکرکیږی چه لفظی عمل کوی په فعل مضارع کښ ،،

فصل دوم درحروف عامل درفعل مضارع وآں بردوقسم است ،،

قسم اول حروفیکہ فعل مضارع رانصب کنند وآں چہاراست ،،

هغه حروف چه هغه عمل کوی په فعل مضارع کښ نوهغه

په دوه قسمه دی

① حروف ناصبه ② حروف جازمه

① حروف ناصبه څلوردی، ① اَنْ، ② لَنْ، ③ کَیْ، ④ اِذَنْ،

هرکله چه داخلو رحروف داخل شی په فعل مضارع باندې ـ نو په فعل مضارع کښ هم لفظی عمل کوی او هم معنوی ، په لفظی عمل کښ داخلو روا په مشترک دی ،
لفظی عمل ددوی داد ے چه د فعل مضارع پنځو صیغو لره نصب ورکوی
لکه لَنْ یَّضْرِبَ ، لَنْ تَضْرِبَ ، لَنْ تَضْرِبَ ، لَنْ اَضْرِبَ ، لَنْ نَّضْرِبَ ،،
او داوو صیغونه نون اعرابی غورځوی لکه لَنْ یَّضْرِبَا ، لَنْ تَضْرِبَا لَنْ تَضْرِبَا
لَنْ تَضْرِبَا ، لَنْ یَّضْرِبُوْا ، لَنْ تَضْرِبُوْا ، لَنْ تَضْرِبِیْ ،،
او په دوؤ صیغو کښ هیڅ عمل هم نه کوی ځکه چه هغه مبنی دی لکه
لَنْ یَّضْرِبْنَ ، لَنْ تَضْرِبْنَ ـ

معنوی عمل ددوی جدا جدا دے ،،

دآنْ معنوی عمل ، هرکله چه آنْ داخل شی په فعل مضارع باندې ، نو مضارع په تاویل د مصدر سره گرځوی یعنی دافعل مضارع په معنی د مصدر گرځی ، تاویل د مصدر دیته وائی چه دآنْ په کوم فعل باندې داخل شو ے وی نو ددغه فعل مصدر به روا خلے که مقصود فاعل وی ، نو ضمیر د فاعل ته به ئے مضاف کړے ، او که مقصود مفعول وی ، نو ضمیر د مفعول ته به ئے مضاف کړے لکه اُرِیْدُ اَنْ تَقُوْمَ په معنی د اُرِیْدُ قِیَامَكَ شو ـ

دلَنْ معنوی عمل ، دا په فعل مضارع باندې داخلیږی او په فعل مضارع کښ تاکید پیدا کوی او د مستقبل سره ئے خاص کوی او نفی پکښ پیدا کوی لکه لَنْ یَّخْرُجَ زَیْدٌ ، هرگز به زید او نه وځی ـ

دکَیْ معنوی عمل ، داد سببیت دپاره راځی ، ددی معنی ده چه ماقبل دکَیْ به سبب وی دپاره د مابعد دکَیْ ، لکه اَسْلَمْتُ کَیْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ ، ما اسلام راوړو دپاره ددی چه زهٔ جنت ته داخل شم ، نو اسلام راوړل سبب شو ددخول د جنت ـ

دإِذَنْ معنوی عمل ، دا دکلام د جواب دپاره راځی همیشه ، برابره خبره ده چه دا کلام په لفظ کښ ذکر وی او که ذکر نه وی لکه تاته څوک او وائے چه آنَا اٰتِیْكَ غَدًا ، زه به صبا تاته راځم ، نو ته ورته په جواب کښ او وائے إِذَنْ اُکْرِمَكَ

په هغې وخت کښ به زهٔ ستا اکرام اوکړم۔

اوآنْ به دشپږو حروفو نه روستو مقدر وی،

① دحَتّٰی نه به روستو آنْ مقدر وی، لکه مَرَرْتُ حَتّٰی اَدْخُلَ الْبَلَدَ، اَیْ اَنْ اَدْخُلَ الْبَلَدَ ۔

② دهغې واؤ نه روستو به آنْ مقدر وی چه هغه په معنی د اِلٰی آنْ یا د اِلَّا آنْ سره وی لکه لَاَلْزِمَنَّكَ اَوْتُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ، اَيْ اِلٰی اَنْ تُعْطِيَنِيْ حَقِّيْ ۔

③ دواوِ صرف نه به روستو آنْ مقدر وی، واوِ صرف هغې واؤ ته وائی چه ماقبل والا عامل په مابعد والا جمله باندے دداخيليد و نه منع کوی یعنی کوم ځیز چه عامل دے په ماقبل کښ هغه به عامل نه وی په مابعد کښ، لکه لَاتَنْهَ عَنْ خُلُقٍ وَتَاْتِيَ مِثْلَهٗ، اَيْ وَاَنْ تَاْتِيَ مِثْلَهٗ ۔

④ دلامِ جحد نه به روستو آنْ مقدر وی، لَامِ جحد هغې لَام ته وائی چه دَ کَانَ دخبر نه روستو راځی، هغه کَانَ چه په هغې باندے نفی داخله شوی وی، لکه مَاكَانَ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ، اَيْ لِاَنْ يُعَذِّبَهُمْ ۔

⑤ دلامِ کَیْ نه به روستو آنْ مقدر وی، لامِ کَیْ هغه لَام ته وائی چه هغه په معنی د سببیت سره وی، لکه اَسْلَمْتُ لِاَدْخُلَ الْجَنَّةَ، اَيْ لِاَنْ اَدْخُلَ الْجَنَّةَ ۔

⑥ دهغې فَا نه روستو به آنْ مقدر وی کومه فَا چه د امر، نهی، نفی، استفهام، تمنّی، عرض، ترجّی، او د لَوْلَا په جواب کښ راشی، لکه زُرْنِيْ فَاُكْرِمَكَ، اَيْ فَاَنْ اُكْرِمَكَ، دلته د افَا د امر په جواب کښ راغلی ده ۔

قسم دوم حروفیکه فعل مضارع را بجزم کنند و آں پنجست،،

هغه حروف چه عمل کوی په فعل مضارع کښ په هغوی کښ دویم نمبر حروف جازمه دی، حروف جازمه پنځهٔ دی،

اِنْ ① لَمْ ② لَمَّا ③ لَامِ امر ④ لَاءِ نهی ⑤ ،

دوی هم په فعل مضارع باندے داخلیږی او په فعل مضارع کښ هم لفظی عمل

کوی او هم معنوی ، او لفظی عمل د پنځو واړو مشترک دے ،
لفظي عمل ئے داد ے چه پنځو صیغوته جزم ورکوی، او که په آخر کښ ئے حرف علت وی نو حرف علت غورځوی لکه لَمْ یَضْرِبْ ، لَمْ تَضْرِبْ، لَمْ تَضْرِبْ
لَمْ اَضْرِبْ، لَمْ نَضْرِبْ ـ
د حرف علت مثال ، لَمْ یَدْعُ ، لَمْ تَدْعُ ، لَمْ تَدْعُ، لَمْ اَدْعُ ، لَمْ نَدْعُ ـ
او د اوو صیغو نه نون اعرابي غورځوی لکه لَمْ یَضْرِبَا، لَمْ تَضْرِبَا ،
لَمْ تَضْرِبَا ، لَمْ تَضْرِبَا ، لَمْ یَضْرِبُوْا ، لَمْ تَضْرِبُوْا ، لَمْ تَضْرِبِيْ ـ
او په دوؤ صیغو کښ هیڅ عمل هم نه کوی ځکه چه هغه مبنی دی لکه لَمْ یَضْرِبْنَ
او لَمْ تَضْرِبْنَ ـ

او معنوی عمل د دوی مختلف دے ، او هغه داد ے چه لَمْ او لَمَّا په مضارع باندے داخل شی، نو فعل مضارع په معنی د ماضی منفی سره ګرځوی ، فرق په دواړو کښ داد ے چه په لَمَّا کښ نفی د استغراق د پاره راځی او په لَمْ کښ دَ استغراق د پاره نه راځی ، نو د لَمْ یَضْرِبْ معنی ده وهل نه د ے کړی هغه یو سړی په تیره شوی زمانه کښ ، او د لَمَّا یَضْرِبْ معنی ده تر اوسه پورې وهل نه د ے کړی ـ

لَامِ امر ، د فعل مضارع په صیغو کښ د حاضر د صیغو نه علاوه په نورو صیغو کښ د طلب فعل معنی پیدا کوی ـ

لَاءِ نهی ، د فعل مضارع په ټولو صیغو باندے داخلیږی د ترک طلب فعل معنی پیدا کوی ـ

اِنْ ، دا به هیشه په دوؤ جملو باندے داخلیږی اولنۍ جملی ته به ئے شرط وئیلے کیږی او دویمی جملی ته به ئے جزاء وئیلے کیږی ، او د اخپل مدخول د مستقبل په معنی سره ګرځوی اګرچه ماضی وی ، د ماضی مثال ، اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ کچرے تا وهل او کړل نو زهٔ به هم وهل او کړم ، او د مضارع مثال ، اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ کچرے ته وهل کوی نو زهٔ به هم وهل کوم ـ

باب دوم درعمل افعال

بدانکہ ہیچ فعل غیر عامل نیست وافعال دراعمال بردوگونہ است ،،

په عواملوکښ دویم نمبرافعال عامله دی ، افعال جمع د فعل ده د فعل لغوی او اصطلاحی معنی مخکښ ذکرشوی ده، **فعل په دوه قسمه دے**

① فعل غیر متصرف ② فعل متصرف

① فعل غیرمتصرف ، هغی فعل ته وائی چه دهغی نه پوره گردان نه کیږی او فعل غیر متصرف **په دری قسمه دے**

① افعال مقاربه ② افعال مدح وذم ③ افعال تعجب ؛

② فعل متصرف ، هغی فعل ته وائی چه دهغی نه پوره گردان کیږی، لکه فعل ماضی او فعل مضارع وغیره، او فعل متصرف **په دوه قسمه دے**

① افعال تامّه ② افعال ناقصه

① افعال تامّه **په دوه قسمه دی** ① فعل معروف ② فعل مجهول

① فعل معروف ، هغی فعل ته وائی چه په هغی کښ د فعل نسبت فاعل طرفته شوے وی، لکه ضَرَبَ زَیْدٌ، وهل اوکړهٔ زید ـ

② فعل مجهول ، هغی فعل ته وائی چه په هغی کښ د فعل نسبت مفعول ته شوے وی، لکه ضُرِبَ زَیْدٌ، اووهلے شو زید ـ

فعل معروف ته فعل معلوم هم وئیلے کیږی ، بیا فعل معروف په **دوه قسمه دے**

① فعل لازم ② فعل متعدی

① فعل لازم ، هغی فعل ته وائی چه هغه صرف په فاعل باندے پوره کیږی او دمفعول تقاضه نه کوی، لکه قَامَ زَیْدٌ ـ

② فعل متعدی ، هغی فعل ته وائی چه صرف په فاعل باندے نه پوره کیږی بلکه دمفعول تقاضه هم کوی، لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا ـ

فعل لازم او فعل متعدی دواړه فاعل لره په رفع ورکولوکښ متفق دی ، د فعل لازم مثال ، قَامَ زَیْدٌ ، د فعل متعدی مثال ، ضَرَبَ زَیْدٌ ـ

مرفوعات اته دي

فاعل د مرفوعاتو نه دے او

① فاعل ② مفعول مَالَمْ يُسَمَّ فَاعِلُهٗ ③ مبتداء ④ خبر

⑤ خبر دإِنَّ اوخبر داخوات دإِنَّ ⑥ اسم دكَانَ اواسم داخوات دكَانَ

⑦ اسم دمَا ولاَ مشبهتان بليس ⑧ خبر دلاء نفي جنس ؛

① فاعل ، هرهغه اسم ته وائي چه دهغي نه مخكښ فعل اويا شبه فعل راغلے وي، اوددې فعل يا دشبه فعل نسبت دې اسم ته شوے وي ، دفعل مثال قَامَ زَيْدٌ ، اودشبه فعل مثال، زَيْدٌ ضَارِبٌ اَبُوْهُ عَمْرًا، په دې مثال كښ اَبُوْهُ فاعل دے ـ

② مفعول مَالَمْ يُسَمَّ فَاعِلُه ، هرهغه مفعول ته وائي چه فاعل ئې حذف شوے وي،او دے قائم شوے وي په ځائې د فاعل ، اودفعل نسبت هم دهٔ ته شوے وي،لكه ضُرِبَ زَيْدٌ ـ

③ مبتداء ، هرهغه اسم ته وائي چه خالي وي دعوامل لفظيه ؤ نه او مسندٌ اليه وي لكه په زَيْدٌ قَائِمٌ كښ زَيْدٌ ـ

④ خبر ، هرهغه اسم ته وائي چه خالي وي دعوامل لفظيؤنه او مسند وي لكه په زَيْدٌ قَائِمٌ كښ قَائِمٌ ـ

⑤ خبر دإِنَّ اوخبر داخوات دإِنَّ ، هرهغه اسم ته وائي چه دا مسند وي روستو ددخول دإِنَّ اوداخوات دإِنَّ نه ، لكه په إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ كښ قَائِمٌ ، قَائِمٌ مسند دے اوروستو دے دإِنَّ نه ـ

⑥ اسم دكَانَ اواسم داخوات دكَانَ ، هرهغه اسم ته وائي چه مسندٌ اليه وي روستو ددخول دكَانَ اوداخوات دكَانَ نه ، لكه په كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا كښ زَيْدٌ، چه دامسندٌ اليه دے اوروستو دے دكَانَ نه ـ

⑦ اسم دمَا ولاَ مشبهتان بليس ، هرهغه اسم ته وائي چه مسندٌ اليه وي روستو ددخول دمَا اولاَ نه،لكه په مَا زَيْدٌ قَائِمًا كښ زَيْدٌ ، اوپه لاَ رَجُلٌ اَفْضَلَ مِنْكَ كښ رَجُلٌ ـ

⑧ خبر دلاء نفی جنس ، هرهغه اسم ته وائی چه مسندوی روستو دد خول دلاء نفی جنس نه ، لکه په لَا رَجُلَ قَائِمٌ کښ قَائِمٌ مسند دے روستو دد خول دلاء نفی جنس نه ـ

بيا فعل لازم او فعل متعدی شپږ وڅیزونولره په نصب ورکولوکښ متفق دی ① مفعول مطلق ② مفعول فيه ③ مفعول معه ④ مفعول له ،
⑤ حال ⑥ تميز ،،

فعل لازم چه مفعول مطلق لره نصب ورکوی دهغی مثال ، قَامَ زَيْدٌ قِيَامًا ـ
فعل لازم چه مفعول فيه لره نصب ورکوی دهغی مثال ، صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ـ
فعل لازم چه مفعول معهٗ لره نصب ورکوی دهغی مثال ، جَاءَنِي الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ ـ
فعل لازم چه مفعول لهٗ لره نصب ورکوی دهغی مثال ، قُمْتُ اِكْرَامًا لِزَيْدٍ ـ
فعل لازم چه حال لره نصب ورکوی دهغی مثال ، جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا ـ
فعل لازم چه تميز لره نصب ورکوی دهغی مثال ، طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا ـ

بيا لازم او متعدی مفعول به لره په نصب ورکولوکښ مختلف دی ځکه چه لازم مفعول به لره نصب نه ورکوی ، او متعدی مفعول به لره نصب ورکوی لکه ضَرَبَ زَيْدٌ عَمْرًا ـ

فرق په فاعل او اسم فاعل کښ

په فاعل او اسم فاعل کښ دوه فرقونه دی ،

① اسم فاعل هغه اسم ته وائی چه دلالت کوی په ذات مع الوصف باندے لکه ضَارِبٌ ، او فاعل هغه اسم ته وائی چه هغه صرف په ذات باندے دلالت کوی ، لکه ضَرَبَ زَيْدٌ ـ

② اسم فاعل هغه اسم ته وائی چه هغه هیشه مشتق وی او فاعل مشتق هم راتلے شی او جامد هم راتلے شی ـ

لازم او متعدی شپږ وڅیزونولره په نصب ورکولوکښ متفق وو نو په هغی کښ اول نمبر مفعول مطلق دے او مفعول مطلق د منصوباتو نه دے

اومنصوبات دولس دی

① مفعول مطلق ② مفعول به ③ مفعول فیه ④ مفعول لهٗ ⑤ مفعول معه ⑥ حال ⑦ تمیز ⑧ مستثنیٰ ⑨ اسم داِنَّ اوداخوات داِنَّ ⑩ خبر دکَانَ اوداخوات دکَانَ ⑪ منصوب بلا التی لنفی الجنس ⑫ خبر دمَا ولاَ مشبهتان بلیس ـ

① مفعول مطلق ، هرهغه مصدرته وائی چه ددا سے فعل نه روستو ذکر شوے وی چه دهغی فعل اود مصدر معنیٰ یوه وی،لکه ضَرَبْتُ ضَرْبًا،او قُمْتُ قِیَامًا ،

خلاصه دا شوه چه په مفعول مطلق کښ به درې خبرې موجود وی،

① مفعول مطلق به مصدر وی که مصدر نه وی نو بیا به مفعول مطلق نه وی ② دا مصدر به د فعل نه روستو ذکر شوے وی که د فعل نه مخکښ ذکر شوے وی نو بیا به مفعول مطلق نه وی ③ د فعل اود مصدر معنیٰ به یوه وی بلو ددې درې صورتونه دی ① فعل اومصدر به لفظًا او معنًا یو شان وی،لکه ضَرَبْتُ ضَرْبًا ② معنیٰ خو به ئے یوه وی لیکن الفاظ به ئے یو نه وی،لکه قَعَدْتُ جُلُوْسًا ③ الفاظ به ئے هم یو وی او معنیٰ به ئے هم د دواړو یو شان وی لیکن باب به ئے جدا وی،لکه اَنْبَتَ اللّٰهُ نَبَاتًا ـ

مفعول مطلق د درې فائدو د پاره راځی ① کله ناکله د تاکید د پاره راځی، لکه ضَرَبْتُ ضَرْبًا ② کله ناکله د نوعیت د بیان د پاره راځی خو دا به په وزن د فِعْلَةٌ باندې وی،لکه جَلَسْتُ جِلْسَةَ الْقَارِیْ ③ کله ناکله د عدد د بیان د پاره راځی خو دا به په وزن د فَعْلَةٌ وی،لکه جَلَسْتُ جَلْسَةً ،زهٔ کیناستم په یو ځل کیناستو سره ـ

② مفعول به ، هغه اسم ته وائی چه په هغهٔ باندې د فاعل فعل واقع شوے وی،لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا ـ

③ مفعول فیه ، هغه اسم ته وائی چه په هغی کښ فعل د فاعل واقع شوے وی،کوم ځائے کښ وی،نو دیته ظرف مکان وائی،اوکله چرے په وخت کښ

وی نودی ته ظرف زمان وائی ، د ظرف مکان دپاره مثال ، جَلَسْتُ عِنْدَكَ ، دظرف زمان دپاره مثال ، صُمْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ –

④ مفعول معهٔ ، هرهغه اسم ته وائی چه دداسے واؤ نه روستو ذکر شوے وی چه هغه واؤ په معنی د مَعَ سره وی ، لکه جَاءَ الْبَرْدُ وَالْجُبَّاتِ په اصل کښ جَاءَ الْبَرْدُ مَعَ الْجُبَّاتِ وو –

⑤ مفعول لهٔ ، هرهغه اسم ته وائی چه دهغی دپاره فعل مذکور واقع شوے وی ، لکه قُمْتُ إِكْرَامًا لِزَيْدٍ ، نو په دی مثال کښ داقُمْتُ فعل دإِكْرَامًا دپاره واقع شوے دے ، اودی پنځو واړو ته مفاعیل خمسه هم وئیلے کیږی –

⑥ حال ، هرهغه لفظ ته وائی چه هغه دفاعل حالت بیانوی اویا دمفعول حالت بیانوی اویا ددواړو حالت بیانوی ،

چه د فاعل حالت بیانوی دهغی مثال ، جَاءَنِيْ زَيْدٌ رَاكِبًا ، اوچه دمفعول حالت بیانوی دهغی مثال ، ضَرَبْتُ زَيْدًا مَشْدُوْدًا ، اوچه ددواړو حالت بیانوی دهغی مثال ، لَقِيْتُ زَيْدًا رَاكِبَيْنِ –

ذوالحال / هغه فاعل یامفعول ته وائی چه دهغهٔ حالت بیان کړے شی ،، ذوالحال به اکثر معرفه وی اوحال به اکثر نکره وی ، وجه ددی داده چه ذوالحال معنًا مسندٌ الیه وی او مسندٌ الیه اکثر معرفه وی ، اوحال معنًا مسند وی او مسند اکثر نکره وی ،،

نوکچرے ذوالحال نکره وی نوحال به مقدم کیږی په ذوالحال بانديے ، دپاره ددی چه التباس رانه شی دحال دصفت سره په حالت نصبی کښ ، لکه رَأَيْتُ رَاكِبًا رَجُلًا ، نوکچرے حال په ذوالحال مقدم نه کړے شی اوداسے او وئیلے شی رَأَيْتُ رَجُلًا رَاكِبًا ، نوپته نه لګی چه رَجُلًا موصوف دے اورَاكِبًا ورله صفت دے ، یارَاكِبًا حال دے اورَجُلًا ورله ذوالحال دے ، نوچه رَاكِبًا حال مقدم کړے شی په رَجُلًا ذوالحال بانديے ، اوداسے او وئیلے شی چه رَأَيْتُ رَاكِبًا رَجُلًا ، نو التباس ختم شو ، پته اولګیده چه رَاكِبًا حال مقدم دے

او صفت نه دے، ځکه کچرے رَاکِبًا صفت وے نو په خپل موصوف رَجُلًا بانده به نه وو مقدم شوے ځکه چه صفت نه شی مقدم کیدے په موصوف بانده ـ

⑦ تمیز، هرهغه لفظ ته وائی چه دلو مبهم څیز نه ابهام لرې کوی بیا دا په دوه قسمه دے ① یابه ابهام لرې کوی د نسبت نه، لکه طَابَ زَيْدٌ نَفْسًا ② یابه ابهام لرې کوی د مقدار نه، بیا دا په څلور قسمه دے،
① یابه ابهام لرې کوی د عدد نه، لکه عِنْدِیْ اَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا ② یابه ابهام لرې کوی د پیمانې نه، لکه عِنْدِیْ قَفِیْزَانِ بُرًّا ③ یابه ابهام لرې کوی د مساحت نه، لکه مَا فِی السَّمَآءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا ④ یابه ابهام لرې کوی د وزن نه، لکه عِنْدِیْ رِطْلٌ زَيْتًا ـ

⑧ مستثنیٰ، هرهغه لفظ ته وائی چه دا ذکر شوے وی روستو د اِلَّا اود اخوات د اِلَّا نه، دپاره ددې چه دا خبره معلومه شی چه دهٔ ته نسبت نه دے شوے دهغه څیز چه دکوم څیز نسبت ماقبل ته شوے دے لکه جَاءَ فِی الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا ـ

⑨ اسم د اِنَّ اود اخوات د اِنَّ ـ هرهغه اسم ته وائی چه دا مسندٌ الیه وی روستو ددخول د اِنَّ اود اخوات د اِنَّ نه، لکه په اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ کښ زَيْدًا ـ

⑩ خبر د کَانَ اود اخوات د کَانَ، هرهغه اسم ته وائی چه دا مسند وی روستو د دخول د کَانَ اود اخوات د کَانَ نه، لکه په کَانَ زَيْدٌ قَائِمًا کښ قَائِمًا ـ

⑪ منصوب بلا التی لنفی الجنس، هرهغه اسم ته وائی چه دا مسندٌ الیه وی روستو د دخول د لاء نفی جنس نه، چه لَا ته نزدې وی نکره وی، او مضاف وی یا شبه مضاف وی، د مضاف مثال، په لَا غُلَامَ رَجُلٍ فِی الدَّارِ کښ غُلَامَ رَجُلٍ، د شبه مضاف مثال، په لَا عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا فِی الْکِيْسِ کښ عِشْرِيْنَ دِرْهَمًا ـ

⑫ خبر د مَا ولَا مشبهتان بلیس، هرهغه اسم ته وائی چه دا مسند وی

روستو ددخول دمَا ولاَ نه، لکه په مَا زَيْدٌ قَائِمًا کښ قَائِمًا، او په لَارَجُلٌ قَائِمًا کښ قَائِمًا۔

مرفوعات اته وو، او منصوبات دولس وو، او د مجروراتو يو قسم

دے چه هغې ته مضافٌ اليه وائي،

تعريف د مضافٌ اليه، هرهغه اسم ته وائي چه دهٔ ته ديو څيز نسبت شوے وی په واسطے د حرف جر سره، يابه دا حرف جر په لفظ کښ موجود وی، لکه مَرَرْتُ بِزَيْدٍ، او يا به حرف جر په لفظ کښ موجود نه وی، لکه غُلَامُ زَيْدٍ، چه په اصل کښ غُلَامٌ لِزَيْدٍ دے۔

کچرے يو اسم مجرور وی په واسطے د حرف جر سره، او دا حرف جر په لفظ کښ موجود وی نو د نحويانو په اصطلاح کښ دې ته جار مجرور وئيلے کيږی، او کچرے يو اسم مجرور وی په واسطے د حرف جر سره، او دا حرف جر په لفظ کښ موجود نه وی، بلکه مقدر وی نو د نحويانو په اصطلاح کښ دېته مضاف مضافٌ اليه وئيلے کيږی۔

فصل بدانکه فاعل بر دو قسم است مظهر چون ضَرَبَ زَيْدٌ ومضمر بارز چون ضَرَبْتُ ومستتر يعنی پوشيده چون زَيْدٌ ضَرَبَ ،، تا فصل آخر،،

فاعل په دوه قسمه دے ① اسم ظاهر ② اسم ضمير

اسم ضمير په دوه قسمه دے

① بارز ② مستتر

① بارز، هغې ته وائي چه په لفظ کښ ښکاره وی، لکه په ضَرَبْتُ کښ (تُ)۔

② مستتر، هغې ته وائي چه په لفظ کښ ښکاره نه وی، بلکه پټ وی، لکه په ضَرَبَ کښ هُوَ۔

بيا مستتر په دوه قسمه دے

① جائز الاستتار ② واجب الاستتار

① جائز الاستتار ، هغه ته وائی چه کلمه په ترکیب کښ د ے فاعل وی ، او کله اسم ظاهر فاعل وی ، کچرے اسم ظاهر وی نو بیا به هغه فاعل وی ضمیر راویستلو ته حاجت نشته د ے لکه ضَرَبَ زَیْدٌ ، اوکچرے اسم ظاهر نه وی نو بیا به په دیکښ ضمیر فاعل وی لکه په ضَرَبَ کښ هو ـ

② واجب الاستتار ، هغی ته وائی چه د ے به همیشه ددی فعل دپاره فاعل کښ ددی دپاره به اسم ظاهر فاعل نه راځی لکه په اَضْرِبُ کښ اَنَا ، او په اِضْرِبْ کښ اَنْتَ ـ

هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر یا اسم ضمیر وی نو فعل به خالی نه وی یابه مذکر وی او یا به مؤنث وی نو ددی دری قسمونه دی ،

① هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر وی او مؤنث حقیقی وی او د فعل او د فاعل په درمیان کښ فاصله نه وی نو فعل مؤنث راوړل واجب دی لکه قَامَتْ بَرِیْرَةُ ـ

② هرکله چه د فعل فاعل اسم ضمیر وی او مؤنث حقیقی طرف ته راجع وی ، نو بیا هم فعل مؤنث راوړل واجب دی لکه بَرِیْرَةُ قَامَتْ ـ

③ هرکله چه د فعل فاعل اسم ضمیر د ے او راجع دی مؤنث غیرحقیقی ته نو بیا هم فعل مؤنث راوړل واجب دی لکه اَلشَّمْسُ طَلَعَتْ ـ

په دوؤ صورتونو کښ فعل مذکر راوړل واجب دی ① هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر وی ، مفرد وی ، او مذکر وی ، نو فعل مذکر راوړل واجب دی لکه قَامَ زَیْدٌ ـ

② هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر وی ، او جمع مذکر سالم وی نو فعل مذکر راوړل واجب دی لکه قَامَ الْمُسْلِمُوْنَ ـ

چه فعل مذکر هم راوړے شی او مؤنث هم راوړے شی نو ددی دپاره څلور صورتونه دی ① هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر وی او مؤنث غیرحقیقی وی نو فعل مذکر او مؤنث دواړه راوړے شی لکه طَلَعَ الشَّمْسُ او طَلَعَتِ الشَّمْسُ

② هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر وی، او مؤنث حقیقي وی لیکن د فعل او فاعل په درمیان کښ فاصله راغلې وی، نو فعل مذکر هم راوړے شي او مؤنث هم راوړے شي، لکه قَامَ الْیَوْمَ هِنْدٌ، او قَامَتِ الْیَوْمَ هِنْدٌ ـ

③ هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر وی، او جمع مکسر وی، نو فعل مذکر هم راوړے شي او مؤنث هم راوړے شي، لکه جَاءَ الرِّجَالُ، او جَاءَتِ الرِّجَالُ ـ

④ هرکله چه د فعل فاعل اسم ظاهر وی، او جمع مؤنث سالم وی، نو فعل مذکر هم راوړے شي او مؤنث هم راوړے شي لکه جَاءَ الْمُسْلِمَاتُ او جَاءَتِ الْمُسْلِمَاتُ ـ

⑥ فعل مجهول، هر هغې فعل ته وائي چه په هغې کښ فاعل د فعل حذف شوے وی، او مفعول د هغې په ځائے قائم شوے وی، او مفعول ته د فاعل رفع ورکړې شوې وی، لکه ضُرِبَ زَیْدٌ،

د فعل مجهول عمل داد ے چه دا مفعول بهٖ لره رفع ورکوی، او د دینه علاوه باقي تمامو مفاعیلو لره نصب ورکوی ـ

فصل بدانکہ فعل متعدی بر چار قسم است ،، تا فصل آخر ،،

فعل متعدی په څلور قسمه د ے ① هغه فعل متعدی چه متعدی شوے وی یو مفعول ته، لکه ضَرَبَ زَیْدٌ عَمْرًا ② هغه فعل متعدی چه متعدی شوے وی دوؤ مفعولونو ته، او په هغوی کښ یو مفعول ذکر کول او دویم مفعول حذف کول جائز وی، لکه په اَعْطَیْتُ زَیْدًا دِرْهَمًا کښ اَعْطَیْتُ زَیْدًا هم روادی ـ

③ هغه فعل متعدی چه متعدی شوے وی دوؤ مفعولونو ته، او په هغوی کښ دیو مفعول ذکر کول او دویم مفعول حذف کول روا نه وی، او هغه افعال قلوب دی، او افعال قلوب دادی، رَأَیْتُ ۱، وَجَدْتُ ۲، عَلِمْتُ ۳، زَعَمْتُ ۴، حَسِبْتُ ۵، خِلْتُ ۶، ظَنَنْتُ ۷ ،،

په دوی کښ رَأَیْتُ، وَجَدْتُ، عَلِمْتُ، د یقین دپاره راځي، او حَسِبْتُ، خِلْتُ ظَنَنْتُ، د گمان دپاره راځي، او زَعَمْتُ مشترک د ے په مینځ د گمان او یقین کښ لکه عَلِمْتُ زَیْدًا فَاضِلاً وغیره ـ

⑥ هغه فعل متعدي چه متعدي شي دريو مفعولو نوته، او هغه افعال داژي، أَعْلَمَ ، أَرَى ، أَنْبَأَ ، أَخْبَرَ ، خَبَّرَ ، نَبَّأَ ، حَدَّثَ ، لكه أَعْلَمَ اللهُ زَيْدًا عَمْرًا فَاضِلًا ـ

افعال په دوه قسمه دي

① افعال تامّه ② افعال ناقصه

① افعال تامه ، هغې افعالوته وائي چه خپل فاعل لره دخپل مصدر والي صفت ثابت کړي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ ـ

② افعال ناقصه ، هغې افعالوته وائي چه هغه خپل فاعل لره دخپل مصدر والي دصفت نه علاوه بل صفت ثابت کړي، لکه كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا ـ

دافعال تامّه وجه تسميه داده چه دا په خپل فاعل باندې پوره کيږي ،خبر نه غواړي لکه ضَرَبَ زَيْدٌ ـ

دافعال ناقصه وجه تسميه داده چه دا په خپل فاعل باندې نه پوره کيږي بلکه خبرهم غواړي لکه كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا ـ

افعال ناقصه اوولس دي ، كَانَ ، صَارَ ، ظَلَّ ، بَاتَ ، أَصْبَحَ ، أَضْحَى ، أَمْسَى ، عَادَ ، آضَ ، غَدَا ، رَاحَ ، مَابَرِحَ ، مَادَامَ ، مَاانْفَكَّ ، مَافَتِئَ ، مَازَالَ ، لَيْسَ ،

كَانَ ، كله نا كله تامه وي، او كله نا كله ناقصه وي ، دتامه دپاره مثال كَانَ الْمَطَرُ بمعنى حَصَلَ الْمَطَرُ، باران اوشو ، دناقصه دپاره مثال كَانَ زَيْدٌ قَائِمًا، زيد ولاړ وو ـ

صَارَ ، دانتقال په معنى باندې راځي ، لكه صَارَ زَيْدٌ غَنِيًّا ، اوګرځيد زيد مالدار ـ

ظَلَّ ، په معنى د صَارَ هم راځي، اود ټولې ورځې دپاره هم راځي لکه ظَلَّ زَيْدٌ قَائِمًا ټوله ورځ زيد ولاړ وو ـ

بَاتَ ، په معنى د صَارَ هم راځي، اود ټولې شپې په معنى باندې هم راځي لکه بَاتَ زَيْدٌ نَائِمًا ، ټوله شپه زيد اوده وو ـ

أَصْبَحَ ، ددې معنى ده د سحر وخت ، لكه أَصْبَحَ زَيْدٌ فَقِيرًا ، زيد د سحر په

وخت کښ فقیر شو ـ
اَضْحٰی ، دصَارَ په معنی باندے هم راځی، او دچاشت په معنی باندے هم راځی،
لکه اَضْحٰی زَیْدٌ اَمِیْرًا، زید دچاشت په وخت کښ مالدار شو ـ
اَمْسٰی ، دصَارَ په معنی باندے هم راځی او د مابنام دوخت په معنی باندے
هم راځی لکه اَمْسٰی زَیْدٌ مُصَلِّیًا، زید دمابنام په وخت مونځ کونکے جوړ شو ـ
عَادَ ، اٰضَ ، غَدَا ، رَاحَ ، کله چه دا څلور واړه ناقص وی نو دوی به په معنی
دصَارَ سره وی ، او چه کله تامه وی نو عَادَ او اٰضَ به د رَجَعَ په معنی سره وی
او غَدَا به دسحر دوخت په معنی باندے وی ، او رَاحَ به د مابنام دوخت په
معنی باندے وی ـ
مَابَرِحَ ، مَازَالَ ، مَاانْفَكَّ ، مَافَتِئَ ، چه کله دا څلور واړه بغیر د مَا نافیه نه
راشی نو دوی به د زایل په معنی سره راځی ، او چه کله د مَا نافیه سره راشی
نو بیا د اثبات دپاره راځی ـ
مَادَامَ ، په دیکښ دا مَا مصدریه ظرفیه ده ـ
لَیْسَ ، دحال دنفی دپاره راځی ـ ـ ۰ ـ

فصل بدانکه افعال مقاربه چاراست ،، تا فصل آخر ،،

په افعال مقاربه کښ دری خبری دی ① دافعال مقاربه تفصیل ② دافعال
مقاربه عمل ③ عَسٰی کله تامه راځی او کله ناقصه راځی ،

① دافعال مقاربه تفصیل ، افعال مقاربه ټول اووه دی ، څلور پکښ مشهور
دی او دری پکښ غیر مشهور دی ، څلور مشهور دادی ، عَسٰی ، کَادَ ، کَرُبَ
اَوْشَكَ ، او دری غیر مشهور دادی ، اَخَذَ ، طَفِقَ ، جَعَلَ ،،
عَسٰی ، د امید په معنی باندے راځی ، او کَادَ ، کَرُبَ ، دیقین په معنی باندے
راځی ، او باقی څلور د شروع په معنی باندے راځی ـ

② دافعال مقاربه عمل داد ے چه دوی هم دافعال ناقصوٴ په شان عمل
کوی ، لکه څنګه چه افعال ناقصه په دووٴ اسمونو باندے داخلیږی پرمبتی

اسم ته رفع ورکوی اودویم اسم ته نصب ورکوی ملونږغه شان افعال مقاربه هم په دوؤ اسمونو باندے داخلیږی، اولنی اسم ته رفع ورکوی اودویم اسم ته نصب ورکوی ۔

دافعال ناقصوؤ اودافعال مقاربوؤ په میځ کښ فرق داد ے چه دافعال ناقصو خبر هم مضارع راځی اوهم غیر مضارع راځی، اودافعال مقاربوؤ خبر صرف مضارع راځی اوغیر مضارع نه شی راتلے ۔

دافعال مقاربوؤ په خبر باندے کله آنْ داخلیږی اوکله نه، چه آنْ پری داخل شوے وی دهغی مثال، عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ، چه آنْ پری نه وی داخل شوے دهغی مثال، عَسٰی زَیْدٌ یَخْرُجُ ۔

② عَسٰی، کله تامه راځی اوکله ناقصه، چه تامه راځی دهغی مثال، عَسٰی اَنْ یَّخْرُجَ زَیْدٌ، چه ناقصه راځی دهغی مثال، عَسٰی زَیْدٌ اَنْ یَّخْرُجَ ۔

فصل بدانکه افعال مدح وذم چار است ،، تا فصل آخر ،،

(دافعال مدح تعریف)، هغی افعالو ته وائی چه په هغی سره دیو ذات تعریف بیان کړے شی ۔

(دافعال ذم تعریف)، هغی افعالو ته وائی چه په هغی سره دیو ذات بد والے بیان کړے شی ۔

دچاچه تعریف بیان کړے شی هغه ته مخصوص بالمدح وائی، اودچاچه بدوالے بیان کړے شی هغه ته مخصوص بالذم وائی، مخصوص بالمدح اومخصوص بالذم به دافعال مدح وذم دفاعل نه روستو راځی ،،

دمخصوص بالمدح مثال، نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ، دمخصوص بالذم مثال، بِئْسَ الرَّجُلُ خُبَیْثٌ ۔

افعال مدح دوه دی، نِعْمَ، حَبَّذَا، افعال ذم هم دوه دی، بِئْسَ، سَآءَ،

(دافعال مدح وذم دپاره شرائط)، دحَبَّذَا نه علاوه دباقی دریو دعمل دپاره شرائط دادی چه په دی دریو شرطونو کښ به یو شرط موجود وی،

① ددی فاعل به مُعَرَّف باللام وی،لکه نِعْمَ الرَّجُلُ زَیْدٌ ـ
② که معرف باللام نه وی نو معرف باللام ته به مضاف وي،لکه نِعْمَ صَاحِبُ الْقَوْمِ زَیْدٌ ـ
③ ددی فاعل به داسې ضمیر وي چه دهغې تمیز به نکره منصوبه راځي، لکه نِعْمَ رَجُلاً زَیْدٌ ـ
اود حَبَّذَا فاعل به همیشه لفظ د ذَا وی ـ؟ ـ

فصل بدانکه افعال تعجب دو صیغه از هر مصدر ثلاثی مجرد باشد، تا فصل آخر،،

دا فعال تعجب لغوی معنی ، تعجب په لغت کښ حیرانتیا ته وائي ،
په اصطلاح کښ افعال تعجب هغې افعالو ته وائي چه په هغې سره د تعجب اظهار اوکړې شي ـ
دا فعال تعجب دوه صیغې دي ① مَا اَفْعَلَهٗ ،لکه مَا اَحْسَنَ زَیْدًا څه ډیر ښائسته دے زید ② اَفْعِلْ بِهٖ ،لکه اَحْسِنْ بِهٖ څومره ښائسته دے دا ـ
دا فعال تعجب د پاره شرط ، دا فعال تعجب د پاره یو شرط دے او هغه داد ے چه په ثلاثي مجرد وکښ په کومو بابونو کښ د عَیْبْ یا د لَوْنْ معنی وی نو د هغې نه افعال تعجب نه راځي ـ

باب سوم درعمل اسماء عامله وآن یازده قسم است ،،
اول اسماء شرطیه بمعنی اِنْ وآن نه است ،،

اسماء عامله په یولس قسمه دي

① اسماء شرطیه ، په اسماء شرطیو کښ درې خبرې دي ① تعریف د اسماء شرطیه ② عمل د اسماء شرطیه ③ تعداد د اسماء شرطیه ،،
① تعریف د اسماء شرطیه ، هغې ته وائي چه د اِنْ شرطیه په معنی باندې وي، لکه څنګه چه اِنْ شرطیه په دوؤ جملو باندې داخلیږي په دومبنۍ جملې ته شرط وائي او دویمې جملې ته جزاء وائي ، نو دغه شان د ا اسماء شرطیه هم

په دوؤ جملو باندے داخلیږی په دا مبنئ جملے ته ئے شرط وائی او دویمی جملے ته ئے جزاء وائی ـ

⑥ داسماء شرطیه عمل داد ے چه فعل مضارع لره جزم ورکوی لکه مَنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ ـ

⑦ اسماء شرطیه نهه دی ، مَنْ ، مَا ، اَیْنَمَا ، مَتٰی ، اَیٌّ ، اَنّٰی ، اِذْمَا ، حَیْثُمَا ، مَهْمَا ـ

③ اسماء افعال ، هغه اسماء افعال چه په معنی د فعل ماضی سره دی ،لکه هَیْهَاتَ په معنی د بَعُدَ سره دے ، سَرْعَانَ په معنی د سَرُعَ سره دے ، او شَتَّانَ په معنی د اِفْتَرَقَ سره دے ،،

ددوی عمل داد ے چه خپل مابعد اسم لره رفع ورکوی بناء برفاعلیت لکه هَیْهَاتَ یَوْمُ الْعِیْدِ ، په معنی د بَعُدَ یَوْمُ الْعِیْدِ ـ

④ هغه اسماء افعال ، چه په معنی د امر حاضر سره دی لکه رُوَیْدَ په معنی د اَمْهِلْ سره دے ، بَلْهَ په معنی د دَعْ سره دے ، دُوْنَكَ او هَا په معنی د خُذْ سره دی ، عَلَیْكَ په معنی د اَلْزِمْ سره دے ، حَیَّهَلْ په معنی د اِیْتِ سره دے ، او اٰمِیْنْ په معنی د اِسْتَجِبْ سره دے ـ

ددوی عمل داد ے چه دوی خپل مابعد اسم لره نصب ورکوی بناء بر مفعولیت ، لکه رُوَیْدَ زَیْدًا ، په معنی د اَمْهِلْ زَیْدًا سره دے ـ

⑤ اسم فاعل ، په اسم فاعل کښ درے خبرے دی ① تعریف داسم فاعل ② عمل داسم فاعل ③ داسم فاعل دعمل دپاره شرائط ،،

① اسم فاعل هر هغه اسم ته وائی چه د فعل مضارع نه جوړشوے وی او هغه دلالت کوی په داسے ذات باندے چه معنی مصدری دده سره قائمه وی په طریقے د حدوث سره ـ

② داسم فاعل عمل داد ے چه داعمل کوی په شان د فعل معروف ، که فعل معروف لازمی وی نو صرف فاعل لره به رفع ورکوی ، او د مفعول

تقامنه به نه کوی ، اوکچرے ددی فعل معروف متعدی وی نوده به هم متعدی کیږی ، اوکچرے متعدی بیک مفعول وی نوده به هم متعدی کیږی یو مفعول ته ، اوکچرے متعدی دی دوؤ مفعولونو ته نوده به هم متعدی کیږی دوؤ مفعولونو ته ، اوکچرے متعدی وی دریو مفعولونو ته نوده به هم متعدی کیږی دریو مفعولونو ته ۔

③ داسم فاعل دعمل دپاره دوه شرطونه دی ① اسم فاعل به دحال یا داستقبال په معنی باندے وی، ځکه چه هرکله داپه معنی دحال یا استقبال وی نو دمضارع سره به ئے مشابهت قوی شی نو ځکه دے عمل کوی ، اوکه په معنی د ماضی سره وی نو دمضارع سره ئے مشابهت ضعیف شونو دے بیا عمل نه شی کولے ۔

② دویم داچه اسم فاعل به تکیه کړی وی په دی شپږو څیزونو کښ په یو څیز باندے ، ① یا به ئے تکیه کړی وی په مبتدا باندے لکه زَيْدٌ قَائِمٌ اَبُوْهُ ② یا به ئے تکیه کړی وی په موصوف باندے، لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ اَبُوْهُ بَكْرًا ③ یا به ئے تکیه کړی وی په اسم موصول باندے، لکه جَاءَنِي الْقَائِمُ اَبُوْهُ ④ یا به ئے تکیه کړی وی په ذوالحال باندے، لکه جَاءَنِي زَيْدٌ رَاكِبًا غُلَامُهُ ⑤ یا به ئے تکیه کړی وی په همزه داستفهام باندے، لکه اَضَارِبٌ زَيْدٌ عَمْرًا ⑥ یا به ئے تکیه کړی وی په مانافیه باندے، لکه مَاقَائِمٌ زَيْدٌ ۔

⑤ اسم مفعول ، په اسم مفعول کښ هم ددی خبرے دی ① داسم مفعول تعریف ② عمل داسم مفعول ③ داسم مفعول دعمل دپاره شرائط ،

① اسم مفعول هرهغه اسم ته وائی چه د فعل مضارع مجهول نه جوړ شوے وی، او دلالت کوی په داسے ذات باندے چه په هغهٔ باندے د فاعل فعل واقع شوے وی ۔

② اسم مفعول عمل کوی په شان د مضارع مجهول ۔

③ داسم مفعول دعمل شرائط په شان داسم فاعل دی ۔

⑥ صفت مشبه ، په صفت مشبه کښې هم درې خبرې دي ① تعريف د صفت مشبه ② عمل د صفت مشبه ③ د صفت مشبه د عمل د پاره شرائط ،

① صفت مشبه هر هغه اسم ته وائي چه هغه د فعل لازم نه جوړ شوے وي او دلالت کوي په دا سې ذات باندې چه معنی مصدري د هغهٔ سره قائم وي په طريق د دوام سره ، لکه حَسَنٌ او حَيِّنٌ ۔

② د صفت مشبه عمل دادے چه صرف فاعل له رفع ورکوي او د مفعول تمامنه نه کوي لکه زَيْدٌ حَسَنٌ غُلَامُهٗ ۔

③ د صفت مشبه د عمل د پاره يو شرط دے او هغه دادے چه په دې شپږو ځيزونو کښې سوا د اسم موصول نه به ئې په دې لورو کښې په يو باندې تکيه کړې وي ۔

⑦ اسم تفضيل ، په اسم تفضيل کښې هم درې خبرې دي ① تعريف د اسم تفضيل ② عمل د اسم تفضيل ③ استعمال د اسم تفضيل ،،

① اسم تفضيل هر هغه اسم ته وائي چه د مصدر نه جوړ شوے وي او دلالت کوي په دا سې ذات باندې چه په دهٔ کښې معنی مصدري زياته موجوده وي په نسبت سره غير ته ۔

② د اسم تفضيل عمل دادے چه دا به صرف فاعل له رفع ورکوي او د دې فاعل به اکثر ضمير مستتر وي ، او کله نا کله به اسم ظاهر وي ۔

③ د اسم تفضيل استعمال په درې طريقو سره دے ① يا به په مِنْ سره استعماليږي لکه زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍ ② يا به په الف لام سره استعماليږي لکه جَاءَنِيْ زَيْدُنِ الْاَفْضَلُ ③ يا به په اضافت سره استعماليږي لکه زَيْدٌ اَفْضَلُ الْقَوْمِ ۔

⑧ اسم مصدر ، په اسم مصدر کښې هم درې خبرې دي ① تعريف د اسم مصدر ② عمل د اسم مصدر ③ د اسم مصدر د عمل د پاره شرائط ،

① اسم مصدر هر هغه اسم ته وائي چه د هغې نه اسماء او افعال راوځي

اوعلامات ئې دادي چه په عربۍ کښ به ئې په شروع کښ الف لام وي اؤ آخري حرف به ئې مضموم وي، اوپه فارسۍ کښ به ئې په آخر کښ (دن) وي او یا به (تن) وي، اوپه اردو کښ به ئې په آخر کښ نون او الف وي، اوپه پښتو کښ به ئې په آخر کښ لام ساکن وي لکه اَلضَّرْبُ، زدن، مارنا، وهل، اواَلْقَتْلُ، کشتن، قتل کرنا، وژل ـ

② داسم مصدر عمل دادے چه دے عمل کوي په شان دخپل فعل، کچرې فعل لازمي وي، نو دے به صرف فاعل غواړي، اوکچرے فعل ئې متعدي وي، نو بیا به مفعول غواړي، اوکچرے فعل ئې متعدي بیک مفعول وي نو متعدي کیږي به یو مفعول ته، اوکچرے فعل ئې متعدي وي دوؤ مفعولونو ته نو دے به هم متعدي کیږي دوؤ مفعولونو ته، اوکچرے فعل ئې متعدي وي دریو مفعولونو ته نو دے به هم متعدي کیږي دریو مفعولونو ته ـ

③ داسم مصدر دعمل دپاره یو شرط دے اوهغه دادے چه اسم مصدر به په ترکیب کښ مفعول مطلق نه وي واقع شوے، که مفعول مطلق واقع شوے وي، نو بیا به دے عمل نه کوي بلکه فعل به ئې عمل کوي لکه ضَرَبْتُ ضَرْبًا زَيْدًا ـ

⑨ اسم مضاف، اسم مضاف هرهغه اسم ته وائي چه دچا طرف ته مضاف شوے وي، اودے مضاف الیه لره جر ورکوي لکه غُلَامُ زَيْدٍ ـ په کښ ددې دپاره یو څو صورتونه دي ① یا به دمضاف اودمضاف الیه په مینځ لام مقدر وي لکه غُلَامُ زَيْدٍ په اصل کښ غُلَامٌ لِزَيْدٍ وو، نو دیته اضافت لامیه وائي ② یا به دمضاف اومضاف الیه په مینځ کښ مِنْ مقدر وي لکه خَاتَمُ فِضَّةٍ، چه په اصل کښ خَاتَمٌ مِنْ فِضَّةٍ وو، نو دیته اضافت مِنّي یا بیاني وائي ③ یا به دمضاف اودمضاف الیه په مینځ کښ فِي مقدر وي لکه صَوْمُ الْيَوْمِ، چه په اصل کښ صَوْمٌ فِي الْيَوْمِ وو، نو دیته اضافت فیوي وائي ـ

⑩ اسم تام ، په اسم تام کښ هم دری خبری دی ① تعریف داسم تام
② عمل داسم تام ③ داسم تام د تماميدلو صورتونه ،
① اسم تام ، هرهغه اسم ته وائی چه په دی خپل موجوده حالت کښ لو
اسم طرف ته مضاف کيدے نه شی ۔
② داسم تام عمل دادے چه اسم تام تميزلره نصب ورکوی ۔
③ داسم تام د تماميدلو شپږ صورتونه دی ① کله نا کله به داتماميږی
په تنوين لفظی سره لکه مَا فِي السَّمَاءِ قَدْرُ رَاحَةٍ سَحَابًا ② کله نا کله به
داتماميږی په تنوين مقدره سره لکه عِنْدِيْ اَحَدَ عَشَرَ رَجُلًا ③ کله نا کله به
داتماميږی په نون د تثنيه سره لکه عِنْدِيْ قَفِيْزَانِ بُرًّا ④ کله نا کله به
داتماميږی په نون د جمع سره لکه هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْاَخْسَرِيْنَ اَعْمَالًا ،
⑤ کله نا کله به داتماميږی په هغې نون سره چه هغه نون به مشابه وی
دنون د جمع سره لکه عِنْدِيْ عِشْرُوْنَ رَجُلًا ⑥ کله نا کله به داتماميږی
په اضافت سره لکه عِنْدِيْ مِلْئُهٗ عَسَلًا ـ
⑪ اسماء کنایات ، اسماء کنایات څلوردی ، كَمْ ، كَذَا ، كَيْتَ ، ذَيْتَ ـ
كَمْ په دوه قسمه دے ① كَمْ استفهاميه ② كَمْ خبريه ،
① كَمْ استفهاميه تميزلره نصب ورکوی لکه كَمْ رَجُلًا عِنْدَكَ ،
اودغه شان كَذَا هم تميزلره نصب ورکوی لکه عِنْدِيْ كَذَا دِرْهَمًا ـ
② كَمْ خبريه تميزلره جر ورکوی لکه كَمْ مَالٍ اَنْفَقْتُ ، دكَيْتَ او ذَيْتَ مثال
قُلْتُ كَيْتَ وَذَيْتَ ، ما اووی هغه او هغه ـ

قسم دوم

در عوامل معنوی بدانکه عوامل معنوی بر دو قسم است
اول ابتداء ،، تا فصل آخر ،،

دعواملو دويم قسم عوامل معنوی دی ،

دعامل معنوی تعریف عامل معنوی هغې عامل ته وائی چه په هغې باندے
تلفظ نه شی کیدے ، البته فهم ئے کیدے شی ،،

عوامل معنوي په دوه قسمه دي

① ابتداء ، چه کيدل ديو اسم خالي دعوامل لفظيؤنه ، داعامل معنوي مبتدا اوخبر دواړو لره رفع ورکوي ، په ديکښ د نحاتودری مذهبونه دي ،

① چه عامل په مبتدا او خبر دواړوکښ معنوي دے چه هغه ابتداء ده ـ

② عامل په خبرکښ لفظي دے ځکه چه مبتدا خبرلره رفع ورکوي اوپه مبتدا کښ معنوي دے چه هغه ابتداء ده ـ

③ عامل په مبتدا اوخبر دواړوکښ لفظي دے ، ځکه چه مبتدا عامل دے په خبرکښ اوخبر عامل دے په مبتدا کښ ـ

② فعل مضارع ، چه کله خالي وي داعوامل ناصبؤ او دعوامل جازمؤنه نو دي لره به عامل معنوي رفع ورکوي ، لکه يَضْرِبُ ، تَضْرِبُ ، تَضْرِبُ ، اَضْرِبُ ، نَضْرِبُ ـ ۶ ـ

خاتمه در فوائد متفرقه که دانستن آن واجبست وآن سه فصل است
فصل اول در توابع بدانکه تابع لفظی است که دوئی از لفظ سابق باشد باعراب سابق از یک جهت ولفظ سابق را متبوع گویند وحکم تابع آن است که همیشه در اعراب موافق متبوع باشد وتابع پنج نوع است اول صفت ،، تا فصل آخر ،،

خاتمه ، په خاتمه کښ دري فصلونه دي ، اولنی فصل په بيان دتوابعوکښ دے ،،

توابع ، جمع دتَابِعٌ ده ، دتَابِعٌ لغوي معنى ده (روستو راتلونکے)

دتابع اصطلاحي معنى ، كُلُّ اِسْمٍ ثَانٍ مُعْرَبٍ بِاِعْرَابِ سَابِقِهٖ مِنْ جِهَةٍ وَّاحِدَةٍ تابع هغه دويم اسم ته وائي چه معرب وي په اعراب دمخکني اسم سره ، اودد واړو داعراب جهت هم يو وي ،، دجهت يو والي مطلب دادے کچرے اول اسم مرفوع وي بناء بر فاعليت نو دويم اسم به هم مرفوع وي بناء برفاعليت ، اوکچرے اول اسم منصوب وي بناء برمفعوليت نو دويم اسم به

هم منصوب وي بناء بر مفعوليت ،، او کچرے اول اسم مجرور وي بناء بر اضافت نو دویم اسم به هم مجرور وي بناء بر اضافت ـ

توابع په پنځه قسمه دي

① صفت ، هر هغه تابع ته وائي چه هغه د موصوف یا د موصوف د متعلق نه والے یا بد والے بیان کړي ـ

صفت په دوه قسمه دے

① صفت بحالہٖ ② صفت بحال متعلقہٖ

① صفت بحالہٖ ، هغې صفت ته وائي چه هغه د خپل موصوف حالت بیان کړي، لکه جَاءَنِيْ رَجُلٌ عَالِمٌ ـ

② صفت بحال متعلقہٖ ، هغې صفت ته وائي چه هغه د خپل موصوف حالت بیان نه کړي بلکه د خپل موصوف د متعلق حالت بیان کړي، لکه جَاءَنِيْ رَجُلٌ حَسَنٌ غُلَامُهٗ ـ

تعریف د موصوف ، موصوف هغه اسم ته وائي چه د هغهٔ صفت بیان شي ،

[illegible] صفت وي او که بد صفت وي ، چه څنګه صفت وي د هغې

مثال ، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او که بد صفت وي د هغې مثال ، اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ـ

اول قسم د صفت ، چه صفت بحالہٖ دے به موافق وي د خپل موصوف سره په لس څیزونو کښ ، لیکن موجودیږي به یکښ په یو وخت کښ څلور ،

① کچرے موصوف معرفه وي نو صفت به هم معرفه وي ② کچرے موصوف نکره وي نو صفت به هم نکره وي ③ کچرے موصوف مذکر وي نو صفت به هم مذکر وي ④ کچرے موصوف مؤنث وي نو صفت به هم مؤنث وي ⑤ کچرے موصوف مفرد وي نو صفت به هم مفرد وي ⑥ کچرے موصوف تثنیه وي نو صفت به هم تثنیه وي ⑦ کچرے موصوف جمع وي نو صفت به هم جمع وي ⑧ کچرے موصوف مرفوع وي نو صفت به هم مرفوع وي ⑨ کچرے موصوف

منصوب وی نو صفت به هم منصوب وی ③ کچرے موصوف مجرور وی نو صفت به هم مجرور وی ـ

اودویم قسم صفت، چه صفت بحال متعلقه د ے، د ے به موافق وی د خپل موصوف سره په پنځو څیزونو کښ، او په یو وخت کښ به صرف په دیکښ دوه څیزونه موجودیږي،،

① کچرے موصوف مرفوع وی نو صفت به هم مرفوع وی ② کچرے موصوف منصوب وی نو صفت به هم منصوب وی ③ کچرے موصوف مجرور وی نو صفت به هم مجرور وی ④ کچرے موصوف معرفه وی نو صفت به هم معرفه وی ⑤ کچرے موصوف نکره وی نو صفت به هم نکره وی ،،

د نکرې دپاره جمله هم صفت را تلے شي او په دې جمله کښ به یو ضمیر وی چه راجع به وی نکرې ته، لکه جَاءَ نِيْ رَجُلٌ اَبُوْهُ عَالِمٌ، په دیکښ متبوع ته موصوف او تابع ته صفت و ئیلے کیږي ـ

② تاکید، هر هغه تابع ته وائي چه هغه د متبوع حالت مضبوطوی د نسبت په اعتبار سره یا د شمول د افرادو په اعتبار سره ،،

چه د نسبت په اعتبار سره وی د هغې مثال، زَيْدٌ زَيْدٌ قَائِمٌ ،،

چه د شمول د افرادو په اعتبار سره وی د هغې مثال، جَاءَ نِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ ـ

تاکید په دوه قسمه د ے

① تاکید لفظی ② تاکید معنوی

① تاکید لفظی، هغه تاکید ته وائي چه په هغې کښ د لفظ تکرار وی، برابره خبره ده که دا تکرار په اسم کښ راغلے وی او که په فعل کښ راغلے وی او که په حرف کښ راغلے وی، د اسم دپاره مثال، جَاءَ زَيْدٌ زَيْدٌ، د فعل دپاره مثال، ضَرَبَ ضَرَبَ زَيْدٌ، د حرف دپاره مثال، اِنَّ اِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ ـ

② تاکید معنوی، هغه تاکید ته وائي چه هغه په دې اتو الفاظو کښ په یو لفظ سره راشي ،،

او هغه اته الفاظ دادی ، نَفْسٌ ، عَيْنٌ ، كِلَا وكِلْتَا ، كُلٌّ ، أَجْمَعُ ، أَكْتَعُ ، أَبْتَعُ ، أَبْصَعُ ،،

تفصیل ددی حروفو داد ے چه په نَفْسٌ او عَيْنٌ سره د مفرد او تثنیه او د جمع ټولو تاکید راتلے شی ،،

کله چه په دی سره د مفرد تاکید راشی نو دا نَفْسٌ او عَيْنٌ به هم مفرد وی، او ضمیر به ئے هم د مفرد وی لکه جَاءَ زَيْدٌ نَفْسُهُ وَعَيْنُهُ ،،

او کله چه په دی سره تاکید د تثنیه راشی نو دا نَفْسٌ او عَيْنٌ به تثنیه هم راتلے شی او جمع به هم راتلے شی لیکن ضمیر به ئے د تثنیه راځی لکه جَاءَ الزَّيْدَانِ نَفْسَاهُمَا وَعَيْنَاهُمَا ، او جَاءَ الزَّيْدَانِ أَنْفُسُهُمَا وَأَعْيُنُهُمَا ،،

او کله چه په دی سره تاکید د جمع راشی نو دا نَفْسٌ او عَيْنٌ به هم جمع راځی، او ضمیر به ئے هم د جمع راځی لکه جَاءَ الزَّيْدُوْنَ أَنْفُسُهُمْ وَأَعْيُنُهُمْ ،،

كِلَا او كِلْتَا ، كِلَا د تثنیه مذکر د تاکید د پاره راځی او مضاف کیږی به ضمیر د تثنیٔ ته لکه جَاءَ الرَّجُلَانِ كِلَاهُمَا ،،

كِلْتَا ، د تثنیه مؤنث د تاکید د پاره راځی او دا به مضاف کیږی ضمیر د تثنیٔ ته ، لکه جَاءَتِ الْمَرْأَتَانِ كِلْتَاهُمَا ، په كِلَا او كِلْتَا دواړو سره تاکید د مفرد او د جمع نه شی راتلے ،،

كُلٌّ او أَجْمَعُ په دی سره تاکید د مفرد هم راځی او د جمع هم راځی ، خو په دی دواړو سره به تاکید د هر هغه څیز راځی چه د هغی د پاره اجزاء وی حسًّا یا حکمًا .
د حسًّا د پاره مثال، جَاءَنِي الْقَوْمُ كُلُّهُمْ ، د حکمًا د پاره مثال ، اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّهُ .
أَكْتَعُ ، أَبْتَعُ ، أَبْصَعُ ، دا دری واړه د أَجْمَعُ تابع دی نه بغیر د أَجْمَعُ نه راتلے شی او نه په أَجْمَعُ باندے مقدم کیدے شی لکه جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُوْنَ أَكْتَعُوْنَ أَبْتَعُوْنَ أَبْصَعُوْنَ ، په دیکښ متبوع ته مؤکد او تابع ته تاکید وئیلے کیږی .

(۳) بدل ، بدل په لغت کښ عوض ته وائی ،

د بدل اصطلاحی معنی ، هر هغه تابع ته وائی چه هغه مقصود بالنسبت وی ،

یعنې مبدل منه او متبوع ته چه کوم نسبت شوے وی نو په دغے نسبت سره به مقصود دا بدل وی او دا مبدل منه به صرف تمهید وی ـ

بدل په څلور قسمه دے ؛ ① بدل الکل ② بدل البعض ③ بدل الاشتمال ④ بدل الغلط ،،

① بدل الکل ، هغه بدل ته وائی چه د هغهٔ او مبدل منه مصداق او مطلب یو وی لکه جَاءَ نِیْ زَیْدٌ اَخُوْكَ ـ

② بدل البعض ، هغه بدل ته وائی چه د خپل مبدل منه یو جزء او حصه وی لکه ضُرِبَ زَیْدٌ رَأْسُهٗ ـ

③ بدل الاشتمال ، هغه بدل ته وائی چه د مبدل منه کُل هم نه وی او جزء هم نه وی بلکه د مبدل منه متعلق وی لکه سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ ـ

④ بدل الغلط ، هغه بدل ته وائی چه د غلطئ نه روستو ذکر شی لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ ، په دیکښ متبوع ته مبدل منه او تابع ته بدل وئیلے کیږی ـ

④ عطف بالحرف ، هغه تابع ته وائی چه په هغی کښ معطوف او معطوف علیه دواړه مقصود بالنسبت وی او د دی دواړو په مینځ کښ یو حرف د حروفِ عَاطِفه وُنه راغلے وی لکه جَاءَ نِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو ،، په دیکښ متبوع ته معطوف علیه او تابع ته معطوف وئیلے کیږی ، او دیته عطف النسق هم وائی ـ

⑤ عطف بیان ، هغه تابع ته وائی چه هغه د متبوع وضاحت کوی ، او په هغی معنی باندے دلالت نه کوی کومه معنی چه په متبوع کښ پرته وی ، او په عَلَمْ یا په کنیت کښ چه کوم یو مشهور وی نو په هغی سره به عطفِ بیان راځی ، لکه جَاءَ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ ، په دیکښ متبوع ته مُبَیَّن او تابع ته بیان وئیلے کیږی ـ

فصل دوم دربیان منصرف وغیر منصرف ، منصرف آن است کہ ہیچ سبب از اسباب منع صرف درونہ باشد ،، تا فصل آخر ،،

او هغه اته الفاظ دادي ، نَفْسٌ ، عَيْنٌ ، كِلاَ وكِلْتَا ، كُلٌّ ، اَجْمَعُ ، اَكْتَعُ ، اَبْتَعُ ، اَبْصَعُ ،،

تفصيل ددي حروفو داد ے چه په نَفْسٌ او عَيْنٌ سره د مفرد او تثنيه او دجمع ټولو تاكيد را تلے شي ،،

كله چه په دي سره د مفرد تاكيد راشي نو دا نَفْسٌ او عَيْنٌ به هم مفرد وي ، او ضمير به ئے هم د مفرد وي لكه جَاءَ زَيْدٌ نَفْسُه وعَيْنُه ،،

او كله چه په دي سره تاكيد د تثنيه راشي نو دا نَفْسٌ او عَيْنٌ به تثنيه هم راتلے شي او جمع به هم راتلے شي ليكن ضمير به ئے د تثنيه راځي لكه جَاءَ الزَّيْدَانِ نَفْسَاهُمَا وعَيْنَاهُمَا ، او جَاءَ الزَّيْدَانِ اَنْفُسُهُمَا واَعْيُنُهُمَا ،،

او كله چه په دي سره تاكيد د جمع راشي نو دا نَفْسٌ او عَيْنٌ به هم جمع راځي ، او ضمير به ئے هم د جمع راځي لكه جَاءَ الزَّيْدُوْنَ اَنْفُسُهُمْ واَعْيُنُهُمْ ،،

كِلاَ او كِلْتَا ، كِلاَ د تثنيه مذكر د تاكيد د پاره راځي او مضاف كيږي به ضمير د تثنيه ته لكه جَاءَ الرَّجُلاَنِ كِلاَهُمَا ،،

كِلْتَا ، د تثنيه مؤنث د تاكيد د پاره راځي او دا به مضاف كيږي ضمير د تثنيه ته ، لكه جَاءَتِ الْمَرْأَتَانِ كِلْتَاهُمَا ، په كِلاَ او كِلْتَا د واړو سره تاكيد د مفرد او د جمع نه شي راتلے ،،

كُلٌّ او اَجْمَعُ په دي سره تاكيد د مفرد هم راځي او د جمع هم راځي ، خو په دي دواړو سره به تاكيد د هغه څيز راځي چه د هغي د پاره اجزاءوي حسًّا يا حكمًا ، د حسًّا د پاره مثال ، جَاءَنِيْ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ ، د حكمًا د پاره مثال ، اِشْتَرَيْتُ الْعَبْدَ كُلَّه.

اَكْتَعُ ، اَبْتَعُ ، اَبْصَعُ ، دا دري واړه د اَجْمَعُ تابع دي نه بغير د اَجْمَعُ نه راتلے شي او نه په اَجْمَعُ بانديے مقدم كيدے شي لكه جَاءَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ اَكْتَعُوْنَ اَبْتَعُوْنَ اَبْصَعُوْنَ ، په ديكښي متبوع ته مؤكد او تابع ته تاكيد وئيلے كيږي -

③ بدل ، بدل په لغت كښي عوض ته وائي ،

د بدل اصطلاحي معني ، هر هغه تابع ته وائي چه هغه مقصود بالنسبت وي ،

یعنی مبدل منه او متبوع ته چه کوم نسبت شوی وی نو په دغی نسبت سره به مقصود دا بدل وی او دا مبدل منه به صرف تمهید وی ـ

بدل په څلور قسمه دے ① بدل الکل ② بدل البعض ③ بدل الاشتمال ④ بدل الغلط ،،

① بدل الکل ، هغه بدل ته وائی چه د هغهٔ او مبدل منه مصداق او مطلب یو وی لکه جَاءَ نِیْ زَیْدٌ اَخُوْكَ ـ

② بدل البعض ، هغه بدل ته وائی چه دخپل مبدل منه یو جزء او حصه وی لکه ضُرِبَ زَیْدٌ رَأْسُهٗ ـ

③ بدل الاشتمال ، هغه بدل ته وائی چه د مبدل منه کُل هم نه وی او جزء هم نه وی بلکه د مبدل منه متعلق وی لکه سُلِبَ زَیْدٌ ثَوْبُهٗ ـ

④ بدل الغلط ، هغه بدل ته وائی چه دغلطئ نه روستو ذکر شی لکه مَرَرْتُ بِرَجُلٍ حِمَارٍ ، په دیکښ متبوع ته مبدل منه او تابع ته بدل وئیلے کیږی ـ

④ عطف بالحرف ، هغه تابع ته وائی چه په هغی کښ معطوف او معطوف علیه دواړه مقصود بالنسبت وی او ددی دواړو په مینځ کښ یو حرف د حروفِ عاطفه وُنه راغلے وی لکه جَاءَ نِیْ زَیْدٌ وَعَمْرٌو ،، په دیکښ متبوع ته معطوفٌ علیه او تابع ته معطوف وئیلے کیږی ، او دیته عطف النّسق هم وائی ـ

⑤ عطف بیان ، هغه تابع ته وائی چه هغه د متبوع وضاحت کوی ، او په هغی معنی باندے دلالت نه کوی کومه معنی چه په متبوع کښ پرته وی ، او په عَلَمْ یا په کنیت کښ چه کوم یو مشهور وی نو په هغی سره به عطفِ بیان راځی ، لکه جَاءَ اَبُوْحَفْصٍ عُمَرُ ، په دیکښ متبوع ته مُبَیَّن او تابع ته بیان وئیلے کیږی ـ

فصل دوم در بیان منصرف وغیر منصرف ، منصرف آن است که هیچ سبب از اسباب منع صرف درو نه باشد ،، تا فصل آخر ،،

دویم فصل په بیان د منصرف او غیر منصرف کښ د ے ،
اسم متمکن په اعتبار انصراف او دعدم انصراف سره **په دوه قسمه د ے**
① منصرف ② غیر منصرف
① منصرف ، هر هغه اسم ته وائی چه په هغهٔ کښ دوه اسباب د منع صرف یا یو سبب چه قائم ذی په مقام د دوؤ سببونو موجود نه وی ، لکه زَیْدٌ ۔
② غیر منصرف ، هر هغه اسم ته وائی چه په هغهٔ کښ دوه اسباب د منع صرف یا یو سبب چه قائم وی په مقام د دوؤ سببونو باندے موجود وی ، لکه عُمَرُ ، او مَسَاجِدُ ۔

اسباب د منع صرف نهه دی

عدل ، وصف ، تانیث ، معرفه ، عجمه ، جمع ، ترکیب ، وزن فعل ، الف نون زاید تان ، د دوی تعریفات مخکښ بیان شوی دی ۔

د غیر منصرف د اسبابو مثالونه

عُمَرُ ، دا غیر منصرف د ے په دهٔ کښ یو سبب عدل تقدیری دے او دویم سبب عَلم د ے ، ثُلٰثُ و مَثْلَثُ غیر منصرف دی په دې کښ یو سبب عدلِ تحقیقی د ے او دویم سبب وصف د ے ، طَلْحَةُ غیر منصرف د ے په دهٔ کښ یو سبب تانیث لفظی د ے او دویم سبب عَلم د ے ، زَیْنَبُ غیر منصرف د ے په دیکښ یو سبب تانیث معنوی د ے او دویم سبب عَلم د ے او دعَلم سره زاید علی الثلاث هم د ے ، حُبْلٰی غیر منصرف د ے په دیکښ یو سبب دے چه تانیث د ے او تانیث ئے په الف مقصوره سره د ے او دا یو سبب قائم مقام د دوؤ سببونو د ے ځکه چه یو تانیث د ے او بل لزوم د تانیث د ے ، حَمْرَاءُ غیر منصرف د ے په دیکښ یو سبب تانیث د ے او تانیث ئے په الف ممدوده سره د ے او دا یو سبب قائم مقام د دوؤ سببونو د ے ځکه چه یو تانیث د ے او بل لزوم د تانیث د ے ، اِبْرَاهِیْمُ غیر منصرف د ے په دهٔ کښ یو سبب عجمه د ه او دویم سبب عَلم د ے ، او دعَلم سره زاید علی الثلاث

هم دے ، مَسَاجِدُ ، مَصَابِيْحُ داد وايه غير منصرف دي په دې کښې يو سبب
دے چه هغه منتهى الجموع ده اودا يو سبب قائم مقام ددوؤ سببو نو دے
يو جمعيت دے او بل لزوم دجمعيت دے ، بَغْلَبَكُ غير منصرف دے په
دۀ کښې يو سبب تركيب منع صرف دے اودويم سبب عَلم دے ، اَحْمَدُ
غير منصرف دے په دۀ کښې يو سبب وزن فعل دے په اول کښې ئے يو حرف
دحروف اتين نه هم راغلے دے او په آخر کښې هغه تاء هم نه قبلوي کومه
چه دوقف په حالت کښې په هاء سره بدليږي او دويم سبب عَلم دے ، سَكْرَانُ
غير منصرف دے په دۀ کښې يو سبب الف نون زايدتان دے اودويم سبب
وصف دے اودې سره شرط دا دے چه ددې مؤنث به په وزن د فَعْلَانَة
نه وي نو د سَكْرَانُ مؤنث سَكْرٰى دے چه په وزن د فَعْلٰى دے اود فَعْلَانَة
په وزن نه دے ، عُثْمَانُ غير منصرف دے په دۀ کښې يو سبب الف نون
زايدتان دے اودويم سبب عَلم دے ـ ؎ ـ

فصل سوم درحروف غيرعامله وآن شانزده قسم است ، تا فصل آخر ،

دريم فصل دحروف غير عاملو په بيان کښې دے ››

دحروف غير عامله تعريف حروف غير عامله هغې حروفو ته وائي
چه دوفع دنصب اودجزم عمل نه کوي ، په حروف غير عاملو کښې اول نمبر
حروف تنبيه دي ››

① حروف تنبيه ، دتنبيه لغوي معنى ده چالره بيدارول ،
په اصطلاح کښې حروف تنبيه هغې حروفو ته وائي چه دهغې په ذريعه سره
مخاطب بيداركړے شي ـ
حروف تنبيه درې دي ، اَلَا ، اَمَّا ، هَا ، داحروف په جمله بانذې داخليږي ،
د اَلَا مثال ، اَلَا زَيْدٌ قَائِمٌ ، خبردار زيد ولاړ دے ، د اَمَا مثال ، اَمَا عَمْرٌو نَائِمٌ
د هَا مثال ، هَا زَيْدٌ نَائِمٌ ـ

② حروف ايجاب ، دايجاب لغوي معنى ده ثابتول ،

په اصطلاح کښ حروف ایجاب هغې حروفوته وائي چه هغه دخپل ماقبل جملې دثابتولو دپاره راځي۔

حروف ایجاب شپږدي، نَعَمْ ، بَلٰی ، اَجَلْ ، اِیْ ، جَیْرِ ، اِنَّ ،،

نَعَمْ ، د ماقبل جملې دثابتولو دپاره راځي، برابره خبره ده که ماقبل جمله مثبت وي اوکه منفي وي، د مثبت مثال، لکه یوسړے ستانه تپوس اوکړے چه ذَهَبَ عَمْرٌو،نوته ورته په جواب کښ اووائے چه نَعَمْ ، د منفي مثال لکه یو سړے ستانه تپوس اوکړے چه مَاقَامَ زَیْدٌ نوته ورته په جواب کښ اووائے چه نَعَمْ ۔

بَلٰی ، د ماقبل جملې دنفي دتوړ دپاره راځي ، لکه الله رب العزت فرمائي اَلَسْتُ بِرَبِّکُمْ، آیا زۀ ستاسو رب نه یم ؟ نو په جواب کښ ورته اوویلے شو بَلٰی اَنْتَ وَرَبُّنَا ولې نه! ته زمونږ رب يې ۔

اِیْ ، داستفهام نه روستو داثبات دپاره راځي اودڅې سره قسم هم لازمي دے،لکه څوک تپوس اوکړے چه اَقَامَ زَیْدٌ آیا زید ولاړ دے؟ نوته ورته په جواب کښ اووائے چه اِیْ وَاللّٰہِ اوؤ په الله دے دے قسم وي چه زید ولاړ دے ۔

اَجَلْ، جَیْرِ ، اِنَّ ، دادرې واړه په مثل د نَعَمْ دي خو د اَجَلْ اود جَیْرِ سره قسم لازمي نه دے،اود اِنَّ استعمال کم دے ۔

⑥ حروف تفسیر ، حروف تفسیر هغې حروفوته وائي چه د ماقبل جملې دپټ والي دلرې کولو دپاره راځي ۔

حروف تفسیر دوه دي، اَیْ ، اَنْ ۔

اَیْ ، د مفرد دتفسیر دپاره هم راځي اودجملې دتفسیر دپاره هم راځي، چه د مفرد دتفسیر دپاره راغلے وي دهغې مثال لکه څوک اووائے جَاءَ اَبُوْتُرَابٍ اَيْ عَلِي ، چه د جملې دتفسیر دپاره راغلے وي دهغې مثال لکه څوک اووائے قُطِعَ رِزْقُهٗ اَيْ مَاتَ ۔

آنْ . په آنْ سره د داسې څيز تفسيرکيږي چه هغه په معنی د قول سره وی لکه په قرآن کښ الله رب العزت فرمائی، وَنَادَيْنَاهُ آنْ يَا اِبْرَاهِيْمُ -

۴ حروف مصدريه، حروف مصدريه هغې حروفوته وائی چه هغه مابعد جملې لره يعنی فعل لره په تاويل د مصدر سره گرځوی -

حروف مصدريه درې دی، مَا ، آنْ ، آنَّ ،

مَا او آنْ په جمله فعليه باندې داخليږی او هغې لره په تاويل د مصدر سره گرځوی ، د مَا مثال لکه ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ يعنی بِرُحْبِهَا ،

د آنْ مثال لکه اَعْجَبَنِيْ آنْ ضَرَبْتَ اَیْ ضَرْبُكَ -

آنَّ ، په جمله اسميه باندې داخليږی او هغې لره په تاويل د مصدر سره گرځوی لکه عَلِمْتُ اَنَّكَ قَائِمٌ اَیْ عَلِمْتُ قِيَامَكَ -

۵ حروف تحضيض ، د تحضيض لغوی معنی ده برانگيخته کول ، اماده کول ،،

حروف تحضيض څلور دی، اَلَّا ، هَلَّا ، لَوْمَا ، لَوْلَا ،

دا څلور واړه به هميشه د کلام په شروع کښ راځی برابره خبره ده که فعل ماضی وی او که فعل مضارع وی ،

فرق پکښ دا دے چه کله په ماضی باندې داخل شی نو په دوی سره د مخاطب پښيمانه کول مقصود وی لکه هَلَّا صَلَّيْتَ الْعَصْرَ تا د ماښام موځ ولې اونه کړو ، ددې وجې نه دې حروفوته حروف تنديم هم وئيلې کيږی ،،

او چه کله په فعل مضارع باندې داخل شی نو په دوی سره مخاطب لره راپارول او اماده کول مقصود وی لکه هَلَّا تُصَلِّيْ ته ولې موځ نه کوے ددې وجې نه ديته حروف تحضيض هم وائی ځکه چه د تحضيض معنی ده پارول -

۶ حرف توقع ، توقع مصدر دے د باب تفعُّل نه ، تَوَقَّعَ ، يَتَوَقَّعُ تَوَقُّعًا ، لغوی معنی ئې ده اميد کول ،

حرف توقع يو حرف دے قَدْ -

داچه کله په فعل ماضی باندے داخل شی نو داد تحقیق مع التقریب دپاره راځی، دتقریب معنی ده چه ماضی په حال ته نزدی کوی، لکه قَدْ رَكِبَ زَيْدٌ ،

اوچه کله په فعل مضارع باندے داخل شی نو د تحقیق په معنی هم راځی او د تقلیل په معنی هم راځی ، د تحقیق دپاره مثال قَدْ يَعْلَمُ اللّٰهُ الْمُعَوِّقِيْنَ ، د تقلیل دپاره مثال، اِنَّ الْكَذُوْبَ قَدْ يَصْدُقُ ـ

⑦ حروف استفهام ، حروف استفهام دپوښتنے دتپوس دپاره راځی ، حروف استفهام درے دی ، مَا ، أ ، هَلْ ،

دادے واړه دجملے په شروع کښ راځی برابره خبره ده که جمله اسمیه وی او که جمله فعلیه وی ، دجمله اسمیه مثال، اَزَيْدٌ قَائِمٌ؟ دجمله فعلیه مثال هَلْ قَامَ زَيْدٌ ؟ ـ

⑧ حرف ردع ، د ردع لغوی معنی ده منع کول ، لکه تا ته څوک او وائی چه اِضْرِبْ زَيْدًا، نو ته ورته په جواب کښ او وائے كَلَّا، هرګز نه ، او دا د حقا په معنی باندے هم راځی لکه كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ بے شکه زر ده چه تاسو به پوهه شئ ـ

⑨ نون تنوین ، نون تنوین هغی نون ساکن ته وائی چه دکلمے د آخری حرف تابع وی، لکه عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ـ

نون تنوین په پنځه قسمه دے

① تنوین تمکن ② تنوین تنکیر ③ تنوین عوض ④ تنوین مقابله ⑤ تنوین ترنم

① تنوین تمکن ، هغی تنوین ته وائی چه داسم په منصرف کیدو باندے دلالت کوی، لکه زَيْدٌ ـ

② تنوین تنکیر ، هغی تنوین ته وائی چه داسم په نکره والی باندے دلالت کوی، لکه صَهٍ غلی شه په یو وخت کښ ـ

③ تنوین عوض ، هغی تنوین ته وائی چه په مضاف باندے د مضاف الیه په عوض کښ راشی، لکه يَوْمَئِذٍ په اصل کښ يَوْمَ اِذْ كَانَ كَذَا او د ـ

(۸) تنوین مقابله، هغې تنوین ته وائي چه د جمع مؤنث سالم په آخر کښ راغلې وي، او دا دهغه نون په مقابله کښ راځي کوم نون چه په جمع مذکر سالم کښ وي، لکه مُسْلِمَاتٌ ـ

دغلو واړه داسم خاصه ده يعنې داسم په آخر کښ راځي ـ

(۹) تنوین ترنم، هغې تنوین ته وائي چه د اشعارو او د مصرعو په آخر کښ د آواز دخائسته والي دپاره راځي لکه اَقِلِّي اللَّوْمَ عَاذِلَ وَالْعِتَابَنْ، وَقُوْلِي اِنْ اَصَبْتُ لَقَدْ اَصَابَنْ ـ

(۱۰) نون تاکید، نون تاکید هغې نون ته وائي چه په امر او فعل مضارع کښ د تاکید معنی پیدا کوي ـ

نون تاکید په دوه قسمه دے

(۱) نون ثقیله (۲) نون خفیفه

د نون ثقیله مثال، لَيَضْرِبَنَّ، اِضْرِبَنَّ، د نون خفيفه مثال، لَيَضْرِبَنْ، اِضْرِبَنْ

(۱۱) حروف زیادت، حروف زیادت هغې حروفو ته وائي کچرے هغه د کلام نه حذف کړے شي نو د کلام په مقصودي معنی کښ څه خلل او نقصان نه راځي ـ

حروف زيادت اته دي، اِنْ، اَنْ، مَا، لَا، مِنْ، كَ، بِ، لِ ـ

(۱۲) حروف شرط، حروف شرط دوه دي، اَمَّا، لَوْ،

اَمَّا، د اجمال د تفسیر دپاره راځي، او دې په جواب کښ فَا ضرور راځي، لکه فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ، نو پته نه لګي چه د شقي نه څوک مراد دي او د سعید نه څوک مراد دي، نو په اَمَّا سره دهغې تفصیل کوي، چه فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ وَاَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ ـ

لَوْ، راځي دپاره د انتفاء د ثاني د وجې د انتفاء د اول نه، لکه لَوْ كَانَ فِيْهِمَا اٰلِهَةٌ اِلَّا اللّٰهُ لَفَسَدَتَا ـ

(۱۳) لَوْلَا، لَوْلَا راځي د انتفاء د ثاني د وجې د وجود د اول نه، لَوْلَا عَلِيٌّ

تَهۡلَكُ عَمۡرٌو، كچرے علی نه وے نو عمر به هلاک شوے وو ـ

⑭ لام مفتوحه، لامِ مفتوحه د تاکید د پاره راځی، برابره خبره ده کهٔ په اسم باندے داخل شوے وی او کهٔ په فعل باندے، د اسم مثال، لَاَنۡتُمۡ اَشَدُّ رَهۡبَةً، د فعل مثال، اِنَّ رَبَّكَ لَيَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ ـ

⑮ مَا، مَا په معنیٰ د مَادَامَ سره دے، لکه اَقُوۡمُ مَاجَلَسَ الۡاَمِيۡرُ ـ

⑯ حروف عاطفه، د عطف لغوی معنیٰ ده مايله کول،،

دوی ته حروف عطف ځکه وائی چه دوی معطوف لره په حکم او اعراب کښ د معطوفٌ علیه په طرف باندے مایله کوی ـ

حروف عطف لس دی، وَ ۱، فَ ۲، ثُمَّ ۳، حَتّٰی ۴، اِمَّا ۵، اَوۡ ۶، اَمۡ ۷، لَا ۸، بَلۡ ۹، لٰكِنۡ ۱۰ ـ

وَ، د مطلق جمع د پاره راځی، برابره خبره ده کهٔ ترتیب والے پکښ وی او کهٔ نه وی، لکه جَاءَ نِیۡ زَيۡدٌ وَّعَمۡرٌو ـ

فَ، د ابغیر د مهلت نه د ترتیب د پاره راځی، لکه جَاءَ نِیۡ زَيۡدٌ فَعَمۡرٌو ـ

ثُمَّ، د ترتیب د پاره راځی خو سره د مهلت نه، لکه دَخَلَ زَيۡدٌ ثُمَّ عَمۡرٌو ـ

حَتّٰی، دا هم د ثُمَّ په شان د ترتیب او مهلت د پاره راځی صرف فرق پکښ دا دے چه په حَتّٰی کښ د ثُمَّ په نسبت سره مهلت کم وی، لکه مَاتَ النَّاسُ حَتَّی الۡاَنۡبِيَاءُ ـ

اَمَّا، اَوۡ، اَمۡ، دا درے واړه په دے خبره باندے دلالت کوی چه په معطوف او معطوفٌ علیه کښ یو لره حکم ثابت دے په طریقے د عدم تعین سره، لکه جَاءَ نِیۡ زَيۡدٌ اَوۡعَمۡرٌو ـ

اَمۡ په دوه قسمه دے

① اَمۡ متصله ② اَمۡ منقطعه

① اَمۡ متصله، هغی ته وائی چه د هغی نه مخکښ همزه د استفهام راغلی وی، لکه ءَاَنۡتُمۡ تَخۡلُقُوۡنَهٗ اَمۡ نَحۡنُ الۡخٰلِقُوۡنَ ـ

② اَمْ منقطعه، هغې ته وائی چه دهغې نه مخکښې همزه داستفهام نه وی راغلی، هغه دبَلْ په شان داِضْرَاب په معنی باندے راځی ـ

لَا ، بَلْ ، لٰکِنْ ، دادری واړه په دی خبره باندے دلالت کوی چه په معطوف او معطوف علیه کښې یو لره حکم ثابت دے په طریقې دتعین سره، لکه جَاءَنِیْ رَجُلٌ لَا اِمْرَأَۃٌ، او قَامَ خَالِدٌ لٰکِنْ بَکْرٌ ـ

بحث مستثنیٰ بدانکه مستثنیٰ لفظیست که مذکوره باشد بعد الّا واخوات آن ،،

(د مستثنیٰ تعریف) مستثنیٰ دباب استفعال نه داسم مفعول صیغه ده، لغوی معنیٰ ئے ده ویستلے شوے، جداکړے شوے ،،

په اصطلاح کښې مستثنیٰ هر هغه اسم ته وائی چه ذکر شوے وی د اِلّا نه روستو یا داخوات د اِلّا نه روستو دپاره ددی چه دلالت اوکړی په دی خبره باندے چه مستثنیٰ منه طرف ته کوم څیز منسوب دے هغه مستثنیٰ طرف ته منسوب نه دے ـ

اخوات د اِلّا دادی، غَیْرَ ، سِوٰی ، سِوَاءَ ، حَاشَا ، خَلَا ، عَدَا ، مَاخَلَا ، مَاعَدَا ، لَیْسَ ، لَایَکُوْنُ ـ

د مستثنیٰ داعراب نه مخکښې په طور دتمهید باندے دخلورو خبرو پیژندل ضروری دی، ① تعریف د مستثنیٰ او مستثنیٰ منه اوحرف استثناء ، ② مستثنیٰ په دوه قسمه ده ③ د مستثنیٰ منه په اعتبار سره مستثنیٰ په دوه قسمه ده ④ په کوم کلام کښې چه استثناء وی هغه کلام په دوه قسمه دے ـ

① مستثنیٰ ، هغې څیز ته وائی چه هغه ویستلے شوے وی ،

مستثنیٰ منه ، هغې څیز ته وائی چه دهغه نه یو څیز ویستلے شوے وی ،

حرف استثناء ، چه دهغې په ذریعه باندی ویستلے شی ،

لکه په جَاءَنِیْ الْقَوْمُ اِلَّا زَیْدًا کښې زَیْدًا مستثنیٰ دے ځکه چه په قوم

باندے کوم حکم لګولے شوے دے نو دهغې نه ویستلے شوے دے، اوقوم مستثنیٰ منه دے ځکه چه ددهٔ نه زید ویستلے شوے دے په مجیئت کښ، اوالا حرف استثناء دے ځکه چه ددهٔ په ذریعه باندے زید د کوم د حکم نه اوویستلے شو۔

۲ **مستثنیٰ په دوه قسمه ده** ۱ مستثنیٰ متصل ۲ مستثنیٰ منقطع

۱ مستثنیٰ متصل، هغې ته وائی چه مستثنیٰ په مستثنیٰ منه کښ داخل وی، اود اِلّا یا داخوات د اِلّا په ذریعے سره د مستثنیٰ منه نه اوویستلے شی لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا۔

۲ مستثنیٰ منقطع، هغې ته وائی چه مستثنیٰ په مستثنیٰ منه کښ داخل نه وی او د اِلّا یا داخوات د اِلّا په ذریعے سره د مستثنیٰ منه نه اوویستلے شی، لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا۔

۳ د مستثنیٰ منه په اعتبار سره مستثنیٰ **په دوه قسمه ده،**

۱ مستثنیٰ مُفَرَّغ ۲ مستثنیٰ غیر مُفَرَّغ

۱ مستثنیٰ مفرغ، هغې مستثنیٰ ته وائی چه په هغې کښ مستثنیٰ منه ذکر نه وی، لکه مَاجَاءَ فِيْ اِلَّا زَيْدٌ، دیته مفرغ ځکه وائی چه په دیکښ مستثنیٰ منه ذکر نه وی نو عامل مستثنیٰ ته فارغ شوے وی۔

۲ مستثنیٰ غیر مفرغ، هغې مستثنیٰ ته وائی چه په هغې کښ مستثنیٰ منه ذکر وی، لکه مَاجَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا، دیته غیر مفرغ ځکه وائی چه په دیکښ مستثنیٰ منه ذکر وی نو عامل مستثنیٰ ته نه وی فارغ شوے۔

۴ په کوم کلام کښ چه استثناء وی **هغه کلام په دوه قسمه دے**

۱ کلام موجب ۲ کلام غیر موجب

۱ کلام موجب، هغې کلام ته وائی چه په هغې کښ نفی، یا نهی، یا استفهام نه وی راغلے، لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا۔

۲ کلام غیر موجب، هغې کلام ته وائی چه په هغې کښ نفی، یا نهی، یا استفهام

راغلی وی، لکه مَا جَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا ـ

خلورم قسم دا ،

مستثنٰی په اعتبار داعراب سره په **څلورو صورتونو کښې منصوب وی** ؛

① مستثنٰی په اِلّا نه روستو، او کلام موجب وی، نو مستثنٰی به منصوب وی، لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا زَيْدًا ـ

① هرکله چه مستثنٰی متصل وی او واقع شوی وی د اِلّا نه روستو، برابره

② هرکله چه مستثنٰی منقطع وی او واقع شوی وی د اِلّا نه روستو، نو مستثنٰی به منصوب خبره ده که کلام موجب وی او که کلام غیر موجب وی، نو مستثنٰی به منصوب وی، دکلام موجب مثال، جَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا ، دکلام غیر موجب مثال، مَا جَاءَ فِي الْقَوْمُ اِلَّا حِمَارًا ـ

③ هرکله چه مستثنٰی د اِلّا نه روستو واقع شوی وی او مستثنٰی په مستثنٰی منه باندے مقدم وی، برابره خبره ده که کلام موجب وی او که کلام غیر موجب وی، نو مستثنٰی به منصوب وی، دکلام موجب مثال، جَاءَنِي اِلَّا زَيْدًا الْقَوْمُ، دکلام غیر موجب مثال، مَا جَاءَنِي اِلَّا زَيْدًا اِلْقَوْمُ ـ

④ هرکله چه مستثنٰی د خَلَا او عَدَا نه روستو واقع شوی وی نو د اکثر علماءو په نزد باندے به دا منصوب وی، ځکه چه خَلَا او عَدَا افعال دی، په دوی کښې ضمیر دے هغه به ورله فاعل شی او مستثنٰی به ورله مفعول به شی نو ځکه به منصوب وی، لکه جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدًا او عَدَا زَيْدًا ـ

او بعض علماء وائی، هرکله چه مستثنٰی واقع شوی وی روستو د خَلَا، او عَدَا نه، نو مستثنٰی به مجرور وی، لکه جَاءَنِي الْقَوْمُ خَلَا زَيْدٍ وعَدَا زَيْدٍ، مجرور به ځکه وی چه خَلَا او عَدَا حروف جاره دی او حروف جاره خپل مدخول لره جر ورکوی ـ

⑤ هرکله چه مستثنٰی د مَا خَلَا ، مَا عَدَا ، لَيْسَ ، لَا يَكُوْنُ، نه روستو واقع شوی وی نو په هرحال کښې به مستثنٰی منصوب وی، ځکه چه په مَا خَلَا او مَا عَدَا کښې مَا مصدریه ده او دا په فعل باندے داخلیږی او په دوی کښې

منیر دے هغه به ورله فاعل شی اودا مستثنیٰ به ورله مفعول به شی، لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ مَاخَلَا زَيْدًا او جَاءَ فِي الْقَوْمُ مَاعَدَا زَيْدًا ـ

او لَيْسَ لَا يَكُوْنُ نه به روستو مستثنیٰ ځکه منصوب وی چه دا افعال ناقصه دی او دوی خبر منصوب غواړی نو په لَيْسَ او لَا يَكُوْنُ کښ ضمير دے هغه به ورله اسم شی اودا مستثنیٰ به ورله خبر شی، لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ لَيْسَ زَيْدًا، وجَاءَ فِي الْقَوْمُ لَا يَكُوْنُ زَيْدًا ـ

③ هر کله چه مستثنیٰ واقع شی روستو د اِلَّا نه، او مستثنیٰ منه ذکر وی او کلام غیر موجب وی، نو په دی صورت کښ به مستثنیٰ منصوب هم ویلے شی او د ماقبل نه به ئے بدل هم جوړ ولے شی، د منصوب مثال، مَاجَاءَ فِيْ أَحَدٌ اِلَّا زَيْدًا، د بدل مثال، مَاجَاءَ فِيْ أَحَدٌ اِلَّا زَيْدٌ ـ

③ هر کله چه مستثنیٰ مفرغ وی، یعنی مستثنیٰ منه مذکور نه وی، او کلام غیر موجب وی، نو په دی صورت کښ به مستثنیٰ د عامل مطابق راځی، کچرے عامل تقاضه د رفع کوی نو مستثنیٰ به مرفوع وی لکه مَاجَاءَ فِي اِلَّا زَيْدٌ، کچرے عامل تقاضه د نصب کوی نو مستثنیٰ به منصوب وی لکه مَارَأَيْتُ اِلَّا زَيْدًا، کچرے عامل تقاضه د جر کوی نو مستثنیٰ به مجرور وی لکه مَامَرَرْتُ اِلَّا بِزَيْدٍ ـ

④ هر کله چه مستثنیٰ د غَيْرُ، سِوٰی، سِوَاءَ، حَاشَا، نه روستو واقع شی، نو مستثنیٰ به مجرور وی، لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ و سِوٰی زَيْدٍ و سِوَاءَ زَيْدٍ و حَاشَا زَيْدٍ ـ

د لفظِ غَيْرُ اعراب

د غَيْرُ اعراب په شان د مستثنیٰ دے، کچرے د اِلَّا په ځائے باندے لفظ د غَيْرُ واقع شی نو د دی به هغه اعراب وی کوم چه د مستثنیٰ وو او د دی نه روستو چه کوم اسم راغلے وی نو هغه به مجرور وی ـ

① کچرے غَيْرُ واقع شی په مستثنیٰ متصل کښ، او کلام موجب وی نو غَيْرُ به منصوب وی، لکه جَاءَ فِي الْقَوْمُ غَيْرَ زَيْدٍ ـ

② کچرے غَيْرُ واقع شی په مستثنیٰ منقطع کښ نوغَيْرُ به منصوب وی، لکه جَاءَنِی الْقَوْمُ غَيْرَ حِمَارٍ۔

③ کچرے غَيْرُ واقع شی په مستثنیٰ متصل کښ، او مستثنیٰ په مستثنیٰ منه بانذے مقدم وی، او کلام غیر موجب وی، نوغَيْرُ به منصوب وی، لکه مَاجَاءَنِی غَيْرَ زَيْدٍ الْقَوْمُ۔

④ کچرے غَيْرُ واقع شی په داسے مستثنیٰ کښ، چه مستثنیٰ منه مذکور وی او کلام غیر موجب وی، نوغَيْرُ منصوب هم وئیلے شی، لکه مَاجَاءَنِی اَحَدٌ غَيْرَ زَيْدٍ، او د ماقبل نه ئے بدل هم جوړولے شی، لکه مَاجَاءَنِی اَحَدٌ غَيْرُ زَيْدٍ۔

⑤ کچرے غَيْرُ واقع شی په داسے مستثنیٰ کښ، چه مستثنیٰ منه مذکور نه وی او کلام غیر موجب وی، نو د غَيْرُ اعراب به د عامل مطابق راځی، لکه مَاجَاءَنِی غَيْرُ زَيْدٍ، مَارَأَيْتُ غَيْرَ زَيْدٍ، مَامَرَرْتُ بِغَيْرِ زَيْدٍ ــ ۞ ــ

فائده لفظ د غَيْرُ واضع وضع کړے دے د صفت دپاره، او کله ناکله د استثناء دپاره هم راځی، لکه جَاءَنِی الْقَوْمُ غَيْرَ اَصْحَابِكَ راغے قوم ماته مګر ستا ملګری نه۔

او لفظ د اِلَّا واضع وضع کړے دے د استثناء دپاره، او کله ناکله د صفت په معنیٰ هم راځی، لکه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ نشته دے لائق د عبادت سوا د الله نه، په دی صورت کښ اِلَّا په معنیٰ د غَيْرُ سره دے یعنی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اَیْ غَيْرُ اللّٰهِ دلته د استثناء معنیٰ نه صحیح کیږی ځکه کچرے اِلَّا په معنیٰ د استثناء شی نو اِلٰهَ به مستثنیٰ منه شی او لفظ الله به مستثنیٰ شی نوبیا مستثنیٰ په دوه قسمه ده، مستثنیٰ متصل، مستثنیٰ منقطع، نو دلته نه مستثنیٰ متصل صحیح کیږی او نه مستثنیٰ منقطع صحیح کیږی، ځکه کچرے د اِلٰه نه مراد اٰلِهَةٌ برحقه شی نو مستثنیٰ متصل به شی، معنیٰ به داشی چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ نشته دے اٰلِهَةٌ برحقه مګر الله دے نو د الله سره به اوّل نور اٰلِهَةٌ برحقه او منلے شی او بیا به تری الله مستثنیٰ کړے شی نو دا د توحید سره منافی ده ځکه چه د الله سره نور

الٰهۀ برحقه نشته دے نه ابتداءً او نه انتهاءً ،

اوکچرے دالٰهٔ نه مراد الٰهۀ باطله شي نو مستثنیٰ منقطع به شي معنیٰ به داشي چه لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ نشته دے الٰهۀ باطله مګر الله دے، نودلته به د الٰهۀ باطله نفي راشي خود الٰهۀ برحقه نفي به رانه شي، نو دا هم دتوحید سره منافي دہ، اوچه اِلَّا به معنیٰ دغَيْرُ صفتي واخستلے شي نو معنیٰ به داشي چه لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللّٰهُ نشته دے لائق دعبادت سوا دالله نه، که حق وي اوکه باطل وي یعنې نهٔ حق معبود نشته اونهٔ باطل معبود نشته، نو توحید به کامل طریقې سره ثابت شو ۔ ؟ ؟

وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ ٥

وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ ٥

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ٥

وَتُبْ عَلَيْنَا اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ٥

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا ٥

مولانا محمد اکبر حقانی

فاضل جامعه حقانیه اکوړه خټک

مهتمم مدرسه امام ابویوسف

ملا یوسف چوک بونیر

۱۱ صفر المظفر ۱۴۳۹ ھ

۱-۱۱-۲۰۱۷

بروز بدھ



خوشخبری

دعلوم نبوّت طلباؤته او دعلم الصرف او نحوی شوق لرونکوته اطلاع ورکولے کیږی چه زمونږ په دی مدرسه امام ابویوسفؒ سرملنګ روډ ملایوسف چوک بونیرکښ هرکال دصرف او نحوی یوجامعه او مفیده دوره کیږی ،،

تدریسی خدمات مهتمم مدرسه هذا

مولانا محمد اکبر حقانی سرانجاموی ،

دادوره دوفاق المدارس دامتحاناتونه روستوشروع کیږی اود ۱۵ رمضان المبارک پورے جاری وی ،

دخواهشمندو طلباءکرامو په خدمت کښ عرض دے چه ددی نادرے موقعی نه فائده واخلئ اوخپله صرفی او نحوی تنده ماته کړئ ۔

ازطرف : منتظمین مدرسه هذا ،،